د ابن خلدون، ژوند، اند او فلسفه



www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

ليکوال: ملک اشفاق

ژباړن: زاهد خليلي

بسم الله الرحمن الرحيم

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

لیکوال: ملک اشفاق

ژباړن: زاهد خلیلي zahidkhalili@yahoo.com

کمپوزر: په خپله ژباړن

ډیزاین چارې: رحمن الله بهیر

خپرندوی: مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد

بریښنا لیک: Momand.books@gmailcom

چاپ کال: ۱۳۹۲ / ۲۰۱۳

چاپ وار: لومړی

چاپځای: د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

د بیا چاپ حقونه د خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

فهرست

د ژباړن خبرې..5
تقریظ...5
د لیکوال خبرې 5
کورنۍ یې..5
د علامه عبدالرحمن ابن خلدون زوکړه 5
ښوونه او روزنه 5
لومړی درباري دنده...5
اندلس ته تګ...5
د ختیځ په لور 5
په مصر کې قاضي مقرریدل 5
د قاضي له دندې لیرې کول...5
ادبي مصروفیات...5
د بیت المقدس سفر..5
د امیر تیمور سره لیدل..5
د امیرتیمور نه وروسته د قاهرې په لور.......................................5
۲۳ کاله په مصر کې..5

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون، ژوند، اند او فلسفه
دويمه برخه..6
ابن خلدون يو فلسفي، تاريخپوه او ټولنپوه 6
د ټولنپوهنې بنسټ ايښودونکی 6
ټولنيزه نظريه 6
د ابن خلدون ټولنيزه فلسفه..6
د عصبيت نظريه 6
د قومونو د عروج او زوال عوامل 6
ټولنه او کلتور 6
د حکومت نظريه 6
د حکومت پراختيا 6
د حکومت ډولونه...6
ديني سياست يا خلافت 6
د معاشاتو سرچينې...6
علوم ـ د فکر د حرکت پايله ده...6
ديني او طبيعي علوم 6
د تاريخ فلسفه..6
خلافت...6
د خلافت وجوب...6
د امام يا خليفه ټاکل..6
د امامت يا خلافت شرائط 6
ولي عهد ټاکل 6
د دوه خلافتونو موجوديت 6
يو نمونه يې حکومت..6
د قانون تصور..6

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د حکومت داخلي نظام 7
اقتصادي مسائل 7
د ماحول نظریه 7
د زده کړې فلسفه 7
د علم تصور 7
د علومو ډولونه 7
د علم ذریعي.. 7
د زده کړې موخې 7
په تعلیمي نصاب باندې نیوکه.. 7
د تدریس طریقه 7
د ښوونکي او زده کوونکي اړیکې 7
د سزا ورکول طریقه.. 7
د علم په لاسته راوړلو کې د سفر اهمیت 7
علوم 7
د علم زده کړه یو صفت دی.. 7
د تصوف علم.. 7
د تعبیرالرویا علم 7
الجبر.. 7
ریاضي او هندسه.. 7
د منطق علم.. 7
د طبیعاتو علم 7
د طب علم.. 7
ابن خلدون او د جغرافیي علم 7
www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ډالۍ

هغو ته چې د لویديځ لویدلي او ویجاړوونکي ټولنیز او سیاسي اخلاق یې پیژندلي دي.

ز.خ

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ژباړن خبرې

مسلمانو پوهانو نړۍ ته په هر علمي ډګر کې ډېر خدمتونه کړي دي، داسې پوهان لرو، چې د زیاترو علومو بنسټونه یې ایښي دي، په خپلو افکارو او لیکنو سره یې د نړۍ نقشه بدله کړې ده او د خپلو لیکنو په واسطه یې علمي انقلابونه راوستي دي.

په منځنیو پیړیو کې، چې لویدیځ د جهالت په تورتم او تیارو کې ډوب وو، د لویدیځ برعکس منځنۍ پیړۍ په ختیځه اسلامي نړۍ کې د رڼا او روښنایۍ څخه ډکې وې، علمي څیړنې او لیکنې کیدې، مسلمانو پوهانو په مختلفو علومو کې کتابونه ولیکل او په دې کار سره یې راتلونکي اسلامي امت ته ویاړونه پریښودل.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

علامه ابن خلدون د هغو سترو علماؤ څخه دی، چې په علومو کې ډېرې لاسته راوړنې لري، هغه دېولنپوهنې د علم د لومړنیو پوهانو څخه شمېرل کیږي، هغه په لومړي ځل د تاریخ د فلسفې اساس کېښود، د تاریخ د علم په اړه یې زیاتې څرګندونې وکړې، چې (مقدمه) یې یو شهکار اثر ګڼل کیږي په داسې حال کې چې دده څخه مخکې هیڅ عالم د تاریخ په اړه څرګندونې نه درلودې، ابن خلدون په لومړي ځل د قومونو د عروج او زوال عوامل وڅېړل، د ښوونې او روزنې، جغرافیې، حکومت کولو او نورو موضوعاتو په اړه یې لیکل وکړل.

په پښتو ژبه کې د مسلمان پوهانو د ژوند او فلسفو په اړه ډېر کم کتابونه لیکل شوي یا ژباړل شوي دي، زموږ اکثره پښتانه خپل مسلمان اتلان په درست ډول نه پیژني؛ ځکه، چې کار ورته نه دی شوی؛ خو، برعکس په کتابتونونو کې اکثره غیر علمي کتابونه موندل کیږي، د بې مفهومه شعري ټولګو، غورچاڼونو او بې معنا ناولونو کتابونه زیات موجود دي، که شعر یا ناول تاریخي، سیاسي او اخلاقي اړخ ولري، بیا هم څه به په کې وموندل شي، کنه ددې ..... څخه هیڅ ګټه نه شي ترلاسه کیدای.

د قلم د خاوندانو څخه مې غوښتنه داده، چې پښتو ژبه په علمي آثارو ښکلې کړي، تر څو نوی ځوان نسل د علمي پرمختګ په لاره یون وکړای شي، خپل مسلمان اتلان او پوهان وپیژني، د هغوی د بریا رازونه خپل او مبارزه، فکر او ژوند یې خپل سرمشق وګرځوي.

د کتاب لیکوال، ملک اشفاق د ارود ژبې تکړه لیکوال دی، مخکې یې هم په پښتو ژبه د ځینو فیلسوفانو د ژوند په اړه کتابونه ژباړل شوي دي، په اردو ادب او سیاست کې دوه ماستری لري، زما ژباړه کیدای شي، ځینې نیمګړتیاوې ولري، چې د هغې ښښنه غواړم.

په درنښت

د پښتو ژبې د علمي پرمختګ په هیله

زاهدخلیلي

www.sikaraam.com د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ښوونې او روزنې د پوهنځي د تاریخ دیپارتمنت د دریم کال زده کړیال

تقریظ

په اسلامي امت کې ډېر داسې پوهان شته، چې په عملي ډګر کې په نړیواله سطحه نوښت ګر او تاریخ جوړونکي شخصیتونه دي، د هغو له جملې څخه یو هم علامه ابن خلدون دی، چې په ټولنپوهنه (علم الاجتماع) کې نړیواله پیژندل شوې څېره ده او د هغه کتاب (المقدمه) د ټولنپوهنې د اصلي منابعو څخه ده.

نوموړی په اتمه هجري قمري پېړۍ (۷۳۲- ۸۰۸هـ ق= ۱۳۳۲- ۱۴۰۶م) کې په تونس کې زیږیدلی دی او په قاهره کې میشت شوی دی.

نوموړی څو تألیفات لري، چې تر ټولو غوره یې (المقدمه) ده، چې د هغه د تاریخ دکتاب سریزه ده، او د اهمیت له کبله نړیوالو ژبو ته ژباړل شوی ده.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

زما په آند، پښتو ژبه د هغه د علمي آثارو څخه بې برخې ده، له دې کبله زه فکر کوم د زاهدخليلي په زيار د ابن خلدون اړوند ليکل شوي اثر پښتو ژباړه په ځای او د تقدير وړ کار دی، تر څو نوموړی مسلمان شخصيت ددې ژبې ويونکو ته وروپيژندل شي.

ما د ډيرو مصروفيتونو له کبله د کتاب د بشپړ لوستلو فرصت ونه موند، تر څو يې دقيقه ارزونه وکړم؛ خو، دا وايم، چې دا د ژباړې په ډګر کې د زاهدخليلي ښه هڅه ده او کيدای شي، چې ځينې نيمګړتياوې ولري.

په هر حال، د هغه هڅه د تقدير وړ ده او له الله تعالی څخه ورته د لازياتو برياوو غوښتنه کوم.

دوکتور عزيزالرحمن

ننګرهار پوهنتون

د شرعياتو پوهنځي استاد

د ليکوال خبرې

د لويديځو قومونو دويم ژوندون (رنسانس) د مسلمانو او ختيځو پوهانو د فکر منځته راتګ دی، د منځنيو پيړيو مسلمانو مفکرينو د خپلو څيړنو، تجربو او صلاحيتونو په واسطه نوي علوم رامنځته کړل.

د مسلمانو مفکرينو هرې طبقې په طبيعي علومو کې زيات اختراعات وکړل، په ادب، هنرونو، طبيعت، طب او جراحي، کيميا، رياضي او ټولنيزو علومو کې يې شانداره لاسته راوړنې درلودې.

د اروپا په علمي ادارو، کالجونو او پوهنتونونو کې پيړۍ، پيړۍ د مسلمانو پوهانو د کتابونو نه د اساسي کورسونو په توګه ګټه اخيستل کيده؛ خو کله چې په مسلمانانو باندې د څيړنې دروازې بندې شوې؛ نو اروپا د مسلمانو پوهانو د

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

رامنځته شويو علومو په اساس قوي او علمي شوه او بيا (لويديځ) د مسلمانانو د جهالت پورې زيات خندل.

د دغه جمود په پېر کې زيات شمير لويديځو علماؤ د مسلمانو پوهانو څيړنې او لاسته راوړنې د خپلو قومونو پورې د تړلو هڅې کولې، د ابن خلدون سره هم د همدغسې کار کولو هڅه شوې وه؛ خو، نويو څيړنو اروپايي پوهان بيا اړ کړل، چې د دغه ستر مفکر او تاريخپوه علميت ته قائل شي، اوس په اروپايې او امريکايي پوهنتونونو کې د ابن خلدون شخصيت د يو اقتصاد پوه، ټولنپوه او تاريخپوه په ډول منل شوی دی. د امريکا پخواني ولسمشر رونالد ريګن په يوه تلويزوني مرکه کې ابن خلدون ته نيکې پيرزوينې وړاندې کړې او ويې ويل، زه نن ځکه د امريکا ولسمشر يم، چې ما د ابن خلدون د فلسفې نه ډيره ګټه اخيستې، د هغه د فلسفې نه اغيزمن شوی يم او هغه مې په خپل ژوند کې پلي کړه؛ ځکه، نو هغه زما خوښ شخصيت دی. ددې نه معلوميږي، چې د ابن خلدون علمي شخصيت په نړۍ باندې څومره ستره اغيزه لري.

ملک اشفاق

د کتاب ليکوال

کورنۍ يې

د ستر مفکر، تاريخپوه، ټولنپوه او سياست پوه ابن خلدون شجره په دې ډول ده.

ابو زيد ولي الدين عبدالرحمن بن محمد بن محمد بن الحسن بن محمد بن جابر بن محمد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن خلدون، په ابن خلدون سره پيژندل شوی او د عربو د يمني قبايلو سره يې اړيکه درلوده.

د ابن خلدون لومړي نيکونه د لومړی هجري پيړۍ په وروستيو کې د يمن څخه اندلس ته ولاړل، دا هغه وخت وه، کله چې بربريانو اندلس په بشپړ ډول نيولی وه.

ددې کورنۍ لومړنی شخص چې اندلس ته ولاړ، هغه په خلدون سره پيژندل کيده، د هغه نوم خالد بن عثمان بن خطاب بن کرب بن معدی بن الحارث بن وائل

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

بن حجر وه؛ ځکه، نو موږ ویلی شو، چې دې کورنۍ د حجر د قبیلي سره اړیکه درلوده، دغه قبیله د حضرموت په سیمه کې د زیات عزت، شهرت او علم درلودونکې وه، د حجر د قبیلې یو شاخ کنده د ابن خلدون د نیکونو د کورنۍ لومړني اشخاص وو.

په دې وخت کې د کنده د قبیلې مشر وائل بن حجر وو، یو مشهور روایت دی، چې وائل بن حجر د حضرت محمد (ص) په خدمت کې هم حاضر شوی وو او وائل بن حجر صحابي وو.

وائل بن حجر د حضرت محمد (ص) په مخکې اسلام قبول کړی وو او پیغمبر علیه السلام د هغه اولاد ته دعاء هم کړې وه.

ابن خلدون چې په خپل کتاب (مقدمه) کې د قومونو د عروج او زوال کوم اصول بیان کړي، د هغې نه څرګندیږي، چې د ابن خلدون په شجره کې څه شک شته دی.

څرنګه، چې ابن خلدون او نیکه یې خلدون تر منځ لس پشته واټن دی؛ خو، د ابن خلدون د اصولو مطابق باید دا شل یا یوویشت پشتونه وي، ابن خلدون په خپله مقدمه کې وایي، چې په هره پیړۍ کې درې پشتونه ضروري دي، د ابن خلدون او نیکه تر منځ یې اووه پیړۍ واټن موجود دی؛ ځکه ، نو د ابن خلدون شجرې د کره والي په اړه شک شته دی؛ خو، زموږ لپاره دا دومره اړینه نه ده، موږ باید د ابن خلدون د سیاسي، علمي او عملي ژوند په اړه مالومات تر لاسه کړو؛ ځکه، د عربو مشرانو شجرې په دویمې او دریمې هجري پیړیو کې لیکل شوي دي، کوم چې ډیرې مهمې ندي.

په تاریخ کې د ابن خلدون د کورنۍ نوم په لومړي ځل په دریمه هجري پیړۍ کې ذکر شوی دی، د ابن خلدون کورنۍ په دغه وخت کې د اندلس په اشبیلیه ښار کې اوسیده.

ابن خلدون په خپله وایي، چې دده کورنۍ په دغه وخت کې د قومیت د عصبیت ښکار وه، چې په دې سره یې کورنۍ ډیره قوي وه، ددې عصبیت په وجه د قریشي واکمنانو او اموي کورنۍ پر ضد د عصبیت جذبه اوج ته رسیدلې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

وه، په همدې وجه د ابن خلدون کورنی په حکومت کې زياته ونډه او اغيز درلوده، د ابن خلدون د کورنۍ يو مشر کرب په ۲۸۰ هـ کال کې د اشبيلي د حاکم پر ضد پاڅون وکړ، حکومت يې تر لاسه کړ او خپلواک دولت يې رامنځته کړ، دغه حکومت د څلورمې هجري پيړۍ د نيمايي او د اموي خلافت له منځه تلو پورې دوام وکړ او ښه په شان او شوکت سره يې حکومت کاوه.

ددې وروسته د کرب اولادې د بنو عباد په حکومت کې هم ډيره ونډه درلوده، د بنو عباد کورنی د پنځمې هجري پيړۍ پورې حکومت وکړ او د يمني عربو دغه کورنۍ (خلدون کورنی) په کې زيات اغېز درلوده؛ خو، کله چې په اوومه هجري پيړۍ کې د اندلس عيسايانو په اشبيليه کې حکومت جوړ کړ؛ نو د ابن خلدون کورنۍ افريقا ته هجرت وکړ او په تونس کې يې د بنو حفص دربار ته لاره پيدا کړه.

د بنو حفص په دربار کې دغې کورنۍ د حکومت ښې څوکۍ په لاس کې درلودې، د خلدون د کورنۍ په اړه په دې باندې ښه پوهيږو، چې دوی تل د حکومت کولو خوبونه ليدل.

که د ابن خلدون شجره صحيح ومنو، کومه چې د هغه کورنۍ د کنده قبيلي سره تړي؛ نو، دا خبره جوتيږي، چې د ابن خلدون کورنۍ تل د حکومت په سياسي کارونو مداخله کوله؛ خو، د حکومت کولو خوب يې پوره نه شو.

د علامه عبدالرحمن ابن خلدون زوکړه

عبدالرحمن ابن خلدون په خپل ليکل شوي کتاب کتاب العبر کې ليکلي، چې هغه د ۷۳۲ هـ کال د روژې په لومړی نيټه، چې د ۱۳۳۲ هـ کال د مې د مياشتې د ۲۷ نيټې سره سمون خوري، د تونس په يوه کلي قروان کې وزيږيد.

ابن خلدون د خپل کوچنيوالي او کورنۍ په اړه هيڅ نه دي ليکلي؛ خو، يو فرانسوي څيړونکی پروفيسر فشل د ابن خلدون د پيدايښت کيسه کړې، چې ددې کيسې څخه د ابن خلدون لياقت او پوهه په ښه ډول مالوميږي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

دغه پروفیسر کیسه داسې بیانوي، چې یوه ورځ د قروان په جامع جومات کې ډیر خلک راټول شوي وه، په دې وخت د ابن خلدون عمر نهه یا لس کاله وه، ابن خلدون دې راټولو شویو خلکو ډیر په ژور نظر کتل؛ ځکه، د هغه لپاره دا پیښه یو غیر معمولي پیښه وه، په دې خلکو کې علماء، قاضیان او مهم مشران موجود وه.

ابن خلدون پوښتنه وکړه، چې دا خلک ولې راټول شوي دي، ورته وویل شول، چې سیسلي په تونس باندې یرغل کړی او څو مهم ښارونه یې نیولي دي، دا غونډه په جامع جومات کې ځکه وشوه، چې ټول علماء او قاضیان دعا وکړي او دښمن د هیواد څخه وتښتي، کله چې ابن خلدون دا واوریدل؛ نو ویې ویل، چې علماء او قاضیان ولې داسې کار کوي؟ خلکو ته په کار دي، چې وسلې واخلي او دښمن په خپله د هیواد څخه وشړي.

ددې پیښې د درستوالي کوم قوي ثبوت نشته؛ خو، ددې پیښې څخه د ابن خلدون د ښه ذهانت اندازه کیدای شي.

ښوونه او روزنه

ابن خلدون د خپل کتاب کتاب العبر په شپږم ټوک کې د خپلې ښوونې او روزنې په اړه په تفصیل سره خبرې کړي دي.

هغه د هغه وخت د مروجو علومو او کتابونو په اړه په تفصیل سره ذکر کړی دی.

لومړنی ښوونه یې د خپل پلار نه تر لاسه کړه، د هغه پلار د خپل وخت وتلی عالم او فقیه وه، د هغه نوم محمد بن خلدون دی.

کله، چې تونس ته راغی؛ نو سیاسي ژوند یې پریښود او د لغاتو د علم تدریس یې پیل کړ، ابن خلدون د خپل پلار څخه فقه، تفسیر او د حدیثو علم زده کړ، سربیره پر دې یې، قرائت، کتابت، د نحوې اصول او د ادب تدریس یې هم ورکړ؛ ځکه، نو موږ ویلی شو، چې د ابن خلدون لومړنی استاد د هغه خپل پلار دی.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون د خپلو ښوونکو په اړه په ډیر تفصیل سره خبرې کړي دي، د ابن خلدون د خبرو څخه مالومیږي، چې د هغه استاذان ډیر لایقه او پوه خلک وه، په دې سره د هغه د قوي علم اندازه مالومیږي، هغه د خپلو ښوونکو په اړه ډیرې غیر معمولي خبرې کړي دي.

ابن خلدون په خپل کتاب (مقدمه) کې ددې خبرې ذکر کړی، چې کوم کتابونه هغه لوستل هغه په تونس کې ډیر کم پیدا کیدل.

په هغه وخت کې د مصر د الازهر پوهنتون د مروجو علومو وتلی تدریسي ځای و؛ خو، په تونس کې بیا داسې نه وه، ابن خلدون چې کومې زده کړې کړي، بې شکه چې د ازهر د پوهنتون سره برابرې نه وې؛ خو، هغه چې کوم علم په تونس کې لاسته راوړ، هغه ډیر اوچت وه.

ابن خلدون په کوچنیوالي کې قران کریم حفظ کړی وه او په قرات باندې یې پوره برلاستیا درلوده، هغه کولای شول، چې قران کریم په اوو لهجو باندې تلاوت کړي.

د ابن خلدون خپله خبره ده، چې هغه د حدیثو مشهور کتابونه موطا، صحیح مسلم شریف او صحیح بخاري شریف لوستلي وه.

سربیره پردې هغه د مالکي مذهب مشهور کتاب (مدونه) لوستلی وه او په فقهي اصولو باندې یې برلاستیا حاصله کړې وه.

ابن خلدون وایې، چې هغه د مشهور کتاب (تسهیل) نه نحو او د لغاتو علم زده کړی وه، سربیره پردې د پخوانیو عربو شاعرانو د شعرونو دیوان (دیوان حماسه) او عباسي دور زیاتې قصیدې او نظمونه یې هم لوستلي وه.

د نورو مروجه علومو په اړه ابن خلدون وایې، چې د منطق علم، د کلام علم او د فلسفې په اړه یې زیات کتابونه مطالعه کړي.

زما په نظر کله، چې ابن خلدون په قاهره او سکندریه کې وه؛ نو، هغه د فلسفې او نورو علومو مطالعه هلته وکړه؛ ځکه، د ابن خلدون د تاریخ او ځینو

نورو تاريخي کتابونو نه مالوميږي، چې همدغه وخت کې ابن خلدون فلسفه زده کړه او په علم کې يې زياتوالی راغی.

ابن خلدون مراکش، غرناطې، قاهرې، حلب او دمشق ته سفرونه کړي وه، دې سفرونو هم د ابن خلدون په علم او تجربو کې زياتوالی راوست، ابن خلدون وايي، چې د شلو کلونو په عمر کې يې په تونس کې خپلې زده کړې بشپړې کړې وې او د خپلو ښوونکو څخه يې اسناد هم ترلاسه کړي وه.

د هغه وخت د اصولو مطابق، کله چې به يو شاګرد د خپل استاذ څخه مروجه علوم زده کړل؛ نو، استاذ به يې يو سند هم ورکاوه، ددې سند مطلب دا وه، چې هغه شاګرد درس بشپړ کړی دی او اوس هغه کولای شي، چې تدريس وکړي، په سندونو کې به د ښوونکو نوم هم ليکل کيده.

په ازهر پوهنتون کې داسې سندونو رواج درلوده.

په ۷۴۹هـ يا ۱۳۴۹ ز کال کې په تونس او شاوخوا سيمو کې د طاعون ناروغي رامنځته شوه، چې زيات خلک يې ووژل.

لومړی درباري دنده

د ابن خلدون مور او پلار او نور زيات خپلوان يې ددې ناروغۍ په وجه مړه شول.

په دې وخت کې د ابن خلدون عمر شل کاله وه او د عملي ژوند پيل يې شوی وه، هغه د تونسي اميرانو نه ډيرې اجازت نامې ترلاسه کړې وې، چې کومه دنده ترلاسه کړي؛ ځکه، د هغه کورنۍ د په مختلفو دربارونو کې په لوړو چوکيو کې دندې اجراء کړې وې او کوښښ يې کاوه، چې د ځان لپاره کومه ښه وظيفه ترلاسه کړي.

د مور، پلار او د نورو خپلوانو د مرګ په وجه د يو څه وخت لپاره غمجن وه.

د وبا په ورځو کې د هغه زياتره خپلوان او دوستان د تونس نه موريتانيا ته ولاړل؛ خو، ابن خلدون د خپل ورور په مشوره په تونس کې پاتې شو.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د وبا د تیریدو نه وروسته د تونس امیر ابومحمد ابن خلدون وروغوښت او د سلطان ابن اسحاق منشي یې مقرر کړ، په دې وخت د ابن خلدون عمر د شلو کلو شاوخوا وه.

ابن خلدون څو کاله دا دنده تر سره کړه؛ خو، د خپلې کورنۍ د شان او شوکت غوندې د لوړې دندې د ترلاسه کولو امید یې درلوده، سلطان ابن اسحاق د یوې جګړې لپاره تونس پریښود، مراکش ته ولاړ او ابن خلدون هم ورسره وه؛ خو، مراکش ته په رسیدو سره ابن خلدون د سلطان نه جلا شو او فاس سیمې ته ولاړ، ابن خلدون په خپله وایي، چې هغه دا ځانګړی سفر د علم د لاسته راوړلو لپاره وکړ؛ ځکه، کله چې سلطان په مراکش باندې حمله وکړه؛ نو، ستر ستر علماوو تونس پریښود او فاس ته مهاجر شول، هلته یو علمي چاپیریال جوړ شوی وه او هلته د تکړه علماوو نه د زده کړې لپاره ښه چانس وه، د ابن خلدون د سوانحو لیکونکی ډاکټر طاحا حسین یو نیوکه کوي او وایي، کله، چې ابن خلدون د تونس کمزوری حکومت او د مراکش د سلطان قوت ولیده؛ نو هغه تونس پریښود او د فاس خوا ته د تلو نیت یې وکړ او کله، چې سلطان ابواسحاق حمله وکړه؛ نو د مراکش نه ولاړ.

د څو ورځو د ګرځیدو نه وروسته هغه د سلطان ابوعنان په خدمت کې حاضر شو، سلطان ابو عنان هغه د خپلو علماوو په ډله کې داخل کړ، دې علماوو به سلطان ته د نحوې دعلم او دنیاوې کارونو په اړه مشوره ورکوله، کله به سلطان ددې علماوو تر منځ بحث هم تر سره کاوه.

څه وخت وروسته سلطان ابن خلدون خپل معتمد شخص مقرر کړ؛ خو، ابن خلدون دا دنده د زړه له کومې ونه منله او زړه نا زړه وه، هغه د لوړ وزرات فکر درلوده؛ ځکه، د هغه مشرانو تل لوړې دندې اجراء کړې وې، د فاس طرف ته د هغه د تلو موخه هم د لوړې دندې تر لاسه کول وه.

ابن خلدون ډیر مایوسه شو، بلکه فکر یې کاوه، چې دی ناکام شوی دی. په دې وخت کې د بجایه د سیمې واکمن امیرمحمد مهدي په فاس کې بندي وه، ابن خلدون د لیکونو په واسطه د هغه سره اړیکه جوړه کړه، ابن خلدون غوښتل، چې د امیرمحمد سره یو ځای شي او د سلطان ابوعنان پر ضد پاڅون وکړي، ابن

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

خلدون د اميرمهدي سره د مرستې ژمنه کړې وه، که چيرې د بريا وروسته اميرمحمد مهدي واکمن شي؛ نو، ابن خلدون به د هغه وزير وي.

د دواړو دا ژمنه رسوا شوه او ابن خلدون يې زندان ته ولیږه او درې کاله يې په زندان کې تير کړل.

په ۷۵۹ هـ کال کې ابوعنان ومړ او حسن بن عمر واکمن (سلطان) شو، هغه ابن خلدون د زندان نه خوشې کړ او ابن خلدون ته يې ډير زيات مال او دولت هم ورکړ.

ابن خلدون د سلطان احسان هير کړ او د حسن بن منصور سليمان سره، چې د سلطان حسن بن عمر قوي دښمن وه، د هغه سره يې اړيکې ټينګې کړې او د هغه دربار ته ولاړ.

کله، چې منصور بن سليمان فاس ونيوه؛ نو، ابن خلدون په فوځ کې ورسره وه او د محسن حسن بن عمر په ماتولو کې مصروف وه.

ددې وروسته يې د يو مراکشي امير په ملاتړ د منصور بن سليمان پر ضد پاڅون ته ملا وتړله؛ خو، د مراکشي امير هڅه ناکامه شوه او منصور بن سليمان وتوانيد، چې مراکشي امير اندلس ته وشړي.

خو، ابن خلدون د خپلې هوښيارۍ په واسطه ځان وساته او د سلطان د خزانې معتمد مقرر شو، درباريانو دا کار خوښ نه کړ او سلطان ته يې د ابن خلدون د پخوانيو کارونو په اړه ثبوتونه وړاندې کړل.

ابن خلدون پوه شو، چې سلطان به په هغه رحم ونکړي، کله، چې سلطان د بجايه حکومت ترلاسه کړ؛ نو، ابن خلدون د هغه په دربار کې زيات اغيز پيداکړ.

کله، چې ابن خلدون پوه شو، چې په فاس کې نور نه شي پاتې کيدای؛ نو، ويره ورسره پيدا شوه، چې کيدای شي پای به يې بد وي.

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

اندلس ته تګ

ابن خلدون غوښتل، چې خپلې سیمې ته ولاړ شي، هغه قلمسان ته د تلو نیت درلوده، تر څو د مراکش په تخت باندې عمر واکمن کړي، څرنګه، چې عمر په هغه باندي بدګمانه شوی وه؛ نو اجازه يې ورکړه، چې کولای شي، هر چیرې ولاړ شي.

په ۷۶۴ هـ کال کې د بیړۍ په واسطه اندلس ته ورسید، کله، چې ابن خلدون د فاس په دربار کې وه؛ نو، هغه د غرناطې د سلطان او د هغه د وزیر لسان الدین خطیب لپاره ځینې کارونه سرته رسول؛ ځکه، نو هغوی د ابن خلدون ډیر ګرم هرکلی وکړ.

کله، چې په ابن خلدون باندې د سلطان باور ډیر شو؛ نو، هغه يې د قشتالې د پاچا دربار ته ولیږه او په اشبیلیه کې يې سفیر مقرر کړ.

کله، چې ابن خلدون قشتالې ته ورسید؛ نو، په ویاړ سره يې هغه ښار ولیده؛ ځکه، یو وخت د هغه د نیکونو حکومت په دې ښار کې خپل اوج ته رسیدلی وه.

پاچا هغه ته هرکلی ووایه او په دې ښار کې يې د اوسیدو اجازه ورکړه، پاچا دا ژمنه هم ورسره وکړه، چې د نیکونو ترکه به ورسپاري؛ خو، ابن خلدون د هغه مننه وکړه او د منلو څخه يې انکار وکړ.

د ابن خلدون دا سفارت ډیر کامیاب وه، کله، چې بیرته غرناطې ته راغی؛ نو، پاچا زیات انعامونه ورکړل او څه ځمکه يې هم ورکړه، ابن خلدون خپله کورنۍ هم راوغوښته او ددې وروسته د شاهي دربار پورې وتړل شو.

د دربار سره د تړل کیدو وروسته، هغه د پاچا په مدحه او صفت کې څو قصیدې هم ولوستلې.

د ابن خلدون د عزت، احترام او په دربار کې د اغیز په لیدو سره د هغه پخواني ملګري ابن خطیب د هغه سره دښمني پیل کړه، ددې وروسته ابن خطیب د هغه پر ضد سازشونه پیل کړل.

په دې وخت کې د بجايه د واکمن لخوا ابن خلدون ته يو ليک راليږل شوی وه، په ليک کې ليکل شوي وه، چې واکمن بيرته د بجايه واکمن شوی او تخت يې لاسته روا ړی دی او ابن خلدون بايد بيرته هلته ورشي.

ابن خلدون د پاچا نه اجازه وغوښته او په ۷۶۶ هـ کال کې د غرناطې نه د افريقا په لور روان شو.

په بجايه کې هغه ته د حاجب دنده ورکړل شوه، د درباري کارونو سربيره تعليمي کارونه هم ور په غاړه وه.

د بجايې د واکمن د خپل ورور سره، چې د قسطنطنيي واکمن وه، د دواړو تر منځ جګړه وشوه، په دې جګړه کې پاچا مړ شو.

ښار د قسطنطيني سلطان ونيوه، نوي واکمن ابن خلدون نه خوښاوه؛ ځکه، نو ابن خلدون د بسکرې لوري ته ولاړ.

په بسکره کې د اوسيدو پر وخت يې، د تلمسان د پاچا او د تونس د سلطان سره د ليک له لارې اړيکه ونيوله او دواړه يې تشويقول، چې د قسطنطينې د پاچا پر ضد جګړه وکړي.

ابن خلدون تلمسان ته د دندې د لاسته راوړلو لپاره راغلی وه؛ خو، کله ، چې سلطان په مراکش باندې حمله وکړه؛ نو، ابن خلدون د تلمسان د سلطان پر ضد بغاوت وکړ، ابن خلدون بريالی نه شو او فاس ته ولاړ، هلته يې د خپلې پخوانی دندې د تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړ؛ خو، به بشپړ ډول ناکام شو.

په ۷۷۶ هـ کال کې يې مراکش پريښود او بيا اندلس ته ولاړ، کله، چې غرناطې ته ورسيد، واکمن ورته هيڅ توجه ونکړه؛ ځکه، چې سلطان ترې ډير خفه وه، وجه يې دا وه، چې سلطان خپل وزير د سازش په تور افريقا ته تبعيد کړی وه، هغه وزير په فاس کې اوسيده او ابن خلدون د هغه پوره ملاتړ کړی وه، سربيره پر دې د فاس واکمن د غرناطې سلطان د ابن خلدون د سياسي چلونو نه خبر کړی وه.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون د هغه ځآیه ژر تلمسان ته ولاړ او د خپل یو ملګري په واسطه د تلمسان د دربار سره په اړیکه کې شو، په داسې حال کې، چې د همدغه سلطان پر ضد یې پاڅون کړی وه.

د تلمسان سلطان هغه ته کومه خاصه وظیفه ورنکړه، په دې وخت به ابن خلدون ډیری وخت ارام او استراحت کاوه.

څه وخت وروسته سلطان هغه یوې کوچې قبیلې ته د یو مهم کار لپاره ولیږه، ابن خلدون زړه نا زړه وه؛ خو، د سلطان د امر انکار یې نه شو کولای؛ نو، ځکه روان شو.

کله، چې د ښار نه ووته، خپله لاره یې بدله کړه او د کوچې قبیلې پر ځان د عریف کورنۍ ته ورغی، هلته یې د ښښنې یو لیک ولیکه او سلطان ته یې ولیږه، دا کار په ۷۷۶ هـ کال کې شوی دی.

ددې ځایه هغه د سلام کلا ته ولاړ او خپله کورنۍ یې هم هلته ور وبلله، د کلا په محل کې یې اوسیدنه پیل کړه.

ابن خلدون په کلا کې څلور کاله تېر کړل، په دې دوران کې یې تدریس او مطالعه هم کوله، هغه خپله وایې، چې خپل کتاب (مقدمه) یې په دې ځای کې لیکلی دی.

د اندلس او افریقا واکمن د ابن خلدون د خطرناک شخصیت په اړه پوه شوي وه؛ ځکه، نو د هغه لپاره په دربار کې کومه مهمه وظیفه تر لاسه کول نا ممکن وه.

ابن خلدون وایې، چې په دې ورځو کې هغه د کتابونو په لیکلو مصروف وه.

د سلام کلا کې د څلورو کلونو د تیریدو وروسته یو ځل بیا تونس ته ولاړ، هغه وایې، چې سلطان د هغه عزت او احترام وکړ او په څو ځایونو کې یې مشورې هم ورکړې؛ خو، ابن خلدون په عملي سیاست کې کومه برخه وانه خیسته.

کیدای، چې ابن خلدون خپله ځان د سیاست نه لیرې کړای وي.

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

په دې ورځو کې ابن خلدون په غټو غټو مسجدونو کې په تدریس باندې مصروف وه او خپل زیات وخت یې په تاریخ لیکلو باندې تیروه.

په دې علمي ډګر کې هم د ابن خلدون حریفان پیدا شو، څرنګه چې د هغه علمي شخصیت ډیر مشهور شوی وه؛ نو د تونس مفتي محمد بن عرفه، چې د یو وخت پورې د هغه ملګری هم وه، د ابن خلدون پر ضد یې د کینې ډکې ویناوې پیل کړې، ویل به یې، چې هغه ډیر خطرناک شخص دی او په ابن خلدون باندې یې څو نور تورونه هم ولګول، په دې وجه د ابن خلدون شاګردان په خپل استاذ باندې بدګمانه شول او د ابن خلدون تدریس یې پریښود، مفتي محمد بن عرفه غوښتل، چې هغه د هیواد نه وشړي؛ خو، سلطان د هغه خبره ونه منله.

د ختیځ په لور

ددې پیښې وروسته سطان هغه د یوې مهمې جګړې لپاره د ځان سره بوت، ابن خلدو پوه شوی وه، چې نور دلته د هغه اوسیدل ناممکن دي او خطرناک دي.

د حج د فریضې د اداء کولو پریکړه یې وکړه او په ۷۸۴ هـ کال کې د ختیځ په لور روان شو، د څلویښتو ورځو بحري سفر نه وروسته سکندریې ته ورسید، په دې وخت کې د سکندریې حکومت د ملک ظاهر (برقوق) په لاس کې وه.

په سکندریه کې یې یوه میاشت تیره کړه، هلته د اوسیدو په وخت یې د حج اراده پریښوده او د مکې پر ځای قاهرې ته روان شو، په قاهره کې هغه ډیر مشهور شوی وه، هغه غوښتل، چې خپل قسمت دلته هم وازمویې.

کله، چې قاهرې ته ورسید، د ازهر پوهنتون زیاتره طالبانو د هغه نه د تدریس هیله وکړه؛ ځکه، نو هغه په ازهر پوهنتون کې په تدریس پیل وکړ.

په قاهره کې د پاچا دربار ته ولاړ، پاچا هغه د خپلو علماوو په ګروپ کې داخل کړ.

څه وخت وروسته د صلاح الدین ایوبي لخوا جوړې شوې مدرسې صلیه کې د استاذ په حیث مقرر شو.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون، چې کله د سکندريې نه قاهرې ته ننوت؛ نو، هغه يوه نوې نړۍ وليده، هغه د ښار د ښکلا او جلال په ليدو سره حيران شو، هغه قاهرې ته د اسلام د حکومت د مرکز نوم ورکړ.

په دې وخت کې په مصر کې ډېر ارام حکومت وه، هيڅ زور زياتی نه وه او نه په دربار کې درباري جګړې او سازشونه وه، د مصر حکومت ډېر حاکم وه او په همدې وجه مصريانو قانون پلی کاوه.

په مصر کې قاضي مقرريدل

کله، چې پاچا د ابن خلدون لياقت، ذهانت او علمي تکړه توب وليده؛ نو، هغه يې په کال ۷۸۶ هـ کې د مالکي مذهب قاضي وټاکه.

ددې په اړه ابن خلدون وايې، چې هغه د قاضی القضات دنده يوازې د پاچا د خوشاله کولو لپاره ومنله، کنه هغه ددې دندې اميد نه درلوده.

په مصر کې د څلورو واړو مسلکونو قاضيان موجود وه؛ خو، قاضي يوازينی شخص وه، چې د ټولو مذهبونو په اړه يې پريکړې کولې او کولای يې شول، چې هر ډول فوځي او مذهبي مسئلې حل کړي.

د قاضي القضات د مقرريدو لپاره د کوم ځانګړي مسلک درلودل مهم نه وه، بلکه هغه د هر مذهب شخص کولای شول، چې دا دنده تر سره کړي، د قاضي القضات صلاحيت ډېر زيات وه او د ټولو مسلکونو په اړه يې پريکړې کولای شوې، قاضي به اجتهاد هم کاوه، په مصر کې د شافعي مسلک قاضيان زيات وه.

د قاضي له دندې لرې کول

ځايې علماوو او فقهاوو د قاضي القضات د دندې د لاسته راوړلو لپاره زيات کوښښونه کول، دا دنده د مصريانو نه بغير نورو ته ورکول، د ځايې قاضيانو هيڅ نه خوښيده او ټول مصري قاضيان د ابن خلدون پر ضد شول، کله چې ابن خلدون د بين القصر په الصاليحياه مدرسه کې د قاضي په چوکی باندې کيناست؛ نو، د څلورو خواوو نه يې پر ضد سازشونه پيل شول، ابن خلدون ددې په اړه

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

لیکي، چې په دې وخت د مصر دربار د هر ډول بې نظمیو ښکار شوی وه، زیاتره قاضیان، مفتیان او شاهدان پست خلک وه، انصاف هیڅ موجود نه وه.

ددې حالاتو سره د مقابلې کوښښ یې کاوه، هغه هر ډول بې نظمۍ پای ته ورسولې، انصاف یې رامنځته کړ، عدالتي نظام یې د کمزورۍ نه وساته، هغه وایې، ما ددغې دندې د لاسته راوړلو وروسته د الله تعالی د قوانینو د پلي کولو کوښښ پیل کړ او په دې لاره کې مې هر ډول ستونزې له مخې لیرې کړې، ما هر چا ته انصاف ورکول اسانه کړل، اکثره وخت به د لوړو چوکیو او منصب خلکو غوښتل، چې پریکړې د هغوی په خوښه وشي؛ خو، ما به په هر وخت کې درستې پریکړې کولې، ما د شاهدانو بیانونه په پوره ډول څیړل او وروسته به مې پریکړه کوله، په دې طریقه به کمزرو خلکو انصاف رسیده، زیاتره ښوونکو، امامانو او شهزاه ګانو به هم کوښښ کاوه، دوی به د خپلو کړنو لپاره دروغجن شاهدان راوستل او خپل جرمونه به یې پټول، ما په ډیرو ځایونو کې د هغوی دغه کارونه بې سرپوښه کړل او هغوی ته مې سزاګانې ورکړې. ددې حالاتو نه مالومیږي، چې د ابن خلدون دښمنان زیات شوي وه، دغه خلکو د ابن خلدون پر ضد په دربار کې هم سازشونه پیل کړي وه.

ابن خلدون چې د ځان په اړه کومې خبرې وکړې، د هغه څخه یې صداقت او ایمانداري مالومیږي، د هغه هم عصره لیکوالو هم د هغه ددې کړنو تصدیق کړی دی، د بیلګې په ډول ابوالحاسن لیکلي دي، چې: هغه په اصولو او ضوابطو باندې ډیر مجتهدانه نظر کاوه، عدالتي نظام به یې په ډیر لیاقت سره چلاوه، د لویو خلکو واسطې به یې په نظر کې نه نیولې.

السخاوي د ابن حجر نه نقلوي:

ابن خلدون به د خلکو سره ډیره ښه رویه کوله، هغه به دروغجنو شاهدانو ته سختې سزاګانې ورکولې، کله، به چې د چا نه خفه شو؛ نو چغه به یې کړه او د خپل ځای نه به پاځیده، ویل به یې، دا په زندان کې واچوۍ.

د څو میاشتو د تیریدو وروسته یې پر ضد د سازشونو طوفان پیل شو، هغه وایې، چې هغه د شاهي سرپرستی نه محروم شو، سربیره پر دې یو بل غم هم ور

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

زیات شو، هغه یې د ښځې، ماشومانو او جائداد د لاسه ورکول وه، مصر ته په راتګ سره هغه غوښتل، چې ښځه او ماشومان دې هم دلته راشي؛ خو د تونس سلطان چې د ابن خلدون په مصر ته تګ باندې خوښ نه وه، هغوی ته یې د تلو اجازه نه ورکوله، سلطان غوښتل، چې ابن خلدون باید بیرته تونس ته راشي، د مصر د سلطان په غوښته یې د ابن خلدون ماشومانو ته د تلو اجازه ورکړه، ابن خلدون دغه د غم ډکه پیښه داسې بیانوي: زه د قاضي القضات د چوکی نه محروم شوم، سربیره پر دې د غم یوه بله پیښه هم رامنځته شوه، هغه د خپلو ماشومانو د جدایی غم وه، هغوی چې په کوم بحري بیړۍ کې مصر ته راتلل، هغه په لاره کې د یو سخت طوفان په وجه له منځه ولاړه او ډوبه شوه، ما خپل ماشومان او جائداد ټول د لاسه ورکړل، دې کار زما ملا راماته کړه، ما د دندې څخه د استعفا پریکړه وکړه.

ددې پیښې وروسته تاریخپوه د قاضي القضات د دندې هم ګوښه کړای شو، هغه وایي، چې تاسو داسې فکر مه کوئ، چې زه د خپلې دندې نه لیرې کړای شوی یم، بلکه ما په خپله خوښه دنده پرې ایښې ده، هغه وایي، سلطان زما سره په دیره ښه توګه چلند کاوه، هغه زما په غم باندې ښه پوهیده، هغ پوهیده، چې زه به په دې وخت خپله دنده په ښه طریقه سره سرته ونه شم رسولای، هغه زما د استعفی غوښتنه ومنله، عامو او خاصو خلکو زما په حالت باندې ډیر افسوس وکړ او ما سره یې همدردي وکړه، زما څخه غوښتنه وشوه، چې ژر باید راشم او خپله دنده بیا پیل کړم. ابن خلدون موږ ته دا راښایي، چې د دندې څخه لیرې کیدل د هغه پر ضد د سازشونو او دښمنیو پایله وه، ابن خلدون د خپلې دندې نه په لومړي ځل په ۷۸۷ هـ د جمادي الاول په میاشت کې، چې د ۱۳۸۵ هـ کال د جولایي سره سمون خوري لیرې کړای شو، یانې اووه میاشتې یې دغه دنده تر سره کړه، ددې وروسته هغه خپل وخت په لیکلو او زده کړه باندې تېر کړ.

هغه په ممتحیاه دارلعلوم کې تدریس کاوه، وروسته کله، چې سلطان په بین القصر سیمه کې یوه نوې مدرسه (ظاهریه برقوق دارالعلوم) په نوم تاسیس کړه؛ نو ، ابن خلدون هلته د مالکي فقهې د استاذ په حیث مقرر شو، هلته یې لومړنی خطبه ډیر شانداره وه، هلته عوام او امرین ډیر زیات موجود وه، په دې خطبه کې ابن خلدون خپل فصاحت او بلاغت وښود، د سلطان مدحه او صفت یې وکړ او د

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه لپاره یې د خیر دعا وکړه، هغه په دغو دواړو مدرسو کې درس ورکاوه، تر څو، چې په ۷۸۹ هـ کال کې د حج میاشت راورسیده او د حج د تلو نیت یې وکړ، سلطان هغه ته اجازت ورکړ د شعبان په نیمایي کې یې قاهره پریښوده او د سمندر په لاره حجاز ته ورسیده، د حج د فریضې د اداء کولو نه وروسته د سمندر له لارې کوسیر ته ورسید، د هغه ځایه د نیل په لاره بیرته قاهرې ته راغی، هلته په رسیدو سره یې د سلطان سره وکتل او ورته یې وویل، چې په کعبه شریفه کې یې سلطان ته زیاتې دعا ګانې وکړې، سلطان ترې ډیر خوشاله شو او هغه یې په سلطانیه دارالعلوم کې د استاذ په ځای د مهتمم په دنده وګماره، هغه د ۷۹۱ هـ کال د محرم د میاشت پورې دا دنده اجراء کړه، د لومړي درس په دوران کې د معمول مطابق ډیر زیات عام او خاص خلک راټول شوي وه، هغه اعلان وکړ، چې د امام مالک کتاب موطا به د نصابي کتاب په شکل تدریس کیږي، هغه په خپله وایې، چې د امام مالک د ژوند حالات، د هغه کارونه، نظریات او اعتقاداتو باندې یې رڼا واچوله، په پای هغه خپله خبره په ډیر ویاړ سره داسې پای ته رسوي: زما خطبې خلک حیران کړل، د هغوی په نظرونو کې زما لپاره ډیر احترام او عزت ښکاریده، زما خطبې د هغوی په ذهنونو کې جادو وکړ، عام او خاص ټول په دې پوه شول، چې زه په یقیني ډول د خپلې دندې حقدار وم.

ادبي بوختیاوې

څه وخت وروسته ابن خلدون په خپلو څیړنو او تحقیق باندې بوخت شو، هغه د خپلو سوانحو لیکل وځنډول، د ۷۹۷ هـ کال د پیل نه وروسته یې د تاریخ اړوند لیکل پیل کړل، د ۸۰۷ هـ کال پورې یې د خپل ژوند ټول حالات او کتابونه ولیکل، یانې د مرګ نه څو میاشتې مخکې یې بشپړ کړل، موږ به دلته د هغه د چاپ شوي کتاب پر ځای د هغه د اصلي کتابونو نه استفاده وکړو؛ ځکه، اصلي کتاب یې نسبت چاپ شویو کتابونو ته ډیر مستند دی.

په دې دوران کې د هغه په ژوند کې کومه مهمه واقعه نه دی پیښه شوې، هغه د قاهرې د سلطان او د شمالي افریقا د سلطانانو تر منځ د اړیکو په ښه کولو باندې بوخت وه، هغه د شمالي افریقا د واکمنو، الناصر قلون او بنو مارین د

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

پاچاهانو تر منځ د ليکونو د استولو او ډاليو د ليږلو ذکر کوي، هغه د هسپانوي او مصري واکمنو تر منځ د دوستانه اړيکو ذکر هم کړی دی، د تونس شاه د مصر سلطان ته د سمندر له لارې د خرو لوړ نسل لرونکي خره ور ليږلي وه؛ خو، په کومه بحري بيړۍ کې، چې دا خره ليږل کيدل، هغه د طوفان په وجه له منځه ولاړه، په دې بيړۍ کې د ابن خلدون خپل ماشومان وه، د مصر سلطان د تونس شاه ته د افسوس پيغام استولی وه او هغه ته يې ډيرې زياتې ډالۍ ور وليږلې، په ۷۹۹ هـ کال کې هغه يوه ډله تونس ته د خرو د اخيستلو لپاره وليږله، کله، چې دا ډله مصر ته راغلل؛ نو ، د تونس او شمالي افريقا د اميرانو لخوا ورته ډيرې زياتې ډالۍ ورکول شوې وې، هغه ليکي، کله، چې عامو خلکو ته دا ډالۍ د نمايش په ډول واړندې شوې؛ نو، ما ځان ډير محترم او معزز حس کړ، ددې واکمنو تر منځ دوستي او ملګرتيا زما په وجه رامنځته شوې وه.

د بيت المقدس سفر

ابن خلدون تقريبا څوارلس کاله د قاضي القضات له دندې ګوښه وه، هغه په خپله وايي، زما پر ضد د دښمنانو او کينه ګرو سازشونه روان وه، دغو خلکو سلطان زما پر ضد بدګمانه کاوه، دغه خلک د يوې ډلې په شکل منظم وه او هغوی غوښتل، چې ماته بايد بيرته د قاضي القضات دنده ونه سپارل شي؛ خو، کله چې دغه خلک له منځه ولاړل او سلطان هغوی بل هيواد ته تبعيد کړل؛ نو، سلطان په لومړي فرصت کې هغه ته خپله پخوانی دنده ور وسپارله. په دې وخت د مالکي مسلک قاضي نصيرالدين التانسي وفات شوی وه(د روژې په منځنيو کې کال ۸۰۱ هـ)، ابن خلدون دغه مهال په خپل پټي کې، چې د محياه مدرسې لخوا ورکول شوی وه، په غنمو ريبلو بوخت وه، سلطان هغه ځان ته راوغوښت او په دويم ځل يې د قاضي القضات په چوکۍ وګماره. څو مياشتې وروسته د شوال په مياشت کې سلطان وفات شو، زوی يې الناصر فرج د هغه پر ځای واکمن شو، د حکومت حالات خراب وه او ځآی ځای بغاوتونه هم ليدل کيدل، کله، چې حالات ښه شول؛ نو، ستر مؤرخ د سلطان د بيت المقدس د تلو اجازه وغوښته او سلطان هم هغه د تلو اجازه ورکړه، ابن خلدون هلته لرغونو ودانيو او خرابو شويو ځايونو ته ولاړ او هم د اقصی د مسجد، الخليل د مقبرې او نورو زيارتونو سياحت وکړ، بيت اللحم ته هم ولاړ؛ خو، هلته موجودې کليسا ته د ورننوتو څخه

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

یې انکار وکړ، د هغې په هکله خپله داسې وایي، د عیسایانو عقیده ده، چې دوی هلته حضرت عیسی علیه السلام صلیب کړی دی؛ ځکه، نو عیسایانو هلته ښکلې کلیسا ودانه کړې ده، زه ددې نه انکار کوم؛ ځکه، کلیسا ته ننوځم. ددې وروسته هغه بیرته راغی او د سلطان په هغه جلوس کې یې برخه واخیسته، کوم چې د شام نه بیرته قاهرې ته را روان وه، دا پیښه د ۸۰۲ هـ کال د روژې په پای کې شوې ده.

د ۸۰۳ هـ کال په محرم کې د دویم ځل لپاره د قاضي القضات له دندې نه ګوښه کړای شو، موږ ته دا کار د هغه د دښمنانو ښکاري، د ډیر وخت راهیسې، چې د هغه او دښمنانو تر منځ یې کوم حالات وه، دده له دندې په ګوښه کیدو باندې پای ته ورسیدل.

کله، چې قاهرې ته د امیر تیمور دا خبر ورسیده، چې هغه پر شام حمله کړې او ډیره وینه یې تویه کړې؛ نو، د مصر په دربار کې حالات ترینګلي شول، سلطان الناصر فرج د خپل فوځ سره د تاتاري فوځ پر ضد جګړې ته ووت، د هغه سره د فوځ سربیره زیات علماء او فقها هم مل وه، د هغه سره څلور قاضیان هم وه، چې یو په کې ابن خلدون وه، ابن خلدون د شمالي افریقا تجربو ته په کتو سره، دې سفر ته خوشاله نه وه، هغه په خپله وایي، چې سلطان ته یې ډیر حیلې او بهانې وکړې، چې ددې تګ نه پاتې شو؛ خو، بریالی نه شو او سلطان ځانګړي حاجب یشبک هغه ته ډیر عذر وکړ او زیاتې تحفې یې ورکړې، هغه یې په دې تګ باندې راضي کړ، ابن خلدون دغه پیښې لیکلي دي او پیل یې د تاتاریانو او سلجوقیانو د عروج او زوال څخه کړی دی، دغه کاروان د ۸۰۳ هـ کال په ربیع الاول کې له قاهرې څخه روان شو او د جمادی الاول په لومړی اونۍ کې دمشق ته ورسید، ابن خلدون او نور علماء په عدلیه مدرسه کې اوسیدل؛ خو، مصري فوځ د دمشق په شاوخوا سیمو کې د تاتاریانو سره جګړې ته ولاړ.

د امیر تیمور سره لیدل

کله، چې مصر ته دا خبر ورسید، چې امیر تیمور کوچنی اسیا نیولې او سیواس یې محاصره کړی او د شام خوا ته روان شوی دی؛ نو، سلطان خپل فوځ راټول کړ او اعلان یې وکړ، چې فوځ به یې شام ته ځي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون وايي: په دې وخت کې ما کومه دنده نه درلوده؛ خو، د سلطان سکرتر ټينګار وکړ، چې بايد د سلطان سره يو ځای لاړ شم، کله، چې ما د هغه غوښتنه ونه منله، هغه په ډير اکرام او احترام سره بيا رانه غوښتنه وکړه او څه ډالۍ يې هم راکړې، په دې زه ورسره روان شوم.

زه په دويم سبا د ميلادالنبي عليه السلام په منځ کې ورسره روان شوم، کله، چې غزې ته ورسيدو؛ نو، څو ورځې مو ارام وکړ او د نويو خبرونو انتظار مو ويست، وروسته د دمشق په لور روان شو، تر څو د تاتاريانو د راتګ نه مخکې هلته ورسيږو، د هغه ځايه په لار کې شقحب کې کوز شو او سبا سهار دمشق ته ورسيدو، په دې وخت د امير تيمور فوځ د بعلبک نه د دمشق په لور روان شوی وه.

سلطان خپله او نورې خيمې په قبه يلبغا کې ودرولې، کله، چې امير په ښار باندې په يو ځل حملې کولو نه مايوسه شو؛ نو، هغه يوه نږدې غره سره يوه مياشت تيره کړه، په دې ډول داوړه فوځونو د يو بل حرکات او سکنات په ښکاره ډول ليدلای شول، په دې دوران کې د دواړو فوځونو تر منځ درې، څلور وارې کوچنی جګړې هم وشوې، کله، به يو لښکر بريالی کيده او کله به بل بريالی کيده.

په دې وخت ځينو اميرانو ته دا خبر ورسيده، چې ځينې هغه اميران چې مصر ته تللي، هغوی هلته خلک بغاوت ته هڅوي؛ نو سلطان پريکړه وکړه، چې بايد مصر ته ولاړ شي؛ ځکه، کيدا شي، چې د هغه په نه موجوديت کې خلک حکومت چپه کړي.

هغه د جمادی الاول په ۲۱ تاريخ د شپې روان شو، د صاليحه غرونو ته ورسيده او د هغه ځايه د سمندر له لارې غزې ته ورسيد.

او بيا د شقحب له لارې مصر ته ورسيده.

په دويم سهار د دمشق خلک حيران وه؛ ځکه هغوی ته درست خبرونه نه وه رسيدلي، ددې وروسته قاضيان او فقها ماسره د ليدو لپاره د عادليه مدرسې ته راغلل او دا پريکړه مو وکړه، چې د امير تيمور نه بايد د خپل اهل و عيال لپاره امان وغوښتل شي؛ خو، کله مو چې د کلا د نائب سره وليدل، هغه دا کار خوښ

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

نکړ او نيوکه يې وکړه؛ خو هغوی د نائب خبره ونه منله او قاضي برهان الدين او ابن مفلح الخبلی د صوفيانو د شيخ سره د امير تيمور د ليدو لپاره روان شوه، هغه د امن ورکولو ژمنه ورکړه او بيرته يې را وليږل، چې هغوی بايد د ښار مشران او نور قاضيان ورته را وليږي.

قاضيان او نور مشران خلک بيا د امير تيمور ليدو ته ولاړل، امير تيمور تحفې او ډالۍ ګانې ومنلې او د امن ورکولو ليکونه يې وليکل او هغوی يې رخصت کړل، هغه ژمنه وکړه، چې دويمه ورځ به د ښار دروازې خلاصوي او خلک به خپل کاروبار ته پريږدي او دا يې هم وويل، چې امير تيمور به ښار ته ننوځي، حکومت به جوړوي او په خلکو به حکومت کوي، قاضي برهان الدين ماته خبر راکړ، چې امير زما نوم اخيستی دی او دا يې هم ويلي دي، چې زه فوځ سره مصر ته تللی يم، که تر اوسه دلته يم، برهان الدين ورته په ځواب کې ويلي وه، چې هغه تر اوسه دلته په مدرسه کې دی او هغه د پخوا څخه دلته اوسيده، موږ دغه شپه هغه ته د ورتګ لپاره چمتوالی نيوه.

د جامع جومات په انګړ کې د ځينو کسانو تر منځ جګړه شوه، ځينو خلکو د امير تيمور په خبرو باندې باور نه درلوده، زه د شپې ناوخته خبر شوم او وډار شوم، هڅې نه چې څوک مې ووژني، سهار هغو قاضيانو ته ورغلم، چې د ښار په دروازه کې راټول شوي وه، ما د هغوی نه د ښار نه و تلو اجازه وغوښته؛ خو، هغوی ونه منله، وروسته يې ماته د ښار نه د بيرون تګ اجازه راکړه.

د دروازې نه بهر مې د امير ځينې خاص خادمان وليدل او هغه شخص مې هم وليده، چې د دمشق په حکومت يې ګمارلی وه، ددې شخص نوم شاه ملک وه، چې دا شخص د امير د چغتايي د قبيلي څخه وه، ما هغه ته وويل، چې خدای تعالی دې تاته اوږد ژوند درکړي، بيا مې ورته وويل، چې زه ستا يرغمل يم، هغه راته کړه، چې موږ هم ستا يرغمل يو، شاه ملک ماته يوه سپرلۍ وړاندې کړه او د سلطان خاص خادم يې ماسره وليږه، چې ما امير ته ورسوي، کله، چې د امير خيمې ته ورسيدو؛ نو، ځواب راغی، چې ما دې په هغه بله خيمه کې، چې د ملاقاتونو لپاره ده، هلته کينوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

کله، چې زما د نوم خبر ورکړل شو؛ نو، زما د نوم سره يې د (مغربي مالکي قاضي) الفاظ زيات کړل، تيمور زه وغوښتلم او کله چې خيمې ته ورغلم؛ نو د خوراکونو قابونه يې له مخې تيريدل، دا قابونه هغو مغلو ته وړل کيدل، چې د دايرې په شکل د خيمې مخې ته ناست وه.

په داخليدو سره مې سلام وکړ، هغه خپل سر اوچت کړ، خپل لاس يې ماته راکړ او ما يې لاس چپ کړ، بيا يې ماته د کيناستو اشاره وکړه، وروسته يې يو معتبر حنفي عالم عبدالجبار بن النعمان راوغوښت، هغه د خوارزم اوسيدونکی وه، هغه يې ددې لپاره راوغوښت، چې زموږ دواړو تر منځ د ژباړن دنده تر سره کړي او هغه ته يې هم د کيناستو حکم وکړ.

هغه زما نه پوښتنه وکړه، چې ته د مغرب د کومې سيمې نه راغلی يې او د څه لپاره راغلی يې، ما ورته وويل، زه د حج د فريضې د اداء کولو لپاره راوتی وم، زه د سمندر له لارې مصر ته راغلم.

تيمور زما نه پوښتنه وکړه، چې الظاهر (سلطان) ستا سره څنګه رويه وکړه، ورته کړه مې، هغه زما درجه ومنله، زما يې قدر او مهمان نوازي وکړه او د حج د سفر لپاره يې توښه هم راکړه، الله دې په هغه رحم وکړي، تيمور زما نه پوښتنه وکړه، هغه ته څنګه قاضي مقرر کړې، ورته کړه مې، د الظاهر د وفات نه يوه مياشت مخکې د مالکي مسلک قاضي وفات شو، هغه فکر کاوه، چې ددې لپاره زه (ابن خلدون) وړ شخص يم، هغه زه په دې دنده مقرر کړم؛ خو، يوه مياشت وروسته هغه ومړ، هغو خلکو چې زه يې نه خوښيدم، زما پر ځای يې بل قاضي مقرر کړ، الله دې هغوی ته جزاء ورکړي.

بيا يې زما نه پوښتنه وکړه، ته چيرته پيدا شوی يې، ورته کړه مې، په مغرب کې دننه، چيرته چې زه د ملک الاعظم سکرتر وم.

هغه وپوښتم، په مغرب کې د دننه څخه مطلب څه دی؟.

ورته کړه مې، د هغه ځای خلک دننه هغه ځای ته وايې، چې ډير وروسته پاتې وي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

بیایې پوښتنه وکړه، فاس چیرته دی؟ ورته ومې ویل، دا د غرونو په منځ کې پروت ځای دی او بن مرین د حکومت مرکز دی.

ما ورته وویل، زه به ستا د لاس لاندې کار کوم. کله، چې د هغه څخه تلم؛ نو، هغه څه مې ورته ولیکل، چې هغه یې غوښتنه کړې وه او هغو لیکلو ته یې کتابي بڼه ورکړه.

خپلو خادمانو ته یې اشاره وکړه، چې ده ته د خیمې څخه ډوډۍ راوړی، ډوډۍ یې د هغې خیمې څخه راوړه، چې د (رشته) په نوم یادیده او ددې خیمې خلک د ډوډۍ په تیارولو کې زیات ماهر وه، د خوراکونو څو ډوله قابونه یې راوړل او زما مخې ته یې کیښودل، زه ودریدم، هغه مې واخیستل، ومې خوړل او ومې څښل، دا کار امیر تیمور ډیر خوښ شو.

بیا کیناستو او ټول غلي وو، هغه کار چې د شافعي مسلک د قاضي القضات صدرالدین المناوي سره شوی وه، په ویره کې یې اچولی وم.

ما وویل، الله دې تا ته بری در په برخه کړي! د نن نه دیرش، څلویښت کاله پخوا زه ستا د لیدو لیواله وم، ژباړونکي عبدالجبار وویل، او ددې وجه څه وه؟.

ورته کړه مې: ددې دوه وجې دي، لومړی هغه یې داده، چې ته سلطان العالم او د نړۍ حاکم یې، زه یقیني یم، چې د ادم علیه السلام نه واخله، تر دې وخت پورې به ستا په شان کوم بل واکمن نه وي تیر شوی، زه د هغو خلکو څخه نه یم، چې بې ثبوته خبرې کوي، زه د علم خاوند یم او دا خبره ثبوت ته رسولی شم، وروستني او مخکیني ټول پر دې خبره متفق دي، چې د نړۍ زیات خلک په دوه ګروپونو باندې ویشل شوي دي، عربان او ترکان، تاسو ښه پوهیږئ، چې عربان هغه وخت قوي شول، چې کله هغوی د خپل مذهب په پیروی کولو باندې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر شاوخوا باندې راټول شوه او د ترکانو خبره داده، چې د ایران د واکمنو سره جګړې او د افراسیاب لخوا د ایرانیانو او خراسان نیول، او د نړۍ ستر پاچاهان، هغه که کسری، قیصر، سکندر او یا هم بخت نصر وي، هغوی (ترکانو) ته نشي رسیدای، کسری د ایرانیانو پاچا وه؛

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

خو، ایرانیان له ترکانو سره کله جګړه کولای شي، بخت نصر د بابل او نبطیانو حاکم وه، د هغه او ترکانو جګړه؟.

دویمه وجه، چې زه یې د امیر تیمور د لیدو لیواله کړی وم، هغه داده، چې ستا په اړه ماته او ستا ټوله قیصه په مغرب کې ما اوریدلې ده.

هغه ماته وویل، تا د کسری، قیصر او سکندر تر څنګ د بخت نصر نوم هم واخیست، په داسې حال کې، چې بخت نصر هغوی ته نه شي رسیدای، هغوی ټول ستر پاچاهان وه.

هغه بیا زه وپوښتم، بخت نصر د کومو خلکو پورې تړلی وه؟ ورته کړه مې، د هغه په اړه په خلکو کې اختلاف موجود دی، ځینې وایې، چې د نبطیونو سره یې اړیکه درلوده، یانې د بابل د وروستیو پاچاهانو سره او ځینې وایې، چې هغه د لرغونو ایرانیانو څخه وه.

هغه وویل: ددې مطلب دا شو، چې هغه د منوجهر د اولادې څخه وه؟

ورته کړه مې، هو دا درسته ده او همداسې مشهوره هم ده. خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ او ویې ویل: موږ د خپلې مور له طرفه د منوشهر سره اړیکه لرو، ما ژباړونکي ته وویل، دا دویمه وجه وه، چې زما په زړه کې یې د امیر تیمور سره د لیدو لیوالتیا پیداکړې وه.

بیا امیر وویل: د بخت نصر په اړه په دې دوه نظرونو کې ستا لپاره کوم نظر قوي بریښي؟ ورته کړه مې، هماغه چې هغه د بابل د وروستیو پاچاهانو څخه وه (نبطیانو څخه)؛ خو، هغه دویم نظر ته ترجیح ورکړه، ورته ومې ویل، راځئ د طبري نظر وګورو، چې هغه څه وایې، هغه داسې مؤرخ دی، چې څوک د هغه په رایه باندې د بل چا رایې ته ترجیح نه ورکوي، هغه وویل، د طبري د قول منل خو واجب نه دي، ژباړونکی دې ایراني او عربي کتابونه راوړي او تا سره دې بحث وکړي، ورته کړه مې او زه به د طبري په رایه باندې بحث کوم، په دې سره بحث ختم شو او هغه چوپ شو.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه ته خبر ورکړل شو، چې د ښار دروازه خلاصه شوې ده او قاضیان د خپلې ژمنې د پوره کولو لپاره بیرون راوتي دي.

د تکلیف د لرلو سره، هغه زموږ له مخې نه اوچت شو او په اس باندې کېنول شو، په زین باندې کیناست او څلورو خوا باجې وغږول شوې، هغه د دمشق په لور روان شو او تربت منجک سیمې ته نږدې کوز شو.

هلته، یې مجلس جوړ کړ، د ښار قاضي او مشران یې خدمت ته حاضر شول، زه (ابن خلدون) هم هلته حاضر شوم، وروسته یې هغوی رخصت کړل او خپل نائب شاه ملک ته یې امر وکړ، چې هغوی دولتي تقدیرنامې ورکړي؛ خو، ما ته یې د کیناستو اشاره وکړه او زه یې مخې ته کیناستم.

هغه امرین یې راوغوښتل، چې د تعمیرونو د جوړولو لپاره یې ګمارلي وه، هغوی انجینران راوستل او د کلا شاوخوا اوبو په اړه یې خبرې وکړې، چې ایا کولای شو، دغه اوبه بیرون وباسو، هغوی تر ډیر وخت پورې په دربار کې ناسته وه او بیا یې رخصت کړل.

ما ته یې هم رخصت راکړ او د ښار دننه خپل ځای ته راغلم، زه په خپل کور کې بند وم، څرنګه، چې هغه ما نه د مغرب د حالاتو غوښتنه کړې وه، ما یې په لیکلو باندې پیل وکړ، په څو ورځو کې مې دا کار پای ته ورساوه او کله، چې مې د هغه خدمت ته وړاندې کړل؛ نو، زما له لاسه یې واخیستل او خپل سکرتر ته یې امر وکړ، چې مغولي ژبې ته دې وژباړل شي.

له دې وروسته هغه په ډیر قوي شکل سره ښار کلابند کړ، د کلا مقابل لوري ته یې، منجنیقونه، د اور او کاڼو و ورولو ماشینونه او درز اچونکي توپونه ودرول، دا کار په څو دقیقو کې وشو، محاصره نوره هم تنګه شوه او د کلا دیوالونه درز شول، په کلا کې داسې خلک وه، چې د امیر خدمت یې کړی وه؛ نو، ځینو ساتونکو د امیر نه د امان غوښتنه وکړه، امیر هغوی ته امان ورکړ او د امیر مخې ته راوستل شول، کلا یې له منځه یوړه او د کلا ټولې نښې یې له منځه یوړې.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

په هغو ورځو کې، چې زه د سلطان سره اوسیدم، تیک په هماغه ورځ، چې هغه کومو خلکو امان ورکړی وه، د کلا نه یو شخص راووت، دا شخص د مصر د خلیفه ګانو له اولادې څخه وه او الحاکم عباسي د کورنۍ څخه وه، هغه خپل ځان د امیر مخې وړاندې کړ او ویې ویل، چې: زما په معامله کې ما سره انصاف وکړه او ما ته خپل خلافت وسپاره؛ ځکه، هغه زما د مشرانو میراث دی.

سلطان تیمور ورته وویل: زه ستا لپاره قاضیان او فقها راغواړم او هغوی چې کومه پریکړه وکړه، هماغه به پلي کوم.

بیا تیمور قاضیان او فقها راوغوښتل، زه یې هم د هغوی سره ور وغوښتم، موږ هغه ته ورغلو، هغه شخص، چې د خلافت غوښتنه یې کوله، هغه هم حاضر شو، عبدالجبار وویل، دا د عدالت او انصاف ځای دی، هر څه چې وایې، هغه ووایه.

هغه شخص (الحاکم) وویل: دا خلافت زما او زما د مشرانو حق دی، هغه روایت بیخې درست دی، چې وایې، تر څو چې نړۍ وي، خلافت به د عباسیانو سره وي، زه د هغو خلکو په نسبت، چې نن په قاهره کې واکمن دي، د خلافت ښه حقدار یم؛ ځکه، چې دا زما او زما د مشرانو روا حق وه او دی او دغه شخص بغیر د کوم قانوني سند نه تر لاسه کړی دی.

عبدالجبار زموږ هر یو نه غوښتنه وکړه، چې بحث وکړو، موږ د څه وخت لپاره چوپ وو، وروسته هغه زموږ څخه وپوښتل، تاسو ددې روایت په اړه څه وایئ؟.

برهان الدین ابن مصلح ځواب ورکړ، دا روایت درست نه دی او بیا یې زما نظر وغوښت، څرنګه چې وویل شول، دا روایت درست نه دی.

سلطان تیمور وویل: ښه، نو بیا ولې تر اوسه پورې خلافت د عباسیانو په لاس کې وه؟ هغه دا خبره نیغه ماته وکړه او ما ورته وویل:

الله تعالی دې تاته برې درکړي، د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته د مسلمانانو تر منځ په دې اړه اختلاف موجود دی، چې ایا په مسلمانانو باندې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

واجب دي او كنه، چې هغوی په دنياوي او اخروي كارونو كې د ځان لپاره يو والي (مشر) وټاكي، د يوې ډلې نظر دادی، په دې ډله كې خوارج هم شامل دي، چې والي ټاكل واجب نه دي؛ خو، اكثريت وايي، چې ولايت واجب دی، ددې واجبيت سند څه دی؟، ټول شيعه د حديثو په وصيت باندې ټينګار كوي، هغوی وايي، چې پيغمبر عليه السلام حضرت علي (ک) ته د خلافت وصيت كړی وه؛ خو، حضرت علي (ک) وروسته د شيعه ګانو تر منځ دومره اختلافات رامنځ ته شول، چې شمارل يې ناممكن دي. د اهل السنتو ټولو علماوو ددې وصيت څخه انكار كړی دی، هغه د واجبيت سند اجتهاد بولي، ددې څخه يې مطلب دادی، چې مسلمانان بايد د ځان لپاره يو باايمانه، پوه او وړ شخص مشر وټاكي، تر څو د دوی امور په ښه طريقه سره سرته ورسوي او دوی بايد په ټاكلو كې زيات احتياط وكړي.

كله، چې علوي ډلې زياتې شوې؛ نو، د وصيت په رايه يې خلافت منتقل كړ، د محمد بن حنيفه د كورنۍ نه عباسي كورنۍ ته ورسيده، محمد بن حنيفه، محمد بن علي بن عبدالله بن عباس ته وصيت كړی وه، هغه خراسان ته هم خپل استازي ليږلي وه، هلته ابو مسلم دغه دعوت پر مخ وړه، دی د خراسان او عراق واكمن شو، ابوالعباس سفاح د عباسي خلافت مشر وټاكل شو، هغه د اهل السنتو او شيعه ډلو څخه يې د بيعت غوښتنه وكړه او هغوی د خليفه په توګه قبول كړ.

سفاح خپل ورور منصور ځای ناستی مقرر كړ او منصور خپل زامن خپل ځای ناستي وټاكل، په دې ډول خلافت په عباسيانو كې د جانشين ټاكلو يا د خلكو د خوښې مطابق پاتې شو، المستصم په بغداد كې وروستی عباسي خليفه وه، هلاكو خان ووژلو او خلافت يې رنګ كړ، پاتې كورنۍ يې يې قاهرې ته راغله، په دوی يو احمد الحاكم وه، چې د الراشد د اولادې څخه وه، هلته د الظاهر بيبرس لخوا د حل او عقد او فقهاوو په مشوره خليفه وټاكل شو، دا خلافت نن دغه شخص ته (چې په مصر كې واكمن دی) ورسيد، ددې پيښو څخه بغير نور ماته د كومې بلې خبرې علم نشته.

تيمور هغه دعوه دار ته مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل: تا د قاضيانو او فقهاوو خبرې واورېدې او ددې څخه مالومېږي، كوم خلافت چې ته زما څخه

د نورو كتابونو لپاره: www.ketabton.com

غواړې، هغه ستا حق نه دی، ته بیرته لاړ شه او خدای دې تاته سمه لاره در وښي.

د امیر تیمور نه وروسته د قاهرې په لور

کله، چې ما د تیمور سره لیدل، په دې وخت کې زما یوه ملګري، چې د هغه خلکو د رسم او رواج نه خبر وه، ماته مشوره راکړه، چې زه باید امیر ته یو قیمتي تحفه واخلم، ما هم د کتابخانې څخه د قران شریف یوه ښکلې نسخه، یو ښکلی جای نماز او یوه د ابوبصیري ښکلي قصیده، چې د حضر محمد صلی الله علیه وسلم په اړه یې ویلې وه، د ځانه سره واخیستل او د مصر د مټایانو یو ډبه مې هم د ځانه سره واخیسته او د تیمور خدمت ته حاضر شوم، په دې وخت کې هغه د قصر الابلق په دربار کې وه.

کله، چې هغه زه ولیدم؛ نو، ودریده او راسته طرف ته یې د کیناستو اشاره وکړه، زه کیناستم، دواړو خواوو ته د چغتایې د قبیلې مشران هم ناست وه، خادمانو تحفې واخیستې او تیمور زما په طرف متوجه شو، کله، چې یې د قران شریف نسخه ولیده؛ نو، ودریده او نسخه یې په خپل سر باندې کیښووده، بیا مې د هغې مخې ته قصیده وړاندې کړه، هغه د قران شریف او قصیدې په اړه زما څخه څه پوښتنې وکړې او ما هغه څه ورته وویل، چې ماته مالوم وه، بیا مې د هغه مخې ته جای نماز وړاندې کړ، هغه واخیست او ښکل یې کړ، د مټایانو ډبی مې هم ورکړ، هغه د رسم مطابق یو څو مټایي واخیستل او نور یې په خلکو باندې تقسیم کړل، هغه ټولې تحفې قبولې کړې او د خوښی اظهار یې وکړ.

ما د خپل ځان او هلته د موجودو دوستانو په اړه څه ویل غوښتل، ورته کړه مې، الله دې ستا مرسته وکړي، زه ستا حضور ته څه ویل غواړم، هغه وویل، وو ایه او ما داسې وویل:

زه په دې ملک کې دوه ډوله مهاجر (اجنبي) یم، لومړی دا چې زه د خپل هیواد مغرب نه لیرې یم، دویم دا چې زه د قاهرې نه هم لیرې یم، زما کورنۍ او قوم هلته په قاهره کې دي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه راته وویل، ووایه، څه چې ته غواړې هماغسې به وکړم، ما ورته کړه، دې وطن نه لیرې والي زما د زړه ټول خواهشات د یاده ویستي دي، خدای دې تاته بریا درکړي، تاسو ماته ویلای شی، چې زه څه غواړم؟.

هغه راته وویل، د ښار نه بهر لښکرګاه ته زما خواته راشه، زه به ستا لوی لوی خواهشات پوره کړم.

ما ورته وویل، تاسو د خپل نائب شاه ملک په نوم زما په اړه حکم صادر کړئ، هغه اشاره وکړه، چې امر دې اجراء کړای شي، ما د هغه مننه وکړه، دعا مې ورته وکړه او ورته کړه مې، زما یوه بله غوښتنه هم ده.

هغه وپوښتم، هغه څه؟

ما ځواب ورکړ، د قران شریف معلمین، دا معتمدین، دا دفتري خلک او نوره عمله، چې د مصر سلطان پرې ایښي دي، دا ټول ستا د لاس لاندې دي او پاچا به د هغوی نه، نه بې پروا کیږي.

هغه ماته وویل، ته د هغوی په اړه څه غواړې؟.

ما ورته کړه، د امن لیک (امان نامه).

هغه خپل کاتب ته وویل، چې امان نامه دې ولیکي.

ما د هغه مننه وکړه، دعا مې ورته وکړه، د کاتب سره بیرون راغلم، تر دې چې کاتب امان نامه ولیکله، شاه ملک د سلطان نه پرې مهر ولګوه، بیا زه خپلې خونې ته راغلم.

کله، چې د تیمور د تګ وخت راغی او د دمشق د پریښودو اراده یې وکړه؛ نو، زه یې یوه ورځ خدمت ته حاضر شوم، هغه راته وویل، چې ایا ستا سره دلته کومه کچر شته؟.

ورته کړه مې، هو!

هغه راته وویل، ایا هغه ښه ده!

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ورته ومې ویل، هو!

هغه راته وویل، ایا ته به هغه ونه پلورې؟ زه غواړم ستا نه یې واخلم؟.

ما ورته وویل، الله دې تا ته بریا درکړي، زما غوندې شخص، ستا غوندې شخص سره کله معامله کولای شي؛ خو، زه به یې هڅې ستا خدمت ته وړاندې کړم او که چیرته نور داسې څناور هم زما سره وي، ستاسو خدمت ته به یې وړاندې کړم.

په دربار کې زما په موجودیت کې، کچر راوړل شو او بیا مې ونه لیده.

یو ورځ بیا زه د هغه په خدمت کې حاضر شوم، هغه راته وویل، ایا ته قاهرې ته ځې؟.

ما ورته وویل، الله دې تاته بریا درکړي، زما غواړم، چې ستا خدمت وکړم؛ ځکه، تا ما ته پناه راکړې او زما کفالت دې کړی دی، که د قاهرې سفر ستا د خدمت لپاره وي، ښه خبره ده، زه به ستاسو لپاره لاړ شم، زما په زړه کې د قاهرې د تګ اراده نشته.

هغه راته وویل، نه! ته به خپلې کورنۍ او خلکو ته ولاړ شې.

ما د تیمور سره خدای پاماني وکړه او رخصت مې ترې واخیست.

زما او د قاصد تر منځ د لارې پر سر اختلاف رامنځته شو، د یو بل نه جلا شو، هغه د خپلې او د خپلې ډلې سره روان شو، د قبائلو یوې ډلې زموږ لاره ونیوله او هغه څه، چې زموږ سره وه، ټول یې راڅخه واخیستل، ځان مو ترې خلاص کړ او یو کلي ته ورسیدو، په داسې حال کې، چې تقریبا بربنډ وو، دوه، درې ورځې وروسته الصبیبه ته ورسیدو، هلته مو نوې جامې واغوستې، بیا صفدر ته روان شو او هلته هم څو ورځې تم شو.

بیا کوچنی اسیا ته ورسیدو، هلته مو یوه بیړۍ ولیده، چې د سلطان بن عثمان وه، د مصر طرف ته روانه وه او یو سفیر هم په کې وه، چې پیغام یې د ځان سره اخیستی وه او بیرته روان وه، د هغوی سره سپاره شو او غزې ته ولاړو، هلته

www.sikaraam.com

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

کوز شوم، بیا د هغه ځایه قاهرې ولاړم، زه د ۸۰۲ هـ کال د شعبان په میاشت کې هلته ورسیدم.

ما د مغرب واکمن ته یو لیک ولیکه، هغه څه چې زما او د تیمور تر منځ تیر شوي وه، هغه مې ورته ولیکل.

د لیک یوه برخه به یې دلته رانقل کړو:

زما سره د هغه د ملاقات پرته بله کومه لاره نه وه، زه د هغه سره ۳۵ ورځې وم، هر سهار او ماښام به د هغه خدمت ته حاضریدم، بیا یې زه رخصت کړم او په ډیر خوښ حالت کې یې ماته رخصت راکړ او زه بیرته قاهرې ته راغلم.

هغه ما نه کچر وغوښت، ما ورکړ، هغه، هغه اخیستل غوښتل؛ خو، ما مناسبه ونه ګڼله او همداسې مې ورکړه. هلته د سلطان فرج یو قاصد موجود وه، بیا یې د هغه په لاس ماته د کچر قیمت راولیږه او ما د الله تعالی شکر اداء کړ، چې د دنیاوې غمونو نه یې نجات راکړ.

دغه تاتاري خلک د جیحون د صحرا څخه راوتي دي، دغه علاقه د جیحون او چین تر منځ پرته ده، د دوی مشهور مشر چنګیز خان وه، سلجوقیان یې مات کړل او عراق پورې سیمې یې فتحه کړې او خپل سلطنت یې په خپلو درې ځامنو چغتایې، طولي او دوشي خان باندې تقسیم کړ.

چغتایي په ټولو کې مشر وه، هغه ته یې ترکستان، کاشغر، الصاغون، الشاش، فرغانه او جیحون ورکړل، طولي ته خراسان، عراق، فارس، سجستان او سند ورکړل شول، د هغه ځوی هلاکو وه او دوشي ته بلاد او د خوارزم ترکستاني حصه ور په برخه شوه.

د هغوی یو بل ورور هم وه، د هغه نوم اوقدائي وه، دی د ټولو مشر(سردار) وه، هغه ته به یې خان وایه، دا نوم په اسلامي هیوادونو کې د خلیفه د لفظ مترادف دی، د هغه کوم اولاد نه وه او مړ شو.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هلاکو بغداد، عراق، فرات او دیار بکر ونیول، شام یې هم فتحه کړ، هغه شام پرېښود او ولاړ؛ مګر، اولادې یې څو ځلې لښکر کشۍ پرې وکړې؛ خو، د مصر سلطانانو هغوی په شاه کړل، د هلاکو د اولادې حکومت د ۷۴۰ او ۷۴۹ هـ کلونو تر منځ ختم شو.

بیا د اتمې پیړۍ په اوومه یا اتمه لسیزه کې، د چغتایي کورنۍ یو بل امیر راپورته شو، چې امیر تیمور ورته ویل کیږي، په عوام کې د تمر په نوم مشهور دی.

امیر تیمور د ډیرو قوي پاچاهانو څخه دی، ځیني خلک علم د هغه پورې تړي، دوی د علي (رض) کورنۍ ته ډیر احترام لري، ځیني خلک د دوی پورې جادوګري هم تړي؛ خو، ما په کې هیڅ ونه لیدل او دا خبره درسته نه ده، حقیقت دادی، چې هغه (تیمور) ډیر ذهین او د بصیرت خاوند دی.

د هغه عمر د ۶۰ یا ۷۰ کلونو تر منځ دی، په یو جګړه کې یې راسته پښه لګیدلې ده، ګوډ دی، کله، چې نږدې ځي؛ نو، پښه یې ورپسې ځنګیږي؛ خو، کله، چې لیرې ځي؛ نو، خلک یې اوچتوي او بیا بوځي.

په هر حال، د خدای فضل دی، ملک د خدای دی او هغه یې، چې هر چاته وغواړي ورکوي یې.

په قاهره کې د قاضي په حیثت په دریم، څلورم او پنځم ځل ګمارل

ابن خلدون وایې:

کله، چې زه د امیر تیمور سره وم، په قاهره کې زما د مرګ خبرې خپرې شوې وې، د مالکي مذهب یو شخص جمالدین الاقفهسي د قاضي په دنده ټاکل شوی وه، دا شخص د قوي حافظې خاوند وه، لوی عالم او یو دیندار انسان وه، په مذهبي امورو کې ډیر محتاط وه هغه ددې کال په جمادي الاول کې مقرر شوی وه، کله، چې زه قاهرې ته ورسیدم، هغه ما ته متوجه شو، هغه د شعبان په اخر کې ماته په خپله خوښه دنده وسپارله، زه بیا قاضي شو، ما په ډیره ښه توګه دنده تر سره کوله او ټولې شخصي دښمنۍ او تربګنی مې هیرې کړې.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه خلکو زما مخالفت پیل کړ، کومو چې په ایماندارئ سره پریکړې نه کولې او هغوی د خپلو نفسونو سره انصاف هم نه کاوه، هغوی د سلطان نه غوښتل، چې یو بل مالکي قاضي جماالدین ابساطي دې مقرر کړای شي، دې شخص خپلو دوستانو څه رشوت هم ورکړ او په خپلو پریکړو کې یې د تخفیف ژمنه هم وکړه، خدای دې د هغوی سره حساب وکړي، هغه یې د ۸۰۴ هـ قمري کال د رجب په پای کې قاضي مقرر کړ، سلطان په خپله پریکړه بیا غور وکړ او هغه یې د همدې کال په پای له دندې ګوښه کړ، زه بیا قاضي شوم، حالات هماغسې وه، ابساطي یې د ۸۰۶ هـ کال په ربیع الاول کې بیا قاضي مقرر کړ، د حل او عقد مشرانو زه بیرته د همدې کال په رجب کې قاضي مقرر کړم؛ خو د همدې کال په شعبان کې یې بیا زه ګوښه کړم او ابساطي یې د قاضي په حیثت وټاکه، په دنیاوي کارونو کې ټولې کړنې د الله تعالی دي.

۲۳ کاله په مصر کې

ابن خلدون په مصر کې ۲۳ کاله تیر کړل د (۷۸۴ – ۸۰۸) پورې ؛خو، دومره د غمه ډک او خطرناک نه؛ مګر، دلته ابن خلدون زیاتې مادي ګټې ترلاسه کړې.

هغه ژوند، چې ابن خلدون په شمالي افریقا کې تېر کړی وه، هغه ډېر خطرناک او د ستونزو نه ډک وه، د هغه ځای ژوند به، کله د غربت سره مخ کړ او کله به یې لوړو پوړیو ته ورسوه، په مصر کې ابن خلدون د یو عادي فرد په څېر ژوند کاوه، د سیاسي چارو سره یې هیڅ تړاو نه وه؛ مګر، په شمالي افریقا کې په سیاست کې برخه اخیسته، په مصر کې یې سیاسي کالي وغورځول او د یو عالم، فاضل او محقق شخص کالي یې په تن کړل، په مصر کې ورسره د دوه سترو کارونو سره مخ شو، یو یې د کورنئ له منځه تلل او بل د ستر فاتح امیر تیمور سره لیدل.

په علمي کارونو، کې، یې دوه سترې لاسته راوړنې درلودې، یانې مشهور کتابونه تاریخ او مقدمه یې ولیکل، دا کتابونه یې مصر ته د راتګ نه مخکې بشپړ کړي وه، موږ ته په دې اړه مالومات نشته، چې په مصر کې د اوسیدو په دوران کې یې کوم کتاب لیکلی دی او کنه، هو! هلته سترې کتابخانې موجودې وې او

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

کیدای شي، چې د خپل کتاب په درستولو کې یې د هغو مأخذونو نه ګټه اخیستي وي، هغه په مصر کې د خپل ژوند ټول حالات د مرګ د وخت پورې ولیکل، کله، چې په شام کې وه؛ نو، شمالي افریقا د هیوادونو په اړه یې تفصیلي لیکنې وکړې او هغه یې د امیر تیمور مخې ته وړاندې کړې، په دې کې هیڅ شک نشته، چې د خطبو او تدریس پر مهال یې خپل نظریات او فلسفه هم بیان کړې ده.

په خپل وتلي کتاب مقدمه کې د مصریانو په اړه داسې لیکي:

مصری داسې قوم دی، چې د عیش، عشرت او د لوبو له ننداریو نه بې پروا دی، د ژور فکر او راتلونکي لید خاوندان دي. ابن خلدون وایي، چې ددې وجه د مصر پریوت(موقعیت) دی، د مصر اقلیم هم د مصر په خلکو باندې ژور اغیز لري، په دې وخت کې د مصر واکمن یو د بل سره په جګړو بوخت وه او د حسد او کینې فضا موجود وه.

د هغه په خطبو کې به وتلی مؤرخ او د حدیثو ستر استاد او پوه ابن حجر عسقلاني هم موجود وه، ابن حجر په خپل کتاب (د مصر قاضیان) کې وایي، چې، زه به زیاتره وخت د هغه خطبو ته حاضریدم او د هغه د علم په ځانګړي ډول د تاریخ د علم نه به مې ډیره استفاده کوله، هغه د علم خزانه وه، یو ستر شاعر وه او یو ښه نقد کوونکی هم وه، په حکومتي اصولو او حکومت باندې ښه پوهیده.

ددې تر څنګ ابن حجر په ابن خلدون باندې څه نیوکې هم کړیدي، هغه وایي، ابن خلدون یو تکړه مؤرخ وه؛ خو، په حقیقي علم باندې دومره نه پوهیده، په ځانګړي ډول د ختیځو هیوادو په تاریخي پیښو باندې یې پوره برلاستیا نه درلوده، مقریزي د هغه د کتاب ستاینه کړې؛ خو، ابن حجر پرې نیوکه کړې ده، ابن حجر وایي، هغه څه چې د ابن خلدون کتاب مقدمې ته یې بریا ورکړې، هغه د هغه د بیان طرز او په مهارت سره د الفاظو بیان دی، ابن حجر د هغه قاضي توب په اړه وایي، چې، ابن خلدون ډیر جدي وه، په داسې حال کې، چې مصریان د دومره جدییت او سختوالي سره عادي نه وه، هغه د لوړ پوړو، کاتبانو، چارواکو او شاهدانو سره د حد نه زیاته سختي کوله، ابن حجر په خپلو لیکنو په ابن خلدون باندې دیرې نیوکې کړي دي، ابن حجر وایي، ابن خلدون د خلکو سره

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

مینه کمه او نفرت یې زیات کاوه، د خلکو سره به ډیر په توند حالت کې مخ کیده، د عدالت خونې نه بهر به یې نرمي کوله، خلکو هیڅ نه خوښوه او خلک به هغه نه لیرې ګرځیدل.

دغه خبرې او نیوکې د شخصي تعصب او کینې ښکارندوی دي، د ستر مؤرخ ابن خلدون یو ستر دښمن البش بشي نومیده، بشي د ابن خلدون سرسخت دښمن وه، هغه هم د مصر دقاضیانو تاریخ لیکلی دی، د هغه لیکل شوی کتاب زما په لاسونو کې نشته، د هغه خبرې یوازې ابن حجر په خپل کتاب رانقل کړي دي.

د ابن حجر ذکر شوې خبرې ډیرې عجیبي دي، هغه د ستر مؤرخ د شخصیت دتیټولو عجیبه کوښښ کوي، د ابن حجر په شان نور سترو فقهاوو هم په ابن خلدون باندې نیوکې کړي دي، لکه، جماالدین البشي ښن، الرقیقي او بدرالدین العیني، دغه جګړ د نهمې هجري قمري پیړۍ پورې لیدل کیږي.

د ابن حجر شاګرد السخاوي هم په ابن خلدون باندې ډیرې نیوکې کړي دي، سخاوي د دروغو پیښو، غلطو نیوکو او دروغجنو داستانونو له مخې په هغه باندې نیوکې کړي دي، چې خپله کینه او حسد یې په خپل کتاب (الدعوة اللحمي) کې ښه ځرګند کړی دی؛ خو، په خپل یو کتاب کې یې، د ابن خلدون د کتاب مقدمې ستاینه کړې ده.

بل خوا، داسې یوه ډله هم وه، چې د ابن خلدون د کړنو او خدمتونو ستاینه کوله، دوی هر وخت د هغه خیر غوښت، ددې ډلې مشري تقي الدین المقریزي کوله، دی په ځوانی کې د ابن خلدون درسونو ته حاضریده او د هغه د علم، نظریاتو او افکارو څخه ډیر اغیزمن شوی وه، مقریزي به د ابن خلدون نوم ډیر ستر یاداوه، هغه ته یې د (زموږ سردار، زموږ استاد، ستر مفکر، نابغه، باعمله عالم، بې جوړې قاضي) لقبونه ورکړي وه، په خپل کتاب (السلوکي) کې یې د ابن خلدون د مصر او شام د حالاتو ذکر کړی دی، هغه په خپل یوه کتاب (درود العقود الفریضه) کې د ابن خلدون کتاب (مقدمه) یو ستر شهکار بللی دی، هغه وایې، دا یو بې مثاله کتاب دی، ددې په شان کتاب لیکل د نورو خلکو و وس کار

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

نه دی، دا یو ډېر علمي او سائنسي کتاب دی، دا کتاب د کائناتو په حالاتو باندې خبرې کوي او د بیان انداز یې بې مثاله دی.

ابن حجر د مقریزي د ستاینې مخالفت کړی دی، ابن حجر او شاګرد یې السخاوي د مقریزي خبرې دروغ بللي دي، ابن حجر وایې، چې مقریزي فاطمي وه او د ابن خلدون ملاتړی وه، وروسته وایي، چې مقریزي د ابن خلدون په موقف باندې نه پوهیده.

د مقریزي تحقیق، توضیح او تشریح د ابن خلدون سره زیات ورته والی لري، مقریزي د قومونو د زوال په اړه درې ټکي وړاندې کړي دي.

۱- د حکومت په لوړو ځوکیو باندې د بدو اشخاصو ټاکل، که مذهبي خلکو وي که نظامي، د هغو لوړو خلکو جهالت، کم علمي او نا اهلي.

۲- د ځمکو د ټیکې ورکولو لوړوالی نسبت عام تولید ته.

۳- د پیسو قیمت غورځیدل.

ددې درې عواملو تائید په مصر او نورو اسلامي ملکونو کې هم شوی دی.

وروسته هغه په ټولنیز حالت باندې خبرې کوي او مصري ټولنه په اوو طبقو باندې ویشي.

۱- دولتي چارواکي

۲- سوداګر، ځمکوال او نور امرین

۳- دوکانداران او نور کوچني سوداګر او کوچني ځمکوال

۴- بزګر او مزدوران

۵- غریبان، فقها او طالبان

۶- کارګران، فنکاران او ټیټ رتبه خلک

۷- زیات غریب خلک، چې په خیرات باندې خپل ژوند تیروي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

په ټولنیزو چارو کې مقریزي د خپل استاذ ابن خلدون نه اغیزمن شوی دی او د خپل استاذ د تحقیق او څیړنې لار یې نیولې ده، لکه، څرنګه چې مو په پورتنې مثال کې ولیدل. ابن خلدون هم په خپل کتاب (مقدمه) د قومونو په عروج او زوال باندې خبرې کړي دي، د هغوی علتونه یې، پیسې، محصولات، عدالتي نظام، انصاف او بې انصافي، د مساواتو نه موجودیت او نور بیان کړي دي، چې په یو تمدن باندې ستر اغیز لري.

یو بل مصري مؤرخ، ابوالحاسن ابن تغري بیروي هم د ابن خلدون د علم، لیاقت او فضلیت ډیره ستاینه کړې ده، هغه د خپل استاذ مقریزي په شان د ابن خلدون نه اغیزمن شوی وه، د ابن خلدون د قاضي توب د دندې یې ډیره ستاینه کړې ده، وایې، چې د ډیر علمیت خاوند وه او هر خاص او عام به یې احترام او درناوی کاوه.

د ابن خلدون د کتاب په اړه مهمه خبره داده، چې د هغه وخت زیات علماوو او ادیبانو ترې استفاده کوله، د بیلګې په توګه، ابوالعباس القلقاشذي په خپل کتاب (صبح العشاء) کې ځای، ځای ترې ګټه اخیستې ده.

پورته د ابن خلدون د ژوند د مصر حالات په لنډ ډول بیان شول، د ستر مؤرخ ۲۳ کلن ژوند، چې هلته (مصر) کې یې تیر کړ، د شمالي افریقا د ژوند نه بیخې بدل وه، په افریقا کې یې د یو سیاسي شخصی په توګه فعالیت کاوه او په هر ډول سازشونو کې دخیل وه؛ خو، په مصر کې یې بل ډول ژوند غوره کړ، په مصر کې د یو عالم او فاضل شخص په حیث راڅرګند شو، په شام کې یې د امیر تیمور او افریقایې هیوادونو تر منځ دوستانه اړیکې جوړې کړې؛ خو، د مصر په سیاست کې یې هیڅ ونډه نه درلوده.

د ښځې او ماشومان له منځه تللو ډیر خفه او غمجن کړی وه، د هغه په ذهني فشار کې یې زیاته ونډه درلوده، هغه ددې پیښې په اړه وایې: دې پیښې زه ډیر زیات خفه کړم، ما د یوه راهب په توګه د ژوند تیرولو پریکړه وکړه.

دا ډیره مهمه پوښتنه ده، چې دا ستر مؤرخ په مصر کې چیرته اوسیده؟.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن حجر د جماالدین البش بشي نه دوه روایتونه رانقل کړي دي، هغه وايي، زه یوه ورځ د الصلیحیاه طرف ته روان وم، چې ابن خلدون مې ولید، خپل کور ته روان وه، د هغه سره یې ځیني معاونین او قاضیان هم وه، ددې څخه مالومیږي، چې ابن خلدون د الصلیحیاه سره نږدې چیرته اوسیده، یانې په هغه ځای کې، چې چیرته یې چې مدرسه درلوده. دویم روایت داسې دی، کله، چې په ۸۰۳ هـ کال د دمشق نه مصر ته راغی او قاضي القضات مقرر شو؛ نو، د نیل د رود په غاړه یې ژوند تیرول غوره کړل، ددې څخه مالومیږي، چې ستر مؤرخ د نیل د رود په کومه کلیواله سیمه کې اوسیده، دا هم شونې ده، چې هغه په الفسطاس کې ژوند تیر کړی وي؛ ځکه، هلته د مصر د امرینو ښکلي کورنه جوړ شوي وه.

د ستر مؤرخ په د وفات په اړه، السخاوي وايي، چې هغه د باب النصر نه بیرون د صوفیاء په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی، مقریزي وايي، دغه هدیره په اتمه هجري پیړۍ کې د الصلیحیاه د مدرسې صوفیانو د صوفیانو د ښخولو لپاره اباده کړې وه.

هغه واده کړی وه؛ خو، داسې مالومیږي، چې هغه خپلې ښځې او ماشومانو ته دومره اهمیت نه وه ورکړی، دا خبره د هغوی د مرګ نه وروسته ښه جوتیږي، چې هغه یې دومره ډیر نه وه غمجن کړی، څومره چې په کار وه، هغه خپله وايي، په ما باندې یو مصیبت راغی، چې زما مال او اولاد یې د قیامت د ورځې پورې ضایع کړ.

که چیرې د هغه مشهور هیوادوال وزیر ابوالقاسم مغربي، چې د فاطمیانو، عباسیانو، عراق، شام او نورو سلطنتونو د پاچاهانو په دربار کې یې زیات نفوذ درلوده او د ابن خلدون نه درې پیړۍ وړاندې یې ژوند کاوه، هغه ددې لست څخه وباسو؛ نو، په اسلامي تاریخ کې، د ابن خلدون نه زیات پوه، ذهین، د خپلو خواهشاتو لپاره د مذهب قربانوونکی وه او نورې ځانګړتیاوې په کې موجودې وې، چې د هغه په شان بل لیکوال کې نشته، زموږ لپاره د ابن خلدون ذهانت، لوړ فکر، د علم پراختیا، پوخوالی او د رایې سختوالی ډیر مهم دی. ابن خلدون یوازینی شخص وه، چې فلسفه یې په ټولنیز قالب کې واچوله، دا به ډیر ناوړه او

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

غلطه خبره وي، چې موږ د ابن خلدون غوندې شخصيت باندې نيوکه وکړو، په داسې حال کې، چې د هغه په لوړوالي کې هيڅ شک نشته.

ابن خلدون د ۷۴ کلونو په عمر، د ۱۴۰۶ ز کال د مارچ د مياشتې په ۱۵ ورځ وفات شو، دا ستر او رنګين ستوری پريوت او د قاهرې په صوفياء هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

دويمه برخه

ابن خلدون يو فلسفي، تاريخپوه او ټولنپوه

د ټولنپوهنې بنسټ ايښودونکی

ابن خلدون تاريخ داسې يو علم بولي، چې بايد په پوره بې طرفۍ سره ولوستل شي، هغه تاريخ په نويو اصولو او نوي انداز کې وړاندې کړ، هغه په خپله مقدمه کې داسې اصول وړاندې کړي، چې د هغې په رڼا کې د تاريخ زده کړه اسانيږي، په دې کار سره، د تاريخ په نقد، تجزيه او پوهه لاسته راوړلو کې اسانی پيدا شوې.

ابن خلدون تاريخ د يو ازاد علم په توګه ومونډ، هغه تاريخ يو دلچسپ علم بولي، هغه دې کار ته د تحقيق او څيړنې له لارې ورسيد.

ابن خلدون تاريخ د يو علم په شکل وړاندې کړ، داسې علم، چې د تير وخت رښتيا او دروغ ټول ثبتوي، تاريخ د ټولنې کړنو، مسائلو او ستونزو ته د حل لارې لټوي؛ ځکه، نو تاريخ داسې يو علم شو، چې د ثبوت نه بغير کوم دليل نه مني.

ابن خلدون ددې علم (تاريخ) په واسطه د انساني ټولنې د ټولو اړخونو، د کوچيو قبائلو نه واخله تر د متمدنو ټولنو، ښارونو او هيوادو د خلکو مطالعه کوي، هغه د قومونو د عروج او زوال عوامل بيانوي، څنګه يو قوم د پرمختګ په

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

لاره قدم بږدي، بیا مخکې ځي، ځواني پرې راځي، زړیږي او وروسته بیا ډوبیږي. هغه د حکومت او ټولنې خصوصیات، د هغو د جوړولو عناصر، انساني ټولنې، واکمن او رعیت او په ټولنیز ژوند کې موجودې ستونزې او بالاخره د هغوی په له منځه تلو باندې تبصرې کوي.

ابن خلدون په ټولنه کې ټولنیز او اقتصادي حالت، د واکمنو څخه د خلکو غوښتنې، د معاشاتو منبع، ساینسي علوم، صنعت او تجارت په اړه خبرې کړي دي، کومه مبالغه یې نه ده کړې، بلکه هر څه یې، چې ویلي حق او ریښتیا یې ویلي دي.

ابن خلدون خپل کتاب په شپږو لویو برخو ویشي، لومړی برخه کې انساني ټولنه، ډولونه یې او په نړۍ کې یې په رول باندې خبرې کوي، دویمه برخه کې په کوچیاني ټولنو، قبائلو او وحشي قومونو باندې غږیدلی دی، په دریمه برخه کې په حکومت، خلافتونو، حکومتونو، پاچاهیو او د هغوی په رول غږیدلی دی، له دې وروسته په متمدیو ټولنو، هیوادونو او کلیو، سوداګرۍ، د معاشاتو منبع او په اخر کې په ساینسي علومو باندې یې په تفصیل سره خبرې کړي دي.

ټولنیزه نظریه

د ابن خلدون نه مخکې هیچا هم په دې موضوع باندې بحث نه دی کړی او نه یې کوم ځانګړی کتاب پرې لیکلی دی، یوناني فیلسوفانو په نورو امورو باندې بحث کړی؛ مګر، ځینو ځایونو کې یې دې موضوع ته هم اشاره کړې ده، هغوی دې موضوع ته کوم مستقل حیثیت (شکل) نه وه ورکړی، ابن خلدون هم په خپل کتاب کې دا یوه ځانګړې موضوع نه ده ګڼلې، هغه د انساني ټولنې په پرمختګ باندې بحث کړی دی، چې ددې په وجه باندې په ټولنه کې تغیرات منځ ته راځي، ابن خلدون د انساني ژوند دوه اساسي اصول بیان کړي دي.

ابن خلدون د انساني ژوند لومړی اصل د یو ځای اوسیدو بیان کړی دی، لکه څنګه چې د انساني ټولنې اساس په ورورۍ باندې ایښودل شوی دی، د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره هغه نورو خلکو ته اړ دی، که انسان یو ځای ژوند ونه کړي؛ نو، ژوند به یې ډیر خراب شي. هغه دې حالت ته په کتو سره انسان یو

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ټولنيز حيوان معرفي کړی دی، د ابن خلدون په نظر دويم اساسی اصل هغه دفاعي اړتياوې دي، هغه وايي، حيوانات دې ته اړتيا نه لري، چې د هر يو نسل ځانګړې ساتنه وکړي او يوه، يوه ډله جوړه کړي، الله تعالی هر ځناور ته د دفاع لپاره اعضا ورکړي دي او خپله ساتنه په خپله کولای شي او د هغوی ډله بندي (ګروپ بندي) ضروري نه ده؛ خو، الله تعالی انسان ته داسې دفاعي ځواکونه نه دي ورکړي، هغه وايي، د انسان ټولنيزيدل ډير مهم دي او دې ډول ټولنې ته د (عمران) يا (ټولنې) نوم ورکوي، هغه وايي، کله، چې ټولنه منځته راشي؛ نو مور ته د سياست ضروروت دی.

ابن خلدون وايي، انسان لکه حيوان دی؛ ځکه، د ژوند اساسي اړتياوې لکه غذا غوښتل، د ځای پيداکول او يا نور صفات په دواړو کې يو شان دي، هغه څه چې انسان ته يې په حيوان برتري ورکړې، هغه فکر دی، انسان د فکر پواسطه د خپلو همجنسو سره په معامله کې غور کوي او ټولنيز ژوند خپلوي، د فکر همدا قوت انسان ته بدي او نيکې ښيي، د همدې فکر پواسطه انسان علم او فن زده کوي، ددې پواسطه انسان خپل راتلونکی روښانه کوي، همدا فکر دی، چې انسان د انبياوو د علم نه خبروي او د اخرت درسته لاره ورته ښايي، ددې پايله دا شي، چې د علماوو يوه ټولنه رامنځته شي او هغوی دا علم نورو ته رسوي.

د ابن خلدون ټولنيزه فلسفه

د ټولنيزو علومو د قانون په تدوين(ليکلو) کې ابن خلدون د ټولو ليکوالو څخه مخکې دی، دده نه مخکې د يونان فيلسوفانو ځينې کارونه کړي وه، يو چا ريښتيا ويلي دي، چې د ابن خلدون د مقدمې د کتاب په مقابل کې د يونانيانو تاريخ هيڅ دی، د ابن خلدون کتاب (مقدمې) د اروپا د خلکو توجه د ختيځ د خلکو په لور راوګرځوله.

ابن خلدون د تمدن دوه اړخه وړاندې کړي دي، يو خارجي او بل داخلي، د خارجي څخه يې موخه طبيعت دی، لکه، ديني عقائد، اب و هوا سکونت ـ او د داخلي څخه يې موخه هغه څه دي، د کوم په واسطه چې يو تمدن يا يوه ټولنه پرمختګ او ژوند کوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون له نظره انسان طبیعتا ټولنیز دی، دا د یونان او عربو هغه نظریه ده، کومه چې اکست کونت په خپله وضعیه فلسفه کې په څلورم جز کې بیان کړې ده، ابن خلدون د ارسطو ددې نظریې سره موافق دی، چې ټولنه د فرد لپاره د بریا ځای دی، دا هماغه نظریه ده، کومه چې هربرت سپنسر په خپله فلسفه کې بیان کړې ده، ابن خلدون ځینې داسې واقعیتونه رامنځته کړي، د کومو سره چې یوناني فیلسوفان نا اشنا وه، ابن خلدون د انساني او حیواني ټولنو امتیازات بیان کړل، هغه وایې، د حیواني ټولنې عادت طبیعي وي؛ خو، د انساني ټولنې طبیعت د عقل، فکر او غور نتیجه وي.

میکیاویلي د ابن خلدون سره ورته نظر لري او مونتیسکو هم د ابن خلدون د نظریې سره موافق دی.

ابن خلدون په اب و هوا (اقلیم) باندې بحث کړی دی او هغه یې د ټولنې یو لومړنی عامل ګڼلی دی، ابن خلدون ځمکه په اوو اقلیمونو باندې ویشلې ده، هغه وایې، په ځمکه کې د برودت او زیات حرارت په رامنځته کیدو سره زیات اختلافات رامنځته کیږي، ابن خلدون وایې، چې د انسان په اخلاقو او جسم باندې د برودت او حرارت ژور تاثیرات وي یا په نورو ټکو، د قومونو او هیوادونو په مدنیت او کوچیتوب کې اختلافات لیدل کیږي، انګریز مؤرخ (بکل) هم ابن خلدون ته ورته نظر لري.

ابن خلدون وایې، د اطرافو او لیرې پرتو هیوادونو خلک د تمدن نه بې خبره وي، څلور اقلیمونه، حرارت او برودت د ټولو نه زیات اغیزمن رول لري، دا ټول په ابادۍ، تمدن، د علومو په پرمختګ او قوانینو کې زیات اهمیت لري.

د ابن خلدون او مونتیسکو دواړو نظر یو شان دی، حقیقت دا دی، چې دا دواړه د یوناني فیلسوفانو بقراط، ارسطو او فرانسوي جان پودن په لار روان دي.

د ابن خلدون له نظره د انسان د ټولنیزیدو لپاره دریم عنصر مذهب دی، چې دا د هرې انساني ټولنې لپاره ډیر مهم دی، هغه ددې نظریې د ثبوت لپاره مذهبي او فلسفي دلائل وړاندې کوي، چې ابن رشد هم په خپلو کتابونو کې ترې یادونه کړې ده.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د اندلس د حکیم (ابن رشد) په شان ابن خلدون د مذهب او فلسفې د یو ځای کولو کوښښ کړی دی، ددې کوښښ په وجه د ابن خلدون اهمیت زموږ سره کمیږي؛ ځکه، د هغه استاذ او مشر ابن رشد په حقیقت کې فلسفي نه وه، بلکه د یوازې د فلسفي کتابونو ژباړن وه، ابن رشد د ارسطو د فلسفې کتاب عربي ته وژباړه، ابن رشد د ارسطو کتاب د حکمت پای ګڼلی وه، ابن رشد داسې یو شخص وه، چې د اسلام د شریعت او یوناني فلسفې تر منځ یو ځای والي رامنځته کړي، ابن رشد هیڅوک هم په دې خبره باندې قانع نه کړل، هغه مذهب ته داسې ځای ورکړ، چې یوه فلسفي هم نه دې ته تیار نه وه، چې د ابن رشد نظر دې ومني، د فیلسوفان دا کار د ابن رشد د خفګان سبب وګرځید او د مذهب پر ضد یې ترې کار واخیست؛ خو، په دې کار سره د ابن رشد په درجه کې کوم کمی رامنځته نه شو؛ ځکه، هغه په خپل فکر او نیت کې درست وه، هغه داسې یو مذهب غوښته، چې اساس یې په عقل او فلسفې باندې اینودل شوی وي؛ خو، د کفر په اړه دې کومه خبره په کې نه وي.

د عصبیت نظریه

ابن خلدون وایي، چې د کوچیتوب ژوند د هرې ډلې یا قبیلې لومړنی دوره ده او دا د انساني طبیعت سره مخالف کار نه دی، دائمي سفر، د ځای تغیرول د ژوند د بدلولو ځانګړتیاوې دي، د کوچیانو ژوند د رمو پورې تړلی دی، هغه دوی یې څروي، که اوښان ورسره وي؛ نو، په صحراګانو کې ژوند تیروي؛ ځکه، د هغه ځای طبیعت او ظاهري ښکلا د اوښ د طبیعت سره برابره ده، که چیلۍ وي؛ نو خپل ژوند په درو کې تیروي؛ ځکه، ددې ډول حیواناتو لپاره دا ځای مناسب دی، د کوچیانو قوت او طاقت د هغوی یو ډول امتیاز دی، په نورو خلکو باندې.

ابن خلدون وایي، عصبیت داسې یو شی دی، چې قبیلې په مینه او

محبت باندې مجبوري او هغوی ته د اتحاد او اتفاق درس ورکوي، دوه شیان دي، چې عصبیت ته قوت ور ښښي، یو د عادت (اخلاقو) احترام او عزت او بل په دایمي ډول د جنګ او دفاع ضرورت، ابن خلدون وروسته په قبیلو باندې بحث کوي، هغه وایي، هره قبیله په څلوریشتم پښت (پشت) کې خپل لوړ اخلاق او

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

صفات له لاسه ورکوي، هغه وايې، چې د ويني پاکوالی او د جنس لوړالی دوه داسې اصول دي، چې په دې واسطه باندې يوه قبيله قوت حاصلوي او خپل عصبيت ساتي، ددې نه بغير يوه قبيله هم ژوند نه شي کولای او نه د دښمن مقابله کولای شي، دی وايې، يوازې هغه قبائل ژوندي پاتې کيدای شي، چې عصبيت کې بريا تر لاسه کړي.

ددې وروسته ابن خلدون د قبيلو په هغه حالت باندې غږيږي، چې د جنګونو په واسطه سلطنتونه جوړوي، د ابن خلدون دا نظريه په عربو او د بربرو په تاريخ باندې، کوم چې د ځانګړو قبائلو تاريخ دی صدق کوي او دا نظريه يې د اسلام په تاريخ، کوم چې د هيوادونو تاريخ دی، هم صدق کوي. په حقيقت کې ابن خلدون د ختيځ سياسي ليکوال او د لويديځ د سياسي ليکوالو څخه مخکې دی.

ابن خلدون وايې، چې عصبيت او برتري د قبائلو قوت ته وده ورکوي؛ خو، ددې دواړو په څنګ کې يو بل دريم عامل ته هم ضرورت دی، چې هغه سياست يا مذهب دی، دا دريم عامل د قبائلو ګټې خوندي ساتلی شي او کولای شي، چې فتحه او بريا ور په برخه کړي، يا د ابن خلدون نظر داسې دی، چې قبيله هر څنګه وي، بيا هم هغوی ته د يو لوړ شخص ضرورت شته، چې د هغه طرف ته رجوع وکړي او د ټولو اميدونو نظر يې هلته وي، ددې مثال يې د اسلام نه مخکې عربي قبائل ورکړي دي، وروسته ابن خلدون په هغو قومونو باندې خبرې کړي دي، چې پاچاهی يې له منځه تللي دي يا نورو قوي قومونو له منځه وړي دي، بيا يې د بريا او فتحې شرائط او عوامل بيان کړي دي، د هغوی ستونزو ذکر يې هم کړی دی، د کومو سره چې فاتح اشخاص مخامخ کيږي.

د قومونو د عروج او زوال عوامل

ابن خلدون د قومونو د زوال درې عوامل بيان کړي دي.

۱- د اشرافو کمزوري

۲- د فوځ تشدد

۳- عيش و عشرت

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ددې عواملو په موجودیت کې، یو سلطنت نه شي کولای، چې د دریو پیړیو نه زیات حکومت وکړي، دا هم لکه د انسان په شان د کوچنیوالي، ځوانی او زوړوالي دور تیروي؛ خو، دا هم امکان لري، چې یو سلطنت په لومړي وخت کې د زوال سره مخ نشي، موږ وایو، چې دا نظریه د اسلامي دور سره سمون خوري؛ خو، د نورو سلطنتونو سره سمون نه خوري، د ابن خلدون د مشرۍ او فتحې اکثره نظریات د میکیاویلي د کتاب (شهزاده) سره ورته دي؛ خو، په دې کې شک نشته، چې ابن خلدون د میکیاویلي نه مخکې دی او ابن خلدون پرې برتري لري؛ ځکه میکیاویلي د فلورانس حکیم وه او د ابن خلدون نه مخکې تیر شوی دی.

د ابن خلدون د ژوند پیښې او اخلاقي شخصیت د میکیاویلي سره تقریبا زیات ورته والی لري، د دواړو تر منځ یوه پیړۍ توپیر موجود دی، دا دواړه تقریبا د یو شان اشخاصو د فکر نه متاثره شوي دي او دواړه د انساني اخلاقو، قوانینو او قومونو په اړه یو شان تجربه او علم لري.

ابن خلدون د ابن رشد فلسفه په ژور ډول مطالعه کړې وه او د خپل وخت د زیاتو عقایدو د خپلولو کوښښ یې کړی وه، په دوه مسائلو کې ابن خلدون ته په اګوست کومت باندې برتري حاصله ده، یو د ابن خلدون دا نظر، چې فلسفه د موجوداتو علم دی، د ارسطو په شان خلک، چې استاذ یې بولي، ددې غوندې فکر نه خبر نه وه، د ابن خلدون دا نظر اګوست کومت شپږسوه کاله وروسته وړاندې کړ، په دې مسئله کې ابن خلدون د ارسطو څخه هم مخکې دی.

دویم، د ابن خلدون دا قول، چې په انساني ټولنه کې قواعد او قوانین موجود دي، په دې قوانینو سره ابن خلدون ټولنیز علوم په منظم صف کې داخل کړل، په دې اصولو کې هم ابن خلدون ته په اګوست کومت باندې برتري حاصله ده، د هغه په نظر ددې فلسفې اساس په دوه امورو باندې اینودل شوی دی، یو د قومونو مطالعه او تجربه یې، دویم د قوانینو ادارک، کوم چې په ټولنو کې موجود وي او د عقلي تجربو او فکر په واسطه پراختیا مومي، اګوست کومت چې کله، هم خپلې دوه نظریې (سکونیات او حرکیات) تشریح کوي؛ نو، د ابن خلدون په

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

فکر باندې هیڅ شی نه اضافه کوي؛ ځکه، هغه وایې، چې د تجربې او علم په واسطه موږ حقائق لاسته راوړی شو او د عقل په واسطه عقل مالوم‌ولای شو.

ټولنه او کلتور

ابن خلدون انساني فطرت په ژور ډول مطالعه کړی وه او د یو نوي علم، کلتور او سائنس اساس یې ایښی وه، د ابن خلدون په نظر د کلتور څخه موخه د انساني فطرت تجزیه او د انساني ټولنې د جوړولو عوامل پیداکول دي، ددې تر څنګ د تاریخ د بیروني واقعاتو څخه داخلي واقعات څیړل دي او سپړل دي.

تاریخ او د کلتور علم د یو حقیقت د دوه اړخونو د مطالعې نوم دی، تاریخ بیروني واقعات مالوموي؛ خو، د کلتور علم د دغو واقعاتو عوامل تشریح کوي، په دې مانا چې د تاریخ نه وروسته د کلتور علم راځي، ابن خلدون په دې اړه څو شیان ذکر کړي دي:

۱- انسان په طبیعي ډول په ډلو باندې ویشل شوی دی، یا انسان د نورو انسانانو سره یو ځای ژوند کولای شي، انسان په یوازې ځان هیڅ هم نه شي کولای؛ ځکه، هغه په جسماني ډول د نورو حیواناتو نه کمزوری دی، موږ (انسانان) د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نورو انسانانو ته اړتیا لرو، که داسې ونکړو؛ نو، نه شو کولای، چې د ځآن لپاره خوراک او ژوند برابر کړو.

۲- انسان او ټولنه په داخلي او بیروني ډول یو د بل سره اړیکه لري، په داخل کې انسان په خپل جسماني قوت باندې تکیه کوي او په بیرون کې په خپل جغرافیایې محیط یانې اب و هوا باندې تکیه کوي او دا شیان په انسان باندې ژوره اغیزه لري.

۳- د انسان او ټولنې اړیکه د روحانیت سره هم نه شلیدونکې ده، یانې هغه نړۍ، چې درک کول یې ناشوني دي.

د ابن خلدون په نظر د کلتور علم یو خپلواک علم دی، د ابن خلدون مخکې هیڅ شخص په دې اړه مطالعه نه ده کړې.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون په فکر یوناني پوهانو ځکه په دې اړه مطالعه ونکړه، چې هغو فیلسوفانو د علم په پایلو کې زیاته دلچسپي درلوده؛ خو، د کلتور د علم موخه د تاریخي بیاناتو اصلاح ده او د هغوی په نظر دا کومه ستره موخه نه وه.

د ابن خلدون په نظر ددې نوي علم موضوع انساني نظم رامنځته کول دي، یانې کوم کلتوري مسائل، چې مخې ته پراته دي، هغه د مختلفو ماحولونو پورې تړلي دي، ددې علم لاره په منطق، دلیل او ثبوت باندې ولاړه ده، ددې علم موخه دا هم ده، چې په تاریخي بیاناتو کې ریښتیا او دروغ جلا کړل شي.

نور علوم هم انساني نظم تر څېړنې لاندې نیسي، د هغوی اساسي روشونه د نظر لاندې نیسي، دلیل او ثبوت څېړي، د دروغو او ریښتیا تر منځ توپیر مالوموي؛ خو، د کلتور برتري په دې کې ده، چې دا ټول اړخونه په یو ځل د څېړنې لاندې نیسي او ټول لازمي جزونه دي.

ددې علم موخه د نورو علومو سره توپیر لري؛ ځکه، نو باید دا د یو خپلواک علم په توګه ومنل شي.

د ابن خلدون په نظر د کلتور د علم نه مخکې نور علوم هم موجود وه، چې د نوي ساینس سره مشابه وه، ابن خلدون د پنځو علومو نومونه اخیستي دي، لومړي دوه فنون دي، چې خطابت او سیاست دی، چې پیل یې په یونان کې ایښودل شوی وه، ددې وروسته د اسلامي علومو نوم اخلي، چې په دې کې د وړاندوینې ثبوت او د اسلامي فقهې اساسات شامل دي او اخري علم یې حکیمانه اقوال بللي دي.

د هغه په نظر، فن او خطابت کومه ځانګړې موضوع تر څېړنې لاندې نه نیسي.

د ابن خلدون په نظر سیاست د کور یا ښار په حالاتو کې د تنظیم او ترتیب سره اړیکه لري، ابن خلدون دلته د اخلاقو لحاظ ساتي، تر څو د راتلونکي نسل ساته وکړي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د سیاست د علم موخه د کلتور د علم سره اختلاف لري، څرنګه چې ټولنه وي، سیاست يې په همغه ډول ترتیبوي، د کلتور علم د اصلاح سره اړیکه لري، ډیر امکان لري، چې د دواړو موضوع يوه وي؛ خو، نظرونه يې مختلف وي.

د حکومت نظریه

ابن خلدون وايي، چې د حکومت سمبالوونکی ماشین يو ځل منځته نه راځي او نه په يو ځل د اقتصادي وسائلو څخه کار اخلي، سمبالوونکی ماشین او اقتصاد يې ورو، ورو رامنځته او درستیږي.

د ابن خلدون د پرمختګ نظریه د اوسني وخت د پرمختګ او حکومت د نظریې نه بیخي بل ډول ده، هغه وايي، چې د عروج او زوال د قانون له نظره هر حکومت، ټولنه، دولت، عروج ته رسیږي، وروسته د زوال سره مخ کیږي او د کوم بل حکومت لخوا محکومیږي، د ابن خلدون د پرمختګ نظریه د عروج او زوال يو ډول دایره تشکیلوي.

ابن خلدون د عروج او زوال په فلسفه کې د حکومت او شخص تر منځ يو ډول ورته والی بیان کړی دی او ویلي يې دي، څرنګه، چې يو ماشوم پیداکیږي، د کوچنیتوب دوره تیروي، بیا ځوانۍ ته رسیږي او بیا د ځوانۍ نه زوړ والي ته رسیږي، همدا حال د حکومت هم دی، کله، چې حکومت جوړ شي، پرمختګ کوي او عروج ته رسیږي، خپل شان و شوکت ښيي او بیا د زوال سره مخ کیږي.

د حکومت پراختیا

د ابن خلدون له نظره حکومت باید خپله ساحه دومره پراخه کړي، چې څومره د هغې ساحې نظم ساتلی شي، قوت باید تقسیم نه شي، حکومت د محدودې ساحې لرونکی وي، هر حکومت باید په خپل لاس لاندې سیمو کې فوځ، چاړواکي او ملازمین ځای په ځای کړي، په دې سره حکومت قوي کیږي، که چیرته دوی د هیواد ډیرو لیرو سیمو ته ولیږل شي؛ نو د حکومت قوت به تقسیم شي او مرکزي حکومت به د کمزورۍ سره مخ شي او دښمن به په اسانۍ سره وکولای شي، چې دا هیواد لاندې کړي، ددې لپاره ضروري ده، چې د حکومت د ساحې د پراختیا پر ځای مرکز کې حالات قوي کړای شي؛ ځکه، چې مرکز د حکومت لپاره د

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

زړه مثال لري، که چیرته مرکز قوي وي؛ نو، ټول حکومت ورسره قوي وي، که مرکز کمزوری وي؛ نو، ټول حکومت (مرکزي او غیرمرکزي) حکومت به ورسره کمزوری وي، په کوم ځای کې چې د حکومت زیات چارواکي موجود وي، هلته د بریا ساحه ډیر پراخه وي، ابن خلدون د لومړنیو اسلامي حکومتونو مثال ورکړی دی، هغه وایې، چې مسلمانانو په لومړي سر کې زیاتې سیمې ونیولې او ساحه یې پراخه کړه؛ خو، کله چې ددې نیول شویو سیمو د اداره کولو لپاره زیات چارواکي ولیږل شول؛ نو، مرکزي حکومت کمزوری شو.

ابن خلدون د قوي او مستحکم حکومت نظریه وړاندې کړې ده، کله، چې په یوه قوم کې د عصبیت جذبه قوي شي؛ نو، دا قوم د حکومت د پراختیا لپاره اقدام کوي، ځینو کسانو په ابن خلدون باندې نیوکه کړې ده، چې د میکیاویلي په شان د استعمار ملاتړی وه؛ خو، په حقیقت کې د دواړو د نظریو تر منځ د ځمکې او اسمان هومره توپیر لیدل کیږي، د میکیاویلي استعمار په جبر او مکر باندې ولاړ وه؛ خو، ابن خلدون د عصبیت جذبه د قوت د رامنځته کیدو پایله ګڼلې وه.

میکیاویلي خپلو واکمنو ته مشوره ورکوي، چې په جبر، فریب او دهوکې سره دې په نورو هیوادونو باندې قبضه وکړي؛ مګر، ابن خلدون تاریخ په علمي انداز سره مطالعه کړی، پایلې یې ترې راویستي او بیا یې ویلي دي، چې په کومو حالاتو کې دې ترې ګټه واخلي، ابن خلدون د حکومت پراختیا د قومي عصبیت پایله بولي، په دې لحاظ د نیوکه کوونکو دا تور بیخي ناسم دی، چې ابن خلدون د استعمار ملاتړی وه.

د حکومت ډولونه

ابن خلدون وایې، چې د انساني پرمختګ او د هغوی تر منځ د ګډ کار کولو لپاره د حکومت موجودیت ډیر اړین دی، په حکومت د سولې او امنیت، د قوت او د عامو خلکو د خوشالولو لپاره د سیاسي قوانینو موجودیت ډیر مهم دی، تر څو د واکمنو په شمول ټول خلک د حکومت پر ضد کومه خلاف ورزي ونه کړي، که کوم واکمن د سیاسي قوانینو په نافذلو کې ناکام شو؛ نو، هغه نه شي کولای، چې حکومت کنترول کړي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون درې ډوله حکومتونه او موخې بیان کړي دي.

۱- عقلي سیاست (ملوکیت)

۲- مدیني (ښاري) سیاست

۳- دیني سیاست یا خلافت

۱- عقلي سیاست: که چیرته یوه خلک سیاسي قوانین وضع کړي؛ نو دا عقلي سیاست یا ملوکیت دی

د عقلي سیاست دوه نور ډوله هم شته، لومړی هغه حکومت چې په په عمومي ډول د عامو خلکو د فلاح او بهبود لپاره کار کوي او په خصوصي ډول د پاچا د ګټو او حاکمیت د ټینګولو لپاره کار کوي.

دویم هغه ډول حکومت دی، چې په زور او جبر سره د پاچا د حاکمیت د ټینګولو لپاره کوښښ کوي، د عامو خلکو فلاح او بهبود په کې په دویم قدم کې وي، ابن خلدون په دې ډول حکومتونو کې ټول اسلامي او غیر اسلامي حکومتونه شاملوي؛ خو، په دې دواړو کې یو توپیر ته اشاره کوي، چې مسلمان واکمن د شرعي قوانینو له لارې داسې حکومت جوړوي او غیر مسلمان واکمن د وضعي قوانینو له لارې داسې حکوکت جوړوي.

۲- مدیني سیاست

دا ډول حکومت (فاضله مدینه) د فیلسوفانو خیالي حکومت وي، لکه څرنګه، چې یوناني مفکر افلاطون په خپل کتاب (جمهوریت) کې د یو فلسفي پاچا او حکومت نظریه وړاندې کړې ده.

ددې نظریې مطابق، د ټولنې هر وګړی باید خپل ځان داسې اصلاح کړي، چې دولتي چارواکو ته هیڅ اړتیا پیښه نه شي.

د فاضلې مدینې رامنځته کیدل، د امکان نه لرې څه لیرې ښکاري، په دې باندې تقریبا ټولو فیلسوفانو خبرې کړي دي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون دلیل دادی، چې یو انساني ټولنه باید په اخلاقي لحاظ دومره لوړه شي، چې د کوم حاکم اړتیا ورته پیدا نه شي.

دیني سیاست یا خلافت

الله تعالی چې کوم قوانین د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام په واسطه نړۍ ته رالیږلي دي، که چیرته حکومت د هغو قوانینو مطابق اداره شي؛ نو، داسې حکومت ته دیني حکومت یا خلافت وایې.

پیغمبرانو چې څومره شریعتونه راوړي دي، په هغوی کې عبادات، احکام او د حکومت کولو قوانین شامل دي، د داسې قوانینو موخه د خدای ج په مخلوق باندې د خدای ج د قانون تطبیقول دي.

په دې حالت کې که کوم پاچا جبر او ظلم کوي؛ نو، هغه د خدای تعالی نافرماني کوي.

خلافت د حکومت هغه ډول سیستم دی، په کوم کې چې حکومت د دین ساتنه کوي، په دې ډول حکومت کې وګړي، د یو بل سره په مینه او سوله کې ژوند کوي.

د معاشاتو سرچینې

په تمدني ژوند کې زیاتره برخه د انسان د عمل پایله وي، د کوچیانو لپاره، چې په طبیعي ډول څه ضروري وي، هغه اخلي او نور ځان ته تکلیف نه ورکوي، یانې د نور څه د لاسته راوړلو لپاره خواري نه کوي؛ ځکه، خو ارسطو وایې، چې دغه قوم (کوچیان) خپل ژوند په ښکار او لوټ مار باندې تیروي او دوی داسې متواتر کار نه کوي، چې د هغوی د ژوند فعل وي، په داسې حال کې، چې متمدنه خلک لومړی د تولید د طبیعي سرچینو نه ګټه اخلي، بیا چې د هغو څخه څه لاسته راوړي، هغه په داسې شکل جوړوي، چې د هغوی د ضرورتونو لپاره مناسب وي، موږ باید لومړی په هغو سرچینو باندې وغږیږو، چې په متمدن (ښاري) ژوند کې استعمالیږي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ارسطو او ابن خلدون دواړو انسانانو ته دا حق ورکړی دی، چې د طبيعي سرچينو څخه ګټه واخلي او دواړو يو بل ته ورته دلايل وړاندې کړي دي، البته يو توپير په کې شته دی، هغه دا چې د ارسطو دليل ډير فلسفي دی او د ابن خلدون دليل زيات ديني اړخ لري، د ارسطو له نظره قدرت (طبيعت) او د ابن خلدون له نظره خدای ج ځمکه او د ځمکې خزانې د انسان د ګټې لپاره پيداکړي دي او قران کريم ددې سربيره د لمر، سپوږمۍ او ستورو يادونه هم کړې دی.

ارسطو وايې، چې د غذا د لاسته راوړلو دا طريقه مخلوق ته د قدرت له خوار ورکول شوې ده او پيل يې د هغه وخت نه شوی، د کله نه چې مخلوق پيدا شوی او تر څو پورې چې قوي کيږي، زموږ لپاره دا عقيده درسته ده، چې نباتات د حيواناتو او حيوانات د انسانانو لپاره پيدا کړی شوي دي، په دې حيواناتو کې، چې کوم ساتل کيږي، دا د انسان د خدمت او غذا لپاره ځانګړي شوي دي؛ خو، د حيواناتو زياتره يې ځنګلي (وحشي) دي، ددې څخه په لباس جوړولو او نورو ځايونو کې زيات کار اخيستل کيدای شي، که چيرته قدرت کوم شی بې هدفه او بې کاره نه وي پيداکړی؛ نو دا ممکنه ده، چې دا ټول يې د انسان د ګټې لپارې پيداکړي وي او ابن خلدون وايې:

خدای ج د نړۍ ټول شيان د انسان لپاره پيداکړي دي، خدای ج د خپل کتاب (قران کريم) په زياتره اياتونو کې انسان ته خپل احسان بيان کړی دی، نړۍ او د نړۍ ټول شيان د انسان په واک کې دي؛ ځکه، خدای تعالی انسان په ځمکه کې خپل خليفه ګرځولی دی، په مسلمانانو کې يوازې ابوالعلاء معری انسان مخاطب کړی او داسې يې ورته ويلي دي: د هغه څه په اړه چې ته فکر کوې، ستا لپاره حلال دي، په حقيقت کې ستا نه دي، ته (انسانه) يوازې په حيوان باندې ظلم او زور زياتی کوې او خپل حکومت جوړوې، ای انسانه ته په دې فکر يې، چې د شاتو مچې شات ددې لپاره جوړ کړي، چې ته يې خرڅ کړې يا يې چا ته هديه ورکړې، په داسې حال کې چې مچی ټول تکليف او مشقت د ځآن لپاره تير کړی دی. تر څو پورې، چې انسان د نړۍ مشر وي، څنګه چې يې خوښه وي، ګټه ترې اخيستلای شي، په دې شرط، چې د خپل ورور ګټو ته به زيان نه رسوي، هغه ددې مقصد لپاره کولای شي، چې د ټولو وسائلو او روا لارو څخه کار

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

واخلي، ددې لپاره دوه لارې دي، يو قدرتي او بله اصلاحي، د لومړۍ لارې څخه يوازې ځنګلي سړی کار اخيستلی شي او دا د تمدن نه لاسته نه راځي.

ارسطو او ابن خلدون دواړه په دې نظر دي، چې انسان د طبيعت نه د ګټې اخيستلو حق لري؛ خو، د اساسي اصولو په تطبيق کې د دواړو تر منځ اختلاف موجود دی، ارسطو غلامي رامنځته کوي او روا يې ګڼي او وايي، چې ځينې خلک د ازاد ژوند او ځينې خلک د غلامۍ د ژوند لپاره پيدا شوي دي، په دې اساس لومړۍ ډله حق لري، چې دويمه (غلامه ډله) يې خدمت وکړي.

ابن خلدون غلامي نه مني، هغه په خپلو دلائلو سره دا واضح کړې ده، چې انسان د غلامۍ لپاره نه دی، هغه وايي، انسان فطرتا ازاد پيداشوی دی او په ټولنه کې د انصاف او پرمختګ لپاره دا اړينه ده، چې په ټولنه کې ازادي او د بشريت احترام (برتري) رامنځته شي او دا هغه برتري ده، کومه چې خدای تعالی انسان ته ورکړې ده او انسان يې په ځمکه باندې خپل خليفه او نائب ګرځولی دی.

د جګړې په مسئله کې هم دواړه موافق نه دي، ارسطو جګړه د کسب په قدرتي سرچينو کې شميري؛ خو، ابن خلدون جګړه په سرچينو کې نه حسابوي او ددې سبب هم هماغه دی يانې خدای تعالی ځينې خلک د حکومت او ځينې نور يې د فرمانبردارۍ لپاره نه دي پيداکړي او حقيقت دادی، چې د ابن خلدون فکر د ارسطو د فکر نه ډير پرمختللی دی.

د کسب د سرچينو او د انسان د کوچيتوب او ښاري ژوند تر منځ ژوره اړيکه شته، دغه سرچينې په کوچيانه ژوند کې ډير محدودې وي؛ خو، په ښاري ژوند کې زياتې وي، په دې معامله کې ښاري ژوند ته يوه ځانګړتيا ور په برخه ده، چې انسان يې په خپله پيداکوي، خپله ترې کار اخلي او خپله پرمختګ هم ورکوي.

د ابن خلدون له نظره د کسب لومړنۍ سرچينه زراعت دی او دا يو داسې مسلک دی، چې يوه قبيله په کې تر هغه وخته بوخته وي، تر څو چې په خپل ځای کې موجوده وي، دا د انسان پخوانی او لومړنی کار هم دی؛ ځکه، دا د

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

فطرت سره ډېر نږدې دی، په عوامو کې مشهوره ده، چې زراعت د ادم علیه السلام مسلک وه.

ابن خلدون وايي، چې ددې لپاره د علم او قوت اړتیا نشته، البته ابن خلدون د علومو په ترتیب کې د زراعت ذکر هم کړی دی. څرنګه چې دا د کروندګرو د امدن ذریعه ده، همدارنګه د حکومت د امدن ذریعه هم ده او ابن خلدون وايي، حکومت ته په کار دي، چې د خپلو بزګرانو او دهقانانو حوصله افزايي او کومک ورسره وکړي.

خو، زراعت د زراعت کارو د ذلت سبب هم کیدای شي، دا یې جنګې وړتیا ته زیان رسوي، ابن خلدون دا روایت نقل کړی دی، چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې د یوه اوسیدونکي سره یوې ولیده؛ نو ورته ویې ویل، چې دا د کوم قوم کور ته ورغی، هلته به خامخا ذلت رامنځته شي، هغه ددې حدیث تفسیر داسې کړی دی، چې بزګر دې په ټیکس ورکولو باندې مجبور کړای شي؛ خو، دا چې دا حدیث به څومره صحیح وي، ابن خلدون په دې اړه څه نه دي ویلي.

ابن خلدون په سوداګرۍ باندې ژور بحث نه دی کړی او د ابن خلدون تاریخ هغه په تفصیل سره نه څیړي، لکه څنګه، چې مونتیسکو څیړلی دی، ددې وجه داده، چې ابن خلدون د سوداګرۍ د تاریخ نه په درست ډول خبر نه وه، د ابن خلدون په وخت کې په ښارونو کې د سوداګرۍ هماغه پخوانی شکل موجود وه، په نوي دور کې، چې سوداګرۍ څومره پراختیا پیدا کړې ده، په هغه وخت کې یې دومره پراختیا او پرمختګ نه وه کړی، ابن خلدون د سوداګرۍ د شرکتونو نه هم خبر نه وه، لکه څنګه، چې تاریخ وايي، په اسلامي نړۍ کې سوداګریزې ډلې او شرکتونه موجود نه وه او اوس هم په لومړني حالت کې قرار لري.

ابن خلدون بیا هم، دا نظریه وړاندې کړې، چې د سوداګرۍ لومړنی شکل د ضروري سامانونو تبادله وه او په نغدو باندې راکړه ورکړه وروسته رامنځته شوې ده، په اسلامي نړۍ کې د سکو موجودیت موږ ته ددې تاریخ روښانه کوي، ابن خلدون ریښتیا وايي، چې مسلمانانو د سکو رواجول د ایرانیانو او یونانیانو څخه زده کړل او اسلامي هیوادو ته یې راوړې او دا هغه وخت، کله چې په

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

لومړی هجري پیړۍ کې مسلمانان د یوناني او ایراني تمدنونو سره اشنا شول او په دې وخت کې د نغدو راکړه ورکړه پیل شوه، ابن خلدون وایې، تجارت یوازې ددې لپاره نه دی، چې د ژوند ضرورتونه ترې پوره کړو، بلکه تجارت ددې لپاره هم دی، چې دولت او پیسې پرې وګټو.

په دې وخت کې سوداګري یو فن ګرځي، ابن خلدون د سوداګرو نه د تجارت یو تعریف داسې رانقل کړی دی، چې (د سوداګرۍ د فن مانا داده، چې یو شی په لږ قیمت واخلې او په زیات قیمت یې وپلورې)، ابن خلدون سوداګرو ته مشوره ورکوي، چې دوی باید ښارونو ته هغه سامان الات راوړي، چې په عام ډول خلک ورته ډیره اړتیا لري او د خلکو لپاره ګټور وي او په کوچینو ښارونو کې هم هغه سامان وپلوري، چې هلته ورته اړتیا ډیره وي، یو پوه سوداګر باید بازار ته وګوري، چې د خپل سامان د خرڅولو لپاره ښه وخت پیدا او انتخاب کړي، هڅې نه چې سوداګر خپل ځان تباه نه کړي.

ابن خلدون وایې، چې سوداګري په دوه ډوله ده، یو هغه ډول سوداګري ده، چې سوداګر یې د هیواد دننه کوي او دویم ډول سوداګري هغه ده، چې سوداګر یې د هیواد دننه کوي، ابن خلدون وایې، سوداګر چې کوم شیان د لیرو هیوادو نه راوړي، د هغو قیمتونه د ښار د قیمتونو نه لوړ وي؛ ځکه، چې سوداګر د سامان اصلي قیمت په خپل سفر باندې مصرفوي او د خپلې خوارۍ او تکلیف لپاره یې هم ګران پلوري، هغه ددې لپاره د سوډان او مراکش مثال ورکوي، کوم مالونه چې د سوډان نه مراکش یا د مراکش نه سوډان ته ځي، دا مالونه نسبت ځایې مالونو او سامان الاتو ته ګران وي.

ابن خلدون او مونتیسکو دواړه په دې نظر دي، چې سوداګري اخلاق خرابوي او هم سوداګري حرص زیاتوي او سوداګر مجبوروي، چې د چل او دهوکې څخه کار واخلي، په داسې حال کې، چې په اکثره ځایونو کې اخلاق او مذهب ددې کار اجازه نه ورکوي، ابن خلدون او مونتیسکو دواړه په دې نظر دي، چې په سوداګرۍ کې باید د نرمو اخلاقو نه کار واخیستل شي.

ابن خلدون احتکار بد ګڼلی دی؛ ځکه، چې دا د سوداګرو او اخیستونکو دواړه لپاره زیان رسوي، هغه د سوداګر په اړه وایې، چې سوداګر ته په دې ګټه کې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هیڅ ګټه او برکت نه وي او دا په مادي ژوند کې په روح باندې یو ناوړه اغیز پریباسي.

د معاش د لاسته راوړلو دریمه سرچینه صنعت دی او ددې څخه مطلب څو مختلف فنون (هنرونه) دي، ځینې یې په کوچي ژوند کې هم لیدل کیږي؛ ځکه، چې هغه ځینې اړتیاوې پوره کوي، مثلا، د کالیو (جامو) جوړولو فن (مسلک)؛ خو، ځینې کارونه بیا په متمدن ژوند کې لیدل کیږي، کوم چې د همدې ډول ژوند پایله ده.

څنګه، چې تمدن پرمختګ کوي، نوې، نوې اړتیاوې پیداکوي او ددې اړتیاوو د پوره کولو لپاره مختلف کارونه رامنځته کیږي، هغه کارونه، چې په ښارونو کې مشهور دي، ابن خلدون هغه یو، یو شمیرلي دي او په بشپړ ډول سره یې هغه څیړلي دي، هغه چې کوم شیان څیړلي دي، ځینې یې داسې څیړلي دي، چې د مؤرخینو لپاره ډیر ګټور دي؛ خو، د هر یوه تحلیلول به لږ ستونزمن وي.

علوم ـ د فکر د حرکت پایله ده

پروفیسر فلنټ وایي، چې د ابن خلدون د کتاب (مقدمې) په شپږمې برخې باندې بحث نه دی په کار؛ ځکه، چې دا برخه د هغو خلکو لپاره ده، کوم چې د عربي علومو او ادابو سره اشنا وي.

اصلي خبره داده، چې د مقدمې اخري برخې د اسلام د لومړیو څخه د اتمې هجري پیړۍ پورې د عربو د علومو او ادابو یو بشپړ تاریخ وړاندې کوي.

ابن خلدون لومړنی مسلمان دی، چې د مسلمانانو د ادبي او عقلي تحریک تاریخ یې په یوه نوي شکل باندې ولیکه، دده څخه مخکې مؤرخینو یوازې هغه موضوعات لیکل، چې د مشهور شخصیتونو یا پیښنو پورې تړل شوي وه.

ابن خلدون د نوي عصر د مؤرخینو د ادابو سره زیات نږدیوالی لري؛ بلکه د هغوی څخه مخکې (لومړی) دی.

د مسلمانانو په ادبي تاریخ باندې د ابن خلدون د کتاب (مقدمې) د اخري برخې زیات اغیز پروت دی، که، د کتاب اخري برخه یې نه وه؛ نو، ترکي مؤرخ

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

حاجي خليفه (۱۶۵۸ز) به خپل جامع کتاب (کشف انطنون فی اسماالکتب والفنون) نه وه ليکلی؛ ځکه دغه کتاب ته په لويديځ او ختيځ کې د يوه جامع کتاب په سترګه کتل کيږي.

ابن خلدون وايي، فکر د علم د حرکت پايله ده، فکر انسان ته د خدای تعالی لخوا يوه تحفه ده، چې انسان پرې د حيوان نه برتري حاصله کړې ده، انسان کولای شي، چې د خپل وروستي حد پورې پراختيا تر لاسه کړي؛ ځکه، دده د پراختيا اصلي وجه په مسلسل ډول تمرين کول دي.

څرنګه، چې ټولنيز فکر په ښاري او متمدن ژوند کې پوخوالي ته رسيږي، په دې ډول تمدن هم کولای شي، چې لوړو درجو ته ورسيږي.

ديني او طبيعي علوم

ابن خلدون پورته ذکر شوي علوم په دوه ډولو ويشي، د ديني علومو موخه د عقيدې شرح، د فرائضو تنظيم او د نورو قائمول دي، طبيعي علوم، فلسفي علوم او مابعدالطبيعات د ذاتي شعور او فکر پايله ده.

دغه دواړه علوم د هر يو قوم لپاره اړين دي؛ ځکه هيڅ يو قوم د دين او د انسانيت د فلسفې نه بغير نه شي پاتې کيدای.

په ځينو ځآنګړو حالاتو کې ديني علومو مسلمانانو ته ځانګړی اهميت درلودلای دی؛ کوم اهميت چې نورو قومونو نه دی ليدلی، قران او حديث په عربي ژبه دي، په هر مسلمان فرض دي، چې هغه مطالعه کړي، په قران او حديثو کې د مسلمانانو ټول قوانين او د ټولو مسائلو حل موجود دی، په داسې حال کې، چې د نورو قومونو په دينو کې دا ځآنګړتيا نشته.

ابن خلدون د هغو علومو په اړه، چې ضروري دي، داسې وايي، علوم بايد لومړی په خپله ژبه کې ولوستل شي؛ ځکه، په پردۍ ژبه باندې لوستل د نيمايې علم لاسته راوړل دي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه بیا وایي، چې په یوه وخت د دوه ډوله علومو یا فنونو (هنرونو) زده کول هیڅ قسمه مهارت نه شي رامنځته کولای (یانې یو فرد نه شي کولای، چې په دواړو کې په یو وخت کې پوره تکړتوب ترلاسه کړي).

کوچنیانو ته باید په لومړي قدم کې اسانه زده کړه ورکړل شي، تر څو په دې سره ورو، ورو ستونزمنو مسائلو ته ورسیږي.

د تاریخ فلسفه

د ابن خلدون یو ستر کار د تاریخ د فلسفې رامنځته کول دي، دده څخه مخکې تاریخ یوازې د پیښو د بیانولو نوم وه، د پیښو تر منځ کومه اړیکه نه رامنځته کیده، بلکه تاریخ یوازې یو بیاني حیثیت درلوده، د تاریخ په اړه داسې فکر کیده، چې ټولې پیښې اتفاقي(تصادفي) رامنځته کیږي.

ابن خلدون د نورو مؤرخینو نه یو ځانګړی او وتلی شخصیت دی، هغه تاریخ ته د یوې کیسې په نظر نه ګوري، بلکه تاریخ ته د یو ساینس (علم) درجه ورکوي.

هغه وایي، کله چې تاریخ په ژور ډول مطالعه، تجزیه او مشاهده کړو؛ نو، موږ به د غلطیو څخه لیرې پاتې شو او حقائق به لاسته راوړو.

د تاریخ په واسطه موږ د خپلو مشرانو طریقې، د تیرې زمانې اخلاقي حالت، د پیغمبرانو لارښوونې، د حکومتونو سیاست او د هغوی په لارو چارو باندې ښه پوهیدای شو، ددې ګټه به دا شي، چې موږ به د ټولو حقائقو په رڼا کې نیغه او درسته لاره انتخاب کړو.

ابن خلدون وایي، چې موږ د تاریخ څخه هغه وخت درسته ګټه اخیستی شو، چې ځان د ریښتیاوو اساس ته ورسوو.

د اوسنیو شیانو د علت او اسبابو تشریح به وکړای شو او هغه عناصر چې د تاریخي پیښو تر شاه موجود دي، په ژور ډول به یې مطالعه کړو، ابن خلدون د خپل کتاب (کتاب العبر) په لیکلو کې دې ټکي ته متوجه وه، چې هیڅ مؤرخ دده څخه مخکې د تاریخ فلسفي مطالعه نه وه کړې.

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه د ټولو څخه مخکې د تاریخ د بیروني او داخلي مانا تر منځ توپیر بیان کړی دی، بیروني هیت په ځانګړو ځایونو او حالاتو کې د رامنځته شویو پیښو اړوند مالومات راټولوي، بلکه د تاریخ د داخلي مانا څخه موخه د پیښو پیل، د پیښو علت او په دلائلو باندې څېړنه کول دي، د ابن خلدون دې کار ته باید یو علمي او ساینسي هڅه وویل شي.

د ابن خلدون کتاب (کتاب العبر) د نورو مؤرخینو برعکس د تاریخي پیښو درست نوعیت او او عوامل بیان کړي دي.

د علام په نظر که تاریخي اصول او طریقه له نظره وغورځول شي؛ نو، په تاریخي پیښو کې به غلطۍ رامنځته شي، که چیرته مؤرخ په تاریخي اصولو باندې پوه شي؛ نو، د غلطیو اصلاح کولای شي.

ابن په دې اړه موږ ته دوه بیلګې وړاندې کړي دي، د مؤرخ لپاره په کار دي، چې تاریخ ته باید ځانګړی نظر وکړي، یانې د ټولنې د نوعیت او طبیعت نه باید په بشپړ ډول خبر وي.

د تاریخي پیښو د ثبتولو لپاره په کار دي، چې د پیښو په نوعیت باندې پوره پوه شو او د لاسته راغلو مالوماتو په اساس په بې پرې ډول وڅېړل شي، تر څو هغه مالومات چې درست دي، هغه قبول کړو او پاتې نور پرېږدو، ابن خلدون د تاریخي پیښو د غلطو ثبتولو په عواملو باندې هم خبرې کړي دي، هغه په تدریجي تغیر او تبدیل باندې هم ږغیدلی دی.

ابن خلدون وایي، چې تاریخ په حقیقت کې د انساني ټولنې په اړه د مالوماتو علم دی، کوم ته چې د نړۍ کلتور (ثقافت) ویل کیږي.

هغه وایي، تاریخ د اصلي پیښو پورې تړلی علم دی، تاریخ د پیښو مثبت یا منفي شکل دی.

دغه پیښې درستې یا غلطې کیدای هم شي، په دې پیښو باندې د تنقید یا تبصرې په جریان کې، څېړنه کول په کار دي، چې ایا دغه پیښې درستې دي که نادرستې.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون وايي، چې تاريخ دوه کومکي علومو ته اړتيا لري، لومړی د کلتور علم ته، د تاريخي پيښو په نوعيت باندې غږيږي، دوم سند يا مأخذ ته اړتيا لري، د سند په واسطه کولای شو، چې تاريخي پيښې ثبت کړو او د تاريخي پيښو په اړه مالومات ترلاسه کړو او د هغوی تجزيه او تحليل وکړای شو.

ستر علام ابن خلدون وايي، که چيرته د ټولو تاريخي دورو مطالعه وکړای شي؛ نو، مالوميږي، چې د ټولو پيښو تر منځ د پرمختګ تاريخي اړيکه شتون لري.

دا يو غلط فکر دی، چې څوک ووايي، مختلفې تاريخي دورې يو د بل نه جلا دي.

څکه، تاريخي پيښې په مسلسل ډول يو د بل سره اړيکې لري.

علام ابن خلدون وايي، چې تېر، حال او راتلونکی يو ډول مثلث دی، که يوه زوايه ترې ليرې کړو؛ نو، هندسي شکل خپل اهميت له لاسه ورکوي.

هغه د ټولنې د پرمختګ مطالعه کړې او تېر يې د حال سره مشابه ګرځولی دی.

خلافت

ابن خلدون وايي، د دين ساتنه، پراختيا او دنياوي سياست او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نيابت کول خلافت او امامت دی او ځای ناستي ته خليفه يا امام ويل کيږي، لکه څرنګه چې امام د مانځه او وخت تقليد او پيروي کوي، دې ته امامت کبری (ستر امامت) ويل کيږي او خليفه ورته ځکه ويل کيږي، چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په امت کې د نائب او خليفه رول اداء کوي، دې شخص ته کله خليفه يا خليفة الرسول هم ويل کيږي، ځينې علماء د خدای تعالی خليفه هم ورته وايي؛ خو، ډيری علماوو دا خبره نه ده خوښه کړې؛ ځکه، چې ابوبکر صديق (رض) د خليفة الله نوم نه وه خوښ کړی، بلکه د خليفة الرسول نوم يې ښه ګڼلی وه، ابن خلدون ددې لپاره دا دليل وړاندې کړی دی، چې

خدای تعالی هر وخت حاضر او ناظر دی؛ نو، ځکه د هغه د خلافت او نیابت سوال نه پیداکیږي.

د خلافت وجوب

ابن خلدون لیکلي دي، چې د خلافت واجبیدل د صحابه او تابعینو نه ثابت دي، په دې ډول د خلیفه یا امام ټاکل لازمي او ضروري دي، همدا وجه وه، چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته صحابه کرام حضرت ابوبکر (رض) د لومړی خلیفه په توګه وټاکه، ددې وروسته بیا اسلامي نړۍ کې داسې حالت رانه غی، چې خلیفه دې موجود نه وي، د شریعت اصلي موخه د انسان ساتنه، د فساد او ظلم مخنیوی کول دي.

څو معتزله ډلې او ځینې مؤرخین په دې نظر دي، چې د خلیفه یا امام ټاکل د عقل له نظره ضروري او واجب نه دي، دوی فکر کوي، چې د شریعت د تطبیق لپاره د امت موجودیت مهم دی، که چیرته ټول خلک د شرعي احکامو مطابق ژوند تېر کړي؛ نو د امامت یا خلافت ضرورت بیا نشته، ابن خلدون وایې، کله، چې ثابته شوه، چې ټولو اجماع کړې ده او د امام ټاکل واجب دي؛ نو، دا به د فرضې کفایې حیثیت لري.

د امام یا خلیفه ټاکل

ابن خلدون د امام د ټاکلو حق عوامو ته نه ورکوي، بلکه اهل حل او عقد ته یې سپاري او وایې، چې اهل حل او عقد هر څوک خلیفه وټاکه، عوام یې باید اطاعت وکړي؛ ځکه، د خدای تعالی وینا ده، چې تاسو د الله اطاعت وکړۍ، د هغه د رسول اطاعت وکړۍ او د هغه چا اطاعت وکړۍ، چې په تاسو حاکمان دي.

د امامت یا خلافت شرائط

ابن خلدون هم د الماوردي په شان د خلافت لپاره ځینې شرائط وړاندې کړي دي، چې په لاندې ډول ترې یاونه کوو.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

۱- علم ـ خليفه بايد په شرعي احکامو باندې پوه وي او بايد چې اجتهادي درجې ته هم رسيدلی وي، تر څو د شرعي احکامو په رڼا کې د مسائلو حل راوباسي او چاته يې د رجوع کولو اړتيا پيښه نه شي او خليفه بايد په هر لحاظ د کمال درجې ته رسيدلی وي.

۲- عدالت ـ امامت يو ديني منصب دی او داسې يوه چوکۍ ده، چې عدالت په کې ضروري دی، خليفه بايد داسې يو کار ونکړي، چې د هغه شخصيت ته پرې صدمه ورسيږي.

۳- کفالت ـ امام بايد د شرعي حدودو د پلي کولو اهليت ولري، په جهاد او جګړه کې بايد د لارښوونې وړتيا ولري، په خليفه کې بايد دومره لياقت موجود وي، چې نور خلک جګړې ته چمتو کړي، شرعي حدود نافذ کړي، د سياست سره اشنا وي، تر څو د دين او دنيا ساتنه وکړي او د هيواد بشپړتيا ته کوم خطر پيښ نه شي.

۴- د حواسو او اعضاوو روغوالی ـ د امام ټول حواس او اعضاء بايد جوړ وي، تر څو خپله دنده په درست ډول سرته ورسوي، د بيلګې په ډول هغه ليونی نه وي، ګونګ نه وي، ګوډ، شل او شوټ نه وي، که د امام په جسم کې کوم نقص پيدا شو، چې هغه نه شو کولای، خپله وظيفه په درست ډول سرته ورسوي؛ نو، د هغه امامت بايد مقيد نه وي.

۵- قريشي نسب ـ په دې شرط کې اختلاف موجود دی، د قاضي ابوبکر باقلاني قول دی، چې د خليفه لپاره دا کوم ضروري شرط نه دی؛ خو، په سقيفه کې په دې مسئلې باندې اجماع شوې؛ ځکه، کله چې انصارو د سعد بن عباده سره بيعت کول غوښتل؛ نو، قريشو د پيغمبر عليه السلام په دې قول باندې، چې (خليفه ياامام بايد قريش وي) دليل ونيوه او انصارو هغه (ابوبکر رض) د خليفه په توګه قبول کړ.

دغه شرط هغه وخت د منلو وړ وه، کله چې په عربي قبائلو کې قريشو ته شرف حاصل وه او خلکو د قريشو مشري منلې وه؛ ځکه، هغوی قومي عصبيت درلوده او دا عصبيت د خلافت د قوي کولو او د احکامو د پلي کولو لپاره ډير

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ضروري وه، په دې ډول هغه د هغه وخت مصلحت وه، اصلي شرط کفایت (وړتیا) ده؛ ځکه، همدا د حکومت د استحکام او امنیت لپاره مهم دی، د سلطنت د پراختیا سره قریشي عصبیت له منځه ولاړ، بیا دا خبره رامنځته شوه، چې خلافت باید داسې یو غیر قریشي ته ورکړل شي، چې شاته قوي عصبیت ولري، تر څو خلافت په درست ډول اداره کړای شي، کله چې قاضي ابوبکر باقلاني د قریشیت د شرط نه انکار وکړ؛ نو، په هغه وخت کې په عربو باندې عجمي خلفاء غالب شوي وه او عربي عصبیت کمزوری شوی وه.

ولي عهد ټاکل

ابن خلدون خلیفه د امت ولي او امین هم بولي، ابن خلدون خلیفه ته د ځان نه وروسته د ځای ناستي د ټاکلو حق هم ورکړی دی، امت به په ولي عهد (ځای ناستي) باندې داسې اعتماد کوي، لکه څرنګه چې یې په خلیفه باندې کړی وي، په شریعت کې د امت په اجماع سره دا خبره ثابته ده، چې خلیفه د ځانه وروسته ځای ناستی ټاکلی شي؛ ځکه، حضرت ابوبکر (رض) د صحابه وو په مجمع کې حضرت عمر (رض) خپل ځای ناستی مقرر کړی وه، حضرت عمر (رض) د خپل ځای ناستي توب مسئله شپږو عشره مبشروو صحابه وو ته سپارلې وه، هغوی ته یې واک ورکړی وه، چې امام وټاکي، په دې وخت کې هغوی خلیفه په دیني لحاظ سره وټاکه، اوس که چیرې کوم خلیفه خپل زوی یا ورور خپل ځای ناستی وټاکي؛ نو، باید بد ګماني پرې ونه کړل شي، امیر معاویه (رض) خپل زوی یزید د کورني عصبیت په وجه خلیفه ټاکلی وه، که هغه دا کار نه وه کړی؛ نو، کورني عصبیت مشکلات پیداکول.

د دوه خلافتونو موجودیت

ټول مسلمان مفکرین په دې خبره باندې متفق دي، چې په اسلامي نړۍ په یوه وخت کې باید یو خلیفه موجود وي، که دویم شخص د خلافت دعوی وکړي؛ نو، هغه باغي او واجب القتل دی؛ خو، ابن خلدون لومړنی مفکر دی، چې د اسلامي نړۍ پراخوالي او تنظیم چارو ته په کتو سره یې د دوه خلافتونو (یا خلیفه ګانو) موجودیت یې روا ګرځولی دی، لکه څرنګه چې عباسي خلافت عرب او ځینې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

مرکزي سیمې اداره کولې؛ خو، په مقابل کې یې په هسپانیه کې د بنو امیه سلطنت هم موجود وه، د خلافت اساسي دنده په خپلو حدودو کې بشپړ امنیت، سوله او انصاف حاکمول دي، که چیرته یو خلیفه د خپل سلطنت په حدودو کې خپله دنده په درست ډول سرته نه شي رسولای؛ نو، دویم خلیفه حق لري، چې د امن او سولې لپاره کار وکړي.

یو نمونه یې حکومت

ابن خلدون د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د خلفای راشدینو مبارک دور د حکومت کولو یوه بیلګه ګڼي او د پیغمبر علیه السلام او د خلفای راشدینو خلافت یو ځآنګړی او جلا حکومت ګڼي. (یانې د نړۍ لپاره یې د حکومت یوه نمونه ګڼي). ځکه په دې وخت کې د حکومت کولو ټول اهداف پوره شوي وه، د هیچا سره بې انصافي ونه شوه، د خلکو د ژوند ټولې اړتیاوې پوره شوې وې، د خدای تعالی ټول اوامر په درست ډول پلي شوي وه، واکمنو په خپلو مخلصانه کوښښونو سره د خلکو ټولې دنیاوې اړتیاوې او اخروي غوښتنې پوره کړې وې، ددې بیلګه تر اوسه پورې د بشریت په تاریخ کې نه ده وړاندې شوې، د هغوی د وخت حکومت داسې یوه نمونه ده، که انسان پرې عمل وکړي؛ نو، داسې ټولنه به رامنځته شي، چې ټولې اړتیاوې به یې په اسانۍ سره پوره شي، د نفرت، کینې او حسد ټولې وریځې به له منځه ولاړې شي، د یو بل سره به د ورور ولۍ او مینې جذبې پیداشي، انسان به د انسانیت لوړ مقام ته ورسیږي، امیر معاویه (رض) غوښتل، چې ټول اختیارات او د خلافت د ټولې پراختیا واک په خپل لاس کې واخلي، تر څو د هغه څخه پخوا رامنځته شوی قوي خلافت یې له لاسه ونه وځي، د قوي قوت په موجودیت سره امیر معاویه (رض) د خلافت طرف بدل کړ او خپل زوی یزید یې خلیفه وټاکه، چې په دې کار سره د بنو امیه وو په اهل حل و عقد کې اختلافات رامنځته شول.

ابن خلدون د خلافت نه ملوکیت ته د سفر تشریح کړېده او هغه یې سیاسي مصلحت بللی دی او ددې لپاره یې پر عصبیت باندې زور اچولی دی، په داسې حال کې، چې عصبیت یوازې د ایمان او مذهبي اعتقاداتو له لارې سرایت کوي، د ابن خلدون په نظر د شریعت پر ځای عصبیت خلافت ساتلی دی، په هغه وخت

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

کې خلافت یوازې د یو سیوري په شکل باندې پاتې شوی وه، ابن خلدون د خلفای راشدینو حکومت د یوې نمونې په توګه وړاندې کوي، هغه په اوسنیو سلطنتونو (اوسنیو واکمنو) باندې تاکید کوي، چې د هغو اخلاقو خیال دې وساتي، کوم چې د یوه شرعي حکومت لپاره اړین دي.

د قانون تصور

ابن خلدون وایې، چې د انسانانو د یوې ډلې لپاره د قانون موجودیت ډیر اړین دی، تر څو د هغه لاندې انساني چارې اصلاح شي او د قانون پلي کول د حاکم دنده ده، دغه قانون شرعي قانون هم کیدای شي، چې په پلي کولو سره یې انسان ته ثواب ورکول کیږي او هغه انسان چې ددې قانون پر ضد عمل کوي، هغه ګناهګار دی او د سزا مستحق دی، په قوانینو کې باید د عام او خاصو دواړو خیال وساتل شي او په دې کې ټول احکام شامل دي، مسلمانانو ته د ځانګړي قانون جوړولو اړتیا نشته، ابن خلدون د طاهر بن الحسین د هغه لیک حواله ورکوي، کوم چې یې خپل زوی عبدالله بن طاهر ته لیکلی دی، دغه شخص خلیفه مامون الرشید واکمن مقرر کړی وه، په دې لیک کې طاهر خپل زوی ته د شریعت د احکامو د پلي کولو لارښوونه کوي، ورته وایې، په قران کریم کې چې د کومو حلالو او حرامو ذکر شوی دی، دهغه څخه باید هیڅ انحراف ونه کړي، نبوي حدیث باید له یاده ونه باسي، د خدای تعالی د رضا لپاره باید قران کریم تلاوت کړي؛ ځکه، چې ستا نه پوښتنه کیږي، خپله دنده په ایماندارۍ سره سرته رسوه، د پیغمبر علیه السلام سنت خپل شعار وګرځوه، د ژمنې پابندي کوه او د دروغجنو او چغل خورو خلکو نه ځان ساته.

ابن خلدون د امت په فقهي مکتبونو حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي باندې خبرې کړي دي، د شیعه ګانو فقه چې په جعفریه فقه باندې استواره ده، دا ټول د قران او سنتو په رڼا کې وضع شوي دي.

ابن خلدون لیکلي، چې قانون د انسانانو لخوا هم جوړیدای شي، البته دغه قانون د انسانانو د مادي خوشالۍ لپاره جوړیږي، ددې قانون له مخې زیاتره دنیاوي ګټې په نظر کې نیول کیږي، ابن خلدون د عوامو غوندې واکمن هم مجبور کړي، چې قانون باید مراعت کړي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون ليکلي، چې د مسلمانانو زياتره خلک د پنځو فقهي مدرسو پورې تړلي دي؛ نو، بايد قانون د هغه ځای د خلکو مطابق جوړ کړل شي او د قوانينو مأخذ بايد فقهي مدرسې وي.

د حکومت داخلي نظام

ابن خلدون ليکي، چې د پاچا په اوږو باندې ډير ستر بوج پروت وي او دا د پاچا ذمه واري ده، چې د خدای تعالی د مخلوق ساتنه بايد د دښمنانو څخه وکړي، منصفانه احکام بايد پلي کړي، يو بل بايد ظلم او زياتوالي څخه وساتي، د خلکو مالونه بايد د نورو د لاسو څخه وساتي او د هغوی تر منځ بايد انصاف رامنځته کړي، د خلکو د اقتصادي، ټولنيزو او مذهبي کارونو څارنه بايد وکړي او داسې ستونزه رامنځته نه کړي، چې د هغوی په کارونو کې خنډ واقع شي او په تکليف يې کړي، دې موخې ته د رسيدو لپاره پاچا پوهو او لائقو اشخاصو ته اړتيا لري، که کومک کوونکی د هغه خپل (رشته دار) يا کوم پخوانی حکومتي شخص وي؛ نو، دا د پاچا سره ډيره مرسته کوي.

پاچا د خلکو مرستې ته اړتيا لري، کله، تورې، کله قلم او کله هم رايې ته اړتيا لري، پاچا په ځانګړې توګه هغو خلکو ته ډيره اړتيا لري، چې په حکومتي کارونو کې د هغه لاس نيوی وکړي او دا اشخاص بايد باوري اشخاص وي، کله، داسې وي، چې يو شخص د زياتو کارونو وړتيا لري او کله د نورو خلکو نه مرسته غواړي.

ابن خلدون وايي، چې په سلطنت (حکومت) کې څلور دندې ډيرې مهمې دي او په دې څلورو کې تر ټولو مهمه دنده د وزير دنده وي، هغه د سلطنت ټول بار په خپلو اوږو باندې اخلي، دويمه مهمه دنده د کاتب ده، چې واليانو ته ليکونه او مراسلات ليږي، والي په يوه يا زياتو ولايتونو باندې مقرريږي، دغه والي د خپل ولايت مشر وي او د ټولو ولايتي چارو مشري کوي، خليفه يا واکمن هغه له دندې ګوښه کولای هم شي، والي په خپل ولايت کې هغه ذمه واري لري، کومه چې واکمن يې لري، دغه واليان د مرکزي حکومت د فرمانونو مطابق د ولايت چارې سمبالوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

دریمه دنده د مالیې د وزیر (صاحب المال و الجبا) دنده ده، دغه شخص د خراج د راټلو او مصارفو معاملات سرته رسوي او ریکارډ یې د ځان سره ساتي، څلورمه مهمه دنده د حاجب دنده ده، دغه شخص د پاچا د زړه د ارام لپاره کار کوي.

دغه پورته ذکر شوې څلور دندې د نورو نه ډېرې لوړې دي او په دوی کې د وزیر دنده یې له ټولو مهمه ده؛ ځکه، دغه شخص د پاچا د لاس لاندې ټولو کسانو څارنه کوي، د پاچا ملګری او همراز وي او په دولتي چارو کې شریک وي، سربېره پر دې نورې دندې هم شته، مثلا د سرحد لپاره ځانګړی شخص ټاکل، د خراج لپاره، د خوراک او څښاک لپاره، د ټیکس او سکو لپاره ځینې مهم اشخاص ټاکل او نور...، دغه اشخاص د نورو اشخاصو د لاس لاندې کار کوي، چې د هغوی په پرتله دغه کوچنۍ دندې دي.

ابن خلدون خلیفه ته وایي، چې د دین د اقامې لپاره باید مفتي، مدرس، امام، خطیب او مؤذن وټاکي، د انصاف د پلي کولو لپاره باید قاضیان وټاکي، محکمې باید جوړې کړي او هغوی (قاضیانو) ته باید معقولې تنخواګانې ورکړي؛ ځکه، اکثره یې مالداره نه وي، خلیفه په دې کار سره کولای شي، چې عوام خوشاله کړي او د خلافت د موجودیت اساسي موخه هم همدا ده، د دین په سیاسي قوت کې زیاتوالی راځي؛ ځکه، مذهبي جذبه خلک نفرت او کرکې ته مجبوروي او بیا ددې خلکو مقابله هیڅ قوم نه شي کولای او هغه حکومتونه چې د دین نه محروم دي، که په شمیر کې زیات هم وي؛ نو، دواړه سره نه برابرېږي. ابن خلدون د کاتب د دندې یادونه کړې او ویلي یې دي، چې په حکومت کې کوچني کوچني سیمه ایز حکومتونه موجود وي، چې مشري یې والي کوي، والي مرکزي حکومت ته جوابده وي، هغه لیکي، د حکومت مشر ته په کار دي، چې دا کسان باید په دنده باندې وګماري، چې د هغه ځای د حالات په اړه ورته مالومات ورکړي، د هغه ځای د خلکو سره ښه سلوک وکړي او په ښه ډول سره خپله دنده سرته رسوي.

ابن خلدون د مهمو کلیدي وظیفو لکه فوځي او مذهبي وظیفو په اړه په تفصیل سره خبرې کړي دي، هغه د حکومت د ژبې په اړه لیکلي، چې د اسلامي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

حکومت د مخلتفو شعبو او د اسلامي نړۍ د یو بل سره د اړیکو ساتلو لپاره باید یوه ژبه موجوده وي او هغه ژبه باید عربي وي او دا مشوره یې هم ورکړې ده، چې د نورو سیمه ایزو ژبو د پرمختګ لپاره هم باید کار وکړل شي.

اقتصادي مسائل

خدای تعالی انسان خپل خلیفه ټاکلی دی او د نړۍ ټول شیان یې د هغه په واک کې ورکړي دي، یوازې یو شخص باید هغه په خپل تصرف کې رانه ولي، بلکه په ټولنیز ډول ټول خلک باید ترې ګټه واخلي او ټول یې حقدار دي، ارسطو هم ورته نظر لري؛ خو، کله چې یو شی د یوه شخص په قبضه کې راشي، بل شخص یې بې اجازې نه شي اخیستلای، ځینې هغه شیان وړیا دي، لکه د باران اوبه، چې د پټیو او نورو اړتیاوو لپاره استعمالیږي؛ خو، یوازې اوبه د انسان لپاره مهمې نه دي.

ابن خلدون د رزق د لاسته راوړلو څو مختلفې طریقې ذکر کړې دي، لومړی پاچا د محصول او خراج له لارې رزق تر لاسه کوي، دویم ښکاري د ښکار له لارې، دریم، ځینې خلک د ځینو نورو حیواناتو له لارې شیدې ترلاسه کوي، وریښمین لاسته راوړي او د شاتو مچیو نه شات لاسته راوړي او خپل رزق ځان ته برابروي. څلورم لاره یې د کروندې او د ونو څخه د میوو لاسته راوړل دي، پنځمه لاره یې صنعت او فن دی او شپږمه لاره یې سوداګري او ډیری خلک د ملازمت له لارې خپل رزق لاسته راوړي.

د کارل مارکس نه ډیر مخکې ابن خلدون د انسان خواري د اجورې د لاسته راوړلو یوه لاره ښودلې ده؛ ځکه، هغه د شیانو د لاسته راوړلو لپاره خپل خواري کوي او په قیمت کې یې زیاتوالی راولي، یانې د عمل او خوارۍ نه ګټه ترلاسه کوي.

ابن خلدون د سوداګرۍ، ګټې او زیان، اجاره دارۍ او د جګړې په وخت کې د شیانو په ناقانونه ډول ساتلو باندې خبرې کړې دي، دا یې ویلي دي، چې سیاست د اقتصاد سره ژوره اړیکه لري، که د پاچا خزانه ډکه وي او د عوامو د فلاح او بهبود لپاره یې نه مصرفوي؛ نو، په دې وخت کې پاچا په عوامو باندې ظلم کوي،

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه پاچا ته مشوره ورکړې ده، چې د مصارفو او امدن لپاره باید یو متوازنه لاره وټاکي، د قیمتی مخه دې ونیسي او د دولت حاکمیت باید څو کسانو ته پرینږدي، که د پاچا خزانه ډکه وي او د عوامو د فلاح او بهبود لپاره کار کوي؛ نو، عوام خلک به د هغه سره مینه او محبت وکړي، زړه له کومې او په ځان سره به یې اطاعت وکړي، که خزانه خالي وي او عوام د غربت او افلاس ښکار شي؛ نو، د پاچا دښمنان به شي، محصول دی، چې حکومت چلوي، پاچا ته په کار دي، چې په منصفانه ډول محصول ولګوي.

واکمن باید د خلکو نه د زیاتې خوارۍ غوښتنه ونکړي؛ ځکه دا غوښتنه او خواري د هغوی جسماني صحت ته زیان رسوي.

ابن خلدون وایي، چې په کلیو کې کروندې او غله جات د رزق د لاسته راوړلو لاره ده؛ خو، په ښار کې د رزق د لاسته راوړلو لارې چارې ډیرې دي، مثلا صنعت او فن، سوداګري او ملازمت او نور... سوداګرو ته مشوره ورکوي، چې په سوداګرۍ کې سستي ونکړي، بلکه په ایماندارۍ سره سوداګري وکړي، که داسې ونکړي؛ نو، بد اخلاقه به ورته وویل شي، هغوی باید قیمتي رامنځته نه کړي.

ابن خلدون شخصي جائداد قائل ته دی؛ خو، د حکومتي مشرۍ ضد دی، ابن خلدون د حکومت په خوشالۍ او ساتنه، امن او سوله او ابادۍ باندې زیات تاکید کړی دی؛ ځکه، هغه وایې، چې د قوي اقتصاد نه بغیر د حکومت پښې سستې وي.

د ماحول نظریه

د ابن خلدون د ماحول نظریه ډیره مهمه ده، د هغه په نظر د انسان په دماغي او جسماني پرمختګ باندې جغرافیایې حالات ژور تاثیرات لري، معتدلو سیمو کې تمدن او تهذیب ډیر پرمختګ کوي او ددې سیمو خلک په هر لحاظ د معتدل مزاج لرونکي وي، په دې ځآیو کې پیغمبران مبعوث شوي دي؛ ځکه، ددې سیمو خلک په جسمي او ذهني لحاظ بشپړ او د عاداتو په لحاظ متوازن دي، دغه سیمې د طبیعي سرچینو څخه ډکې دي، سرې او سپینې سکې استعمالوي، د هغو اقلیم

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

چې معتدل نه وي، د هغه ځای تمدن معمولي وي، د هغه ځای لباس، غذا او د اوسیدو ځآیونه دټیټې درجې وي، تور پوستي خلک د ونو په جونپړو کې اوسیږي، موسم او هوا د انسان په خلاقو، خیالاتو او عاداتو باندې ژور اغیز لري، دا ضروري نه ده، چې د معتدلو سیمو ټول ځایونه دې سرسبز وي، چیرته ډیرې غلې وي او چیرته بیخي نه موندل کیږي، د شنو ځایونو خلک خوشاله او فارغه ژوند تیروي، ددې سیمو خلک ځکه په جسماني او ذهني لحاظ دومره قوي نه وي، د دښتو، میدانونو، صحراوو او غرونو خلک د سخت ژوند تیرولو عادي وي؛ ځکه، نو ددغه سیمو خلک زیات ذهین وي، د غذا زیاتوالی یوازې انسان نه بلکه حیوان هم اغیزمن کوي، په هغو سیمو کې چې لمر ډیر نږدې وي، د هغه ځای د خلکو رنګ زیات تور وي او په هغه سیمو کې چې لمر ډیر تېز وي، دهغه ځای خلک غم رنګ او سپین وي.

په هر حال ابن خلدون ددې نظریې په اساس د مختلفو سیمو په حکومتونو باندې رڼا اچولې او د هغوی توپیرونه یې څیړلي دي، اروپایي مفکرینو بودان او مونټیسکو هم د جغرافیایي اقلیم په نظر کې نیولو سره په انساني اخلاقو او د هغوی په سیاسي، اقتصادي ادارو باندې غږیدلي دي، ارسطو د خپل وخت د یونانیانو تعریف کړی دی، د فلسفې پراختیا او پرمختګ یوازې د جغرافیایي حالاتو پورې تړلی دی او ددې څخه د اروپا نورې سیمې محرومې دي، مونتیسکو د شمالي اروپا خلکو ته په کتو سره، د یخو سیمو خلک بااستعداده، چست، خواري کښ او ازادی خوښي خلک معرفي کړي دي او ویلي یې دي، چې د ګرمو سیمو خلک سست، کمزوري او د غلامۍ خوښوونکي خلک دي، په داسې حال کې چې د همدې شمال خلک لومړی په وحشت او تیارو کې ډوب وه.

د زده کړې فلسفه

ابن خلدون د زده کړې په اړه هم نظریه وړاندې کړې ده، د هغه په نظر زده کړه د هر شخص طبیعي حق دی، دده نه مخکې هیڅ فیلسوف علم او فن د خلکو طبیعي حق نه وه پیژندلی، ابن خلدون په ښکاره الفاظو سره دا خبره کړې، چې د علم او فن زده کړه د شخص فطري غوښتنه ده، د علم د فضلیت په باره کې هر وخت خلکو نظریات ورکړي دي؛ خو، د علم لاسته راوړل د بشري غوښتنې په

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

حیث او په فلسفي دلائلو باندې د هغې ثابتول په لومړي ځل ابن خلدون وړاندې کړل، ابن خلدون د خپل وخت د تعلیمي نظام نه خوښ نه وه، هغه یې د ښه کولو لپاره فکر وکړ او نظریات یې وړاندې کړل، ابن خلدون د خپل وخت د مفکر قاضي ابوبکر ابن عربي نه زیات اغیزمن ښکاري او د هغه د اصولو ستاینه کوي، د ابن خلدون په تعلیمي نظریاتو کې د ابن عربي افکار ښکاري.

د علم تصور

د ابن خلدون په نظر اصلي او حقیقي علم د معرفت علم دی او معرفت (پیژندنه) انسان ته حقیقت روښانه کوي؛ خو، هر شخص د معرفت علم نه شي ترلاسه کولای او نه هر شخص په کې دلچسپي لري، بدای خلک د دنیاوي او مادي علومو طرف ته کوښښ کوي؛ خو، د حقیقت په پیژندنه (معرفت) کې ابن خلدون وجدان او الهام ته قائل دی او هغه ته یې د شپږم حس نوم ورکړی دی، کوم چې هر شخص نه شي کولای لاسته یې راوړي، بلکه د الله تعالی ورکړه ده او ځینو، ځینو اشخاصو ته ورکول کیږي، هغه خلکو ته چې دا علم ورکړل شوی، هغه پیغمبران دي، په دې لحاظ یوازې پغمبران د حقیقي علم سره اشنا وي، د عامو خلکو عقل محدود او سطحي وي؛ ځکه، نو ضروري ده، چې خلک د پیغمبرانو په تعلیماتو باندې عمل وکړي، تر څو نجات ومومي.

د علومو ډولونه

ابن خلدون ټول علوم په دوه ډولو ویشلي دي.

۱- طبیعي علوم ۲- نقلي علوم

۱- طبیعي علوم

دا داسې علوم دي، چې په هغې باندې د پوهیدو لپاره انسان د خپل فکر نه کار اخلي، په خپلو عقلي قواوو سره موضوعات، مسائل او دلائل حاصلوي، د خپلو ذهني قوتونو نه کار اخلي، په دغو علومو کې مهارت ترلاسه کوي او په هر څه کې تمیز حاصلوي.

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

په طبیعي علومو کې منطق، طبعیات، طب و خلافت، الهیات، سحر، جادوګري، هندسه، موسیقي او نور شامل دي.

۲- نقلي علوم

ددې څخه هدف داسې علوم دي، چې په کومه واضحه وسیله انسان ته حاصلیږي، ددې دار و مدار په نقل او روایاتو باندې دی، انساني عقل په کې کوم رول نه لري، د نقلي علومو سرچینه د خدای تعالی کتاب (قران کریم) او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دي، کوم چې زموږ شریعت دی او زموږ دین ترې منځته راغلی دی، په نقلي علومو کې تفسیر، قرات، حدیث، فقه، لغت، بیان، نحو، اداب، تصوف او د خوبونو تعبیر شامل دي.

د علم ذریعې

د ابن خلدون له نظره علم د دوه لارو څخه ترلاسه کیدای شي، ۱- ظاهري حواس ۲- باطني حواس.

۱- ظاهري حواس: د ظاهري حواسو څخه هدف غوږ، سترګه، پوزه، ژبه او جلد دی.

۲- باطني حواس: د باطني حواسو څخه هدف مشترک حس، تخیل، وهم، حافظه، غور او فکر دي، ددې څخه د مجردو تصوراتو علم ترلاسه کیږي.

ابن خلدون حواس خمسه (پنځو حواسو) څخه د علم زده کول ضروري ګڼلي دي؛ ځکه، ټول دنیاوي او مادي علوم ددې پنځو حواسو څخه ترلاسه کیږي؛ خو، ابن خلدون دغه پنځه حواسه د علم د لاسته راوړلو د یقیني ذریعي په توګه نه مني، هغه وایې، چې ددې حواسو په واسطه تر لاسه شوی علم د معرفت علم نه دی، هغه حقیقي معرفت لپاره ذریعه الهي وحي ګڼي.

د زده کړې موخې

د ابن خلدون له نظره د زده کړې موخې د ټولنې د موخو تابع وي، هغه د زده کړې موخې په لاندې ډول بیانوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

۱- د داسې کسانو روزل، چې ژوند په ښه ډول تیر کړي.

۲- د نویو پیداشویو او بالغانو کلتوري خلاء ډکول.

۳- فرد ته په درست ډول د فکر کولو عادت ورکول، تر څو ټولنیز مسائل په صحیح ډول حل کړي.

۴- زده کوونکو ته د قواعدو او ضوابطو مطابق د ژوند تیرولو تربیت ورکول.

۵- په زده کوونکو کې تمدني خصوصیات رامنځته کول، تر څو ټولنه په صحیحو لیکو باندې روانه کړي.

۶- د مسلمان د زده کړې اصلي موخه د الهي معرفت پیژندل دي، کوم چې د پیغمبرانو د پیروی نه ترلاسه کیږي.

په تعلیمي نصاب باندې نیوکه

د ابن خلدون په وخت کې په تعلیمي نصاب کې زیاتې نیمګړتیاوې موجودې وې، هغه د تعلیمي نصاب نه مطمن نه وه، هغه خپله ټوله توجه تعلیمي نصاب ته واړوله، ابن خلدون د خپل وخت مفکر قاضي ابوبکر ابن عربي نه زیات اغیزمن ښکاري، قاضي ابوبکر د زده کړې په طریقه باندې نیوکه کړې، هغه ویل، چې د ماشومانو د زده کړې پیل باید د قران کریم نه وشي، هغه ویل، چې د قران کریم ژبه د فصاحت، بلاغت له نظره د یو زده کوونکي لپاره ډیره اړینه ده، هغه ویل، چې په حساب او د مورنۍ ژبې په زده کړه باندې هم تاکید کړی دی، د هغه له نظره د حساب په زده کولو سره د ماشومانو فکري قوت زیاتیږي، په دې سره ماشومان د استدلال طریقې زده کوي.

ابن خلدون ځینې لاندې نیمګړتیاوې هم ذکر کړي دي.

۱- د تألیفاتو زیاتوالی

 د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ابن خلدون په وخت کې د تعليمي نصاب يوه ستره نيمګړتيا دا وه، چې د علم په يوه، يوه څانګه او يو، يو فن په يوه اړخ باندې زيات کتابونه وليکل شول او ټول يې په نصاب کې داخل کړي وه او تر څو پورې چې کوم زده کوونکی هغه ټول کتابونه زده نه کړي، د هغه وخت پورې د فضليت دستار نه ورکول کيده، هغو کتابونو د شرحو حيثيت درلوده، د يوه کتاب څو شرحې ليکل شوې وې، په داسې حال کې، چې په دې سره د شاګردانو په ذهن کې انتشار پيداکيده.

ابن خلدون ويلي دي:

د ټولو عبارتونو مطلب يو دی، زده کوونکي مجبوريږي، چې ټول عبارتونه ياد کړي، ابن خلدون وايي، چې په يوه فن کې د زياتو شرحه شويو کتابونو ليکل، ځکه ښه کار نه دی، چې د ټولو کتابونو مطلب يو دی.

۲- د تأليفاتو اختصار

د ابن خلدون له نظره د تأليفاتو اخصتار د زده کړې مانع ګرځي، په هغه وخت کې ځينې داسې علماو وه، چې کوښښ يې کاوه، دريا په کوزه کې بنده کړي.

د ابن خلدون پر ضد دا غږ پورته کيده، چې ابن خلدون وايي، هغه څه چې په تفصيل سره زده کيږي، هغه په مختصر ډول نه شي زده کيدای، داسې ليکوالانو بلاغت ليرې غورځولی دی او زده کوونکي يې په يوه مصيبت کې اچولي دي، په دې سره په زده کوونکو کې علميت نه شي پيداکيدای، بلکه زده کړه يې سطحي وي، ابن خلدون د تأليفاتو اختصار نه خوښاوه؛ ځکه، چې نصاب داسې يوه لاره ده، چې د هغې پواسطه د ژوند ټول حالات زده کيدای شي.

۳- تدريسي اصول

ابن خلدون د استادانو په هلکه وايي، چې هغوی د تدريس په وخت کې د اسان نه مشکل خواته د تګ اصول په پام کې نه نيسي، اکثره استادان په لومړيو کې په سختو او پيچلو مسائلو باندې بحث پيلوي، په دې سره د زده کوونکو په سبق يادولو کې مشکل پيښيږي او تدريس د هغوی لپاره بې مانا وي او نه شي کولای، چې د تدريس نه ښه استفاده تر لاسه کړي او ځينې وخت زده کوونکی د فرار او تيښتې لاره خپلوي

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

۴- د ارتباط اصول

د ابن خلدون له نظره استادان د ژبې او ادب په تدریس کې د ارتباط اصول په نظر کې نه نیسي، استادان داسې چاپیریال پیداکوي، چې درس د زده کوونکو د ذهن نه لوړ وي او په درس کې دلچسپي اخیستلو نه ځان ساتي.

استادان په دې سره د زده کوونکو د ذهني صلاحیتو د له منځه وړلو کوښښ کوي او په دې ډول هغوی د درس د جزیاتو نه محرومیږي.

۵- درجه بندي

په تعلیمي نصاب کې د مضامینو ترتیب نه نیول کیږي، ابن خلدون په تعلیمي نصاب د درجه بندی غوښتونکی وه، د لومړنیو او وروستنیو مسائلو په غلطلو سره تدریس اغیزمن نه وي، د زده کوونکي د صلاحیتونو معلومات دې وشي، چې د هغه ذهن د علومو او فن د اخیستو څومره قابلیت لري، د نن وخت د ښوونې او روزنې ماهرین وایې، چې د نصاب د تدوینولو په وخت کې دې، د زده کوونکي عمر، قابلیت او تمایلات په نظر کې ونیول شي، دا خبره شپږ سوه کاله دمخه ابن خلدون کړې ده.

۶- د علومو حفظول

په هغه وخت کې به زده کوونکي مجبوریدل، چې مضامین حفظ کړي، د مضمونو مطلب او معنا به ورته نه ویل کیده، ابن خلدون ویل، هغه څه چې زده کوونکو ته ویل کیږي، باید تشریح کړل شي او مطلب یې ورته بیان کړل شي، تر څو د درس په اصلي روح باندې پوه شي.

د تدریس طریقه

ابن خلدون د تاریخ د فلسفې د مؤسس او د ټولنپوه په حیث پیژندل کیږي؛ خو ددې تر څنګ هغه د ښوونې او روزنې یو ستر ماهر هم وه، ابن خلدون د تدریس ځینې دورې یا طریقې په لاندې ډول بیان کړي دي.

۱- علوم باید په تدریجي ډول زده کړل شي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون وايي، چې د درس د يادولو ګټوره طريقه داده، چې علوم په تدريجي ډول ياد کړل شي او هم درس بايد لږ، لږ په ذهن کې کېنول شي، دا د ښوونې تر ټول ګټوره لاره ده، کومه چې د انسان روحي غوښتنو ته ځواب ويلای شي، په دويم قدم کې بايد په اختلافي مسائلو باندې هم رڼا واچول شي، په دريمه مرحله کې بايد يوه پيچلې او مغلقه مسئله د تشريح او توضيح سره وړاندې کړل شي.

۲- په يو وخت کې يو فن

ابن خلدون په دې خبره باندې تاکيد کړی دی، چې په يو وخت کې بايد يو فن زده کړل شي، په يوه وخت کې بايد دوه علوم زده نه کړل شي.

۳- د اسان نه د مشکل په طرف

د ابن خلدون په نظر، زده کوونکو ته بايد لومړی اسان او بيا سخت مسائل بيان کړل شي، تر څو د ماشوم ذهن هغه طرف ته لاړ شي، نو د ماشوم ذهن به د مشکل سره بلد شي.

۴- د حساب تدريس

ابن خلدون د حساب په تدريس باندې ځکه تاکيد کړی دی، چې دا مضمون په ماشومانو کې درست او د فکر ښه طريقه پيداکوي او ماشومانو ته صلاحيت ورکوي، چې په يوه مسئله کې سوچ وکړي، حساب په ماشومانو کې د دليل ويلو قوت او طاقت پيداکوي.

۵- د مناقشې طريقه

د ابن خلدون په نظر، په علم کې د پرمختګ لاره په زده کوونکو کې د مناقشې (بحث او مباحثې) رامنځته کول دئ او هغوی ته بايد داسې فرصت ورکړل شي، تر څو په عملي مسائلو کې مناقشه وکړي.

۶- په مورنۍ ژبه زده کړه ورکول

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ابن خلدون په ښوونه او روزنه یو ښه معلم پیژندل کیږي، هغه په دې خبره تاکید کړی دی، چې د زده کړې پیل دې په مورنۍ ژبه باندې وکړل شي؛ ځکه، په بله ژبه کې د زده کړې لاسته راوړل د نیمایې زده کړې سره برابره ده.

۷- د دیني علومو تدریس

ابن خلدون وایي، چې د قران کریم تدریس دې په دریم منزل کې پیل شي؛ ځکه په لومړي سر کې د ماشوم ذهن بالغ نه وي، چې هغه وکولای شي، د قران کریم د ایات په مفهوم باندې په درست ډول پوه شي، اصول دین او اصول فقه دې، د قران کریم د زده کړې نه وروسته ورکړل شي، د اصول دین او اصول فقه نه وروسته ابن خلدون د حدیثو د زده کړې نوم اخیستی دی؛ ځکه په ماشومانو کې باید د لومړي سر څخه د ایمان قوي والی پیدا شي، تر وروسته ترې ښه اشخاص جوړ شي.

۸- د مجهول نه د معلوم په طرف

د ابن خلدون په نظر، د مجهول نه د معلوم په طرف تګ یو ښه تدریسي اصل دی، دا یو فطري اصل دی، چې ابن خلدون وړاندې کړی دی.

۹- د قران کریم ښوونه

ابن خلدون د قران کریم په ښوونه باندې تاکید کړی دی، په خپله مقدم نومي کتاب کې یې داسې ویلي، چې په اسلامي امت کې د قران کریم ښوونه یو دیني شعار دی او په ټولو ښارونو کې پرې عمل شوی دی، په دې سره د ماشومانو عقیده په قران کریم باندې قوي کیږي؛ ځکه کله چې ماشوم د قران په اساس وروزل شي؛ نو ټول علوم به د قران کریم په اساس لولي.

کوچنیان په لومړي سر کې ډیر ریښتیا ویونکي وي او د راتلونکي زده کړو لپاره یې اساس وي، هر هغه څه چې یې په زړه کې کینول کیږي، هغه یې د راتلونکي لپاره ریښه وي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د ښوونکي او زده کوونکي اړیکې

ابن خلدون د زده کوونکو په اړه ویلي، چې استادان باید د زده کوونکو سره په همدردی سره مخامخ شي، که زده کوونکو ته په تشدد او جدي ډول زده کړه ورکړل شي؛ نو زده کړه به یې په زده کوونکي باندې هیڅ اغیز ونکړي.

هغه د ماشومانو په معقول تربیت باندې تاکید کړی دی، هغه ددې خبرې سخت مخالف دی، چې د ماشومانو د تربیت په وخت استاد په زده کوونکو باندې تشدد کوي او د هغوی اخلاقي او عقلي شرف ته زیان رسوي.

ابن خلدون د محمد بن ابي زید غوندې په ماشومانو باندې د شفقت مشوره ورکړې ده او همداسې امام غزالي هم په خپل کتاب احیاء العلوم کې استادانو ته همدا مشوره ورکړې ده.

د سزا ورکول طریقه

د ابن خلدون په نظر، د زده کړې په دوران کې کوچنیو ماشومانو باندې سختي او تشدد کول ډېر زیان لري، د تشدد په کولو سره د هغوی زړه له زده کړې نه بدیږي، هغوی د تشدد په زریعه دروغ ویل پیلوي، زده کوونکی مکر او فریب خپلوي، د تشدد په واسطه کورنۍ سره د ساتنې مینه یې ختمیږي او په نورو باندې بوج کیږي.

چارلس عساوي په خپل کتاب کې، چې د مقدمې انګلیسي ژباړه یې کړې ده، لیکلي، چې د جسمي سزا ورکولو لپاره مسلمانو پوهانو حدود ټاکلي وه، ابن خلدون د محمد بن ابي زید سره په دې خبره موافق دی، چې ماشوم دې په یو وخت کې د دریو لښتو نه زیات نه وهل کیږي، د وهلو طریقه یې هم بیان کړې، چې په لاس دې ووهل شي، لښته باید داسې نه وي، چې هډوکی مات کړي.

ابن خلدون وایې، ښه طریقه داده، چې زده کوونکو ته قران، حدیث، قصص الانبیاء او د دین د مشرانو د ژوند حالات بیان کړل شي، د استاد شخصیت باید د زده کوونکو لپاره یوه نمونه وي.

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د علم په لاسته راوړلو کې د سفر اهمیت

د علم د لاسته راوړلو لپاره د وطن پرېښودل او د وخت د علماؤ سره کتل، علم ته ځلور ستوري لګوي، وجه یې داده، چې انسان کله علوم، اخلاق، د مذهبونو اړوند علم او نور کله د تعلیم له لارې ترلاسه کوي او کله یې د خبرو له لارې لاسته راوړي؛ خو هغه څه چې د خبرو له لارې ترلاسه کیږي، هغه په پوخ ډول زده کیږي او په زړه کې ژور ځای نیسي.

څومره چې د استادانو سره نږدې وي، هغومر یې په مهارت کې استحکام منځته راځي، ځینې زده کوونکي فکر کوي، چې دا هم د علومو یوه برخه ده، چې د استادانو سره ډیر نږدې وي، زده کوونکي د استادانو سره په نږدې اوسیدو سره مسائل ښه زده کوي، د ګټو او کمالاتو د ترلاسه کولو لپاره یو زده کونکي ته په کار دي، چې سفر وکړي، تر څو د مختلفو استادانو نه ګټنه (استفاده) وکړای شي.

ابن خلدون وایې، چې د علم د زده کړې د ترلاسه کولو لپاره سفر کول او د وتلو علماؤ سره کتل، باید د یو لازم پروګرام په واسطه ترسره شي، د علم د زیاتوالي او ژور کیدو لپاره سفر ډیر اړین دی، بله اړینه خبره داده، چې د ښوونکو شمیر هم د زده کوونکو په قابلیت باندې اغیز لري؛ ځکه، نو زده کوونکو ته په کار ده، چې د خپل وخت د زیاتو ښوونکو سره اړیکې ولري.

ابن خلدون وایې، چې د علم د لاسته راوړلو لپاره سفر کول اړین دي، د سفر په واسطه ترلاسه شوی علم د زیات وخت لپاره پاتې کیږي، د سفر په ذریعه د زده کوونکو د علم د قوت د مشاهده کولو قوت زیاتیږي، نوې تجربې زده کوي او د غور او فکر عادت یې پخیږي.

د ابن خلدون په وخت کې د لیرې سفر کولو نه بغیر د علم لاسته راوړل په بشپړ ډول سرته نه رسیدل او زده کوونکو به د علم د لاسته راوړلو لپاره سفرونه کول، په هغه وخت کې د هر سفري زده کوونکي لپاره په مدرسو کې د قیام او طعام ځانګړی انتظام موجود وه، په دې کې هیڅ شک نشته، چې انسان علوم، اخلاق او فضائل د کتابونو د مطالعې له لارې هم ترلاسه کولای شي؛ خو، د ښوونکو د مناقشې له لارې د علم لاسته راوړل او په مینه او محبت سره خبرې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

کول، د کتابي مطالعې نه ډېر اغیزمن وي، په دې ډول په اسلامي تعلیمي نظام کې سفر ستر اهمیت لري.

علوم

علامه ابن خلدون په خپل کتاب مقدمه کې د علومو لپاره یو فصل ځانګړی کړی دی، په دې فصل کې د هغه وخت د علومو په غرض او مفهوم باندې بحث شوی دی، د علامه دغه علوم افاقي حیثیت لري او سربیره پر دې د انسانانو لپاره ډېر ګټور دي.

په دې علومو کې ګټه ډېره موجوده وي، دا ټول علوم د انسانانو د روحي او مادي مسائلو د حل کولو لپاره کوښښ کوي.

د تمدنونو په اړه ابن خلدون وایې، چې تعلیمي کړنې هغوی ته ډېره ګټه رسوي.

ځکه، علم او تدبر د انسان ذهن، ټولنیز ژوند او روحي ژوند کې یووالی رامنځته کوي او دا د فطرت غوښتنه هم ده.

علم د عرفان سرچینه ده او عرفان د ژوند سرچینه ده او د دوی څخه لوړ د علم مفهوم دی.

د ابن خلدون له نظره، علوم د ټولنیز او کلتوري پرمختګ ښکارندوی دي، برعکس علمي جمود د ټولنې د انتشار او بربادۍ سبب ګرځي، د علمي تحریک موخه د حق ترلاسه کول دي، ددې علم وروستی غرض دادی، چې انکشافات او حقائق د یو نسل نه بل نسل ته انتقال شي.

ابن خلدون وایې، چې د هرې ډلې لپاره د ژوند او کائناتو نه د ګټې اخیستلو لپاره اړینه ده، چې د حقائقو نه ګټه واخلي، کنه نو د نه اخیستونکو قومونو زوال به پیل شي.

ځکه؛ نو، د مذهبي، کلتوري، ساینسي او فلسفي علومو زده کړه د ټولنې د هر وګړي لپاره ضروري ده، تر څو ټولنه د جمود ښکار نه شي او ټولنیز پرمختګ لا ګړندی شي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د علم زده کړه یو صفت دی

کله، چې یو انسان د علم د اصولو او قواعدو د اساساتو تر څنګ د یو علم جزیات زده کړي؛ نو، هغه انسان د علم ماهر شي؛ خو، کله چې هغه خپل زده کړی علم په عمل کې پلی کړي، بیا پرې پوره پوهیږي او د علم لاسته راوړونکی په خپل علم باندې عالم شي، د علم لاسته راوړونکی خپل ذهني صلاحیتونه او وړتیاوې استعمالوي او په ذکر شوي علم کې د کمال درجې ته رسیږي.

د علم زده کړه او د علم بل ته ښوول یو صفت دی، په علم کې د پوره برلاسته لپاره په کار دي، چې زده کوونکي زیات وخت د علمي مسائلو پر مناقشه او مناظره باندې تیر کړي، په دې کار سره زده کوونکي په خپل علم او فن کې ماهر کیږي.

د تضاد نظریه

ابن خلدون ښاري او کوچیانۍ صحرایي ژوند د یو بل سره په تضاد کې ښي، د ښارونو د اوسیدونکو مزاج، اوسیدل او روایات د کوچیانو خلک ستر توپیر لري.

په همدې لحاظ یې د یو نسل نه بل نسل ته د دواړو تمدونونو د ژوند علمي څیړنه کړې ده.

هغه وایې، کله، چې کوم صحرایي قوم ښارونه ونیسي او ښاري ژوند خپل کړي؛ نو بیا په تدریجي ډول د هغوی قوت پای ته رسیږي.

د تصوف علم

په اسلام کې د شریعي علومو څخه یو هم تصوف دی، تصوف د سلفو د سترو اصحابو، تابعینو او د هغوی نه وروسته خلکو د هدایت او حق ته د تلو لاره ده.

دې علم اساسي اصل خپله ټوله توجه عبادت ته اړول دي او د دنیا د لذتونو سره اړیکه پریکول دي.

ځیني وایې، چې دا لفظ د صفې نه اخیستل شوی، چې د یوې جونیړې په معنا ده؛ خو، قیاس دا خبره نه تاییدوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د تصوف د علم خاوندان د علومو پيژندنه د ادراک له لارې کوي، په دې سره شک، وهم او نور له منځه ځي.

صوفيان وايې، روح چې په بدن کې پيژندل شوی دی، دا هغه شی دی، چې انسان ممتازوي.

د شريعت علم فقهاؤ او مفتيانو ته ځانګړی شوی دی، يعنې عبادات او معاملات د هغوی پورې تړلي دي او مجاهدې او محاسبې د صوفيانو پورې تړلي دي.

ځينې صوفيان مفتيان او مدرسي مني او ځينې يې نه مني، صوفيان د وحدت نظريې ته قائل دي، د صوفيانو په ليکنو کې د قطب لفظ هم ليدل کيږي، چې معنا يې د عرفانو خلکو مشر دی.

د تعبيرالرويا علم

دا علم هم رامنځته شوی دی، زيات شمير علماؤ پرې کتابونه ليکلي دي.

خوب او تعبير کول يې، د نن په څير په سلفو کې هم موجود وه، د اسلام نه مخکې هم په مختلفو قومونو او سلطنتونو کې يې موجوديت درلوده او د خوبونو تعبيرونه به يې کول.

کله، چې انسان د خوبه راپاڅيږي؛ نو، وايې، چې نن مې خوب کې فلانی شی وليده؛ خو، حقيقت دادی، چې خوب د يوې نه يوې پيښې سره تړلی وي.

عددي علوم

حساب د عددي علومو يوه برخه ده، حساب يو علمي صنعت دی، ددې اساسي مسائل جمع، منفي، ضرب او تقسيم دي، دا ډير لوی او ګټور علم دی.

پخوانيو ويلي، چې ماشومانو ته دې لومړی د حساب علم زده کړل شي، ددې علم زده کړه ډيره اړينه ده؛ ځکه، په هره معامله کې حساب ته اړتيا پيښيږي، د حساب علم په واضحو معلوماتو او منظمو دلايلو باندې سمبال دی، ددې علم په زده کړې سره، په عقل کې روښنايي او په نفس کې صداقت رامنځته کيږي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه شخص چې په حساب کې ماهر وي، په هغه باندې به صداقت او رېښتینولي غالبه وي، هغه لپاره رېښتیا ویل د عبادت شکل خپلوي.

په هغه وخت کې په مغرب کې د حساب په اړه ښه کتاب د (الحصار الصغير) په نوم لیکل شوی وه، د حساب په اړه د ابن بناء مراکشي کتاب هم د یادولو وړ او د ښو کتابونو له جملې څخه دی، دا کتاب د عامو قاعدو لپاره جامع او ګټور کتاب دی، ابن بناء ددې کتاب شرح د (رفع الحجاب) په نوم لیکلې ده.

الجبر

الجبر هم د اعدادو د علم یوه څانګه ده، په دې علم کې د مجهول عدد نه معلوم عدد راویستل کیږي.

عدد لومړی درجه لري؛ ځکه، په دې سره مجهول عدد تعینیږي، کوم چې د خاص نسبت نه راویستل کیږي، دویمه درجه د شي ده؛ ځکه، هر مجهول یو شی دی او جذر هم وي، په دویمه درجه کې ضعف لازم دی، دریمه درجه د حال ده، ددې درجو نه وروسته نمبر د نورو مجهولاتو دی او هغه دوه مضربونه دي.

په الجبر کې، هره پوښتنه د دوه یا زیاتو مختلفو شیانو تر منځ مساوات رامنځته کوي او حلوي یې، په دې ډول د یو شي د بل شي سره مقابله وي او کسرونه په درست ځای کې راوړل کیږي، کله، چې د دواړو تر منځ مساوات رامنځته شي؛ نو، پوښتنه حل شي.

د الجبر لومړی لیکوال ابوعبدالله خوارزمي دی، د هغه وروسته ابو کامل شجاع بن اسلام دی، سربیره پر دې نورو هم د الجبر د علم اړوند کتابونه لیکلي دي، چې په ټول کې وتلی او ښه کتاب (کتاب القرشي) دی.

رياضي او هندسه

په دې علم کې د یوناني پوه اقلیدس کتاب وتلی دی، دا کتاب په عربي ژبه هم ژباړل شوی دی، دا کتاب په (کتاب الاصول) او (کتاب ارکان) باندې هم مشهور دی، دا کتاب د هندسې د علم د زده کړې لپاره ډېر ګټور دی، دا کتاب څو کسانو

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

ژباړلی دی، ددې کتاب یوه ژباړه ابوجعفر منصور هم کړې ده، یوه حنین بن اسحاق هم کړې ده، یوه ثابت بن مقره او یوه هم یوسف بن حجاج کړې ده.

دا کتاب ډېر اختصار شوی هم دی، چې ابن سینا په خپل کتاب (تعالیم شفا) کې یو فصل ددې لپاره ځانګړی کړی دی.

ابن الصات هم ددې اختصار د (کتاب الاقتصار) په نوم کړی دی، زیات خلکو شرحې هم لیکلي دي، چې همدغه کتاب د ریاضي او هندسې لپاره سرچینه شمیرل کیږي.

د ریاضي په واسطه په عقل کې روښنایي او فکر کې استقامت رامنځته کیږي؛ ځکه، د ریاضي په واسطه ترتیب، روښانه نظم رامنځته کیږي او د غلطیو امکان ډېر نه وي.

ددې فن یوه څانګه د کروي اشکالو پورې ځانګړې شوې ده، دویم څانګه یې د مخروطي اشکالو پورې تړلې ده.

مساحت هم د ریاضي یوه برخه ده، د انجینرۍ علم تر هغه وخته نه شي بشپړیدای، تر څو د ریاضي او هندسې علم یې پوره نه وي یاد کړی.

په دې موضوعاتو باندې یونانیانو زیات کتابونه لیکلي دي، په مسلمانانو کې ابن الهیثم په دې موضوع کې زیات کتابونه تألیف کړي دي.

د منطق علم

د منطق علم داسې علم دی، چې د ماهیت د ترلاسه کولو لپاره دلایل په کې ویل کیږي.

اصلا د حسونو ادراک په ټول حیواناتو کې مشترک دی، که هغه ناطق وي که غیر ناطق.

په یونان کې ارسطو د منطق د علم مسائل ښه وڅیړل او منطقي مسائل ترتیب او په فصلونو باندې یې وویشل او دغه فن یې د حکمت د علم سرچینه وټاکله.

په دې وجه ارسطو ته لومړی معلم وايي، د ارسطو د منطقو د کتاب د علم نوم (نص) دی، چې په اتو فصلونو باندې یې ویشلی دی، په دې کتاب کې څلور کتابونه د قیاس په اړه دي او څلور د قیاس د مادې په اړه دي.

د یونان پوهانو د منطق په علم ډېر کار کړی دی، ددې ټولو یوناني کتابونو ژباړه عربي ژبې ته شوې ده او مسلمان فلسفیانو په دې باندې شرحې هم لیکلي دي، په دې شرحه لیکونکو کې فارابي او ابن سینا د ځانګړي نوم خاوندان دي، په اندلس کې ابن رشد د یادولو وړ شخص دی او ډېرې ښې شرحې یې لیکلي دي.

امام فخرالدین رازي او فضل الدین خونجي هم د منطقو د علم اړوند ډېر ښه اثار لیکلي دي.

د طبیعاتو علم

د طبیعاتو علم د اجسامو د حرکت او سکون په اړه بحث کوي، په دې کې فلکي اجرام او ځمکه هم تر څېړنې لاندې نیول کیږي.

په دې علم کې وریځې، ګرد و غبار، د ثقل قوه او د زلزلو په اړه بحث کیږي.

پخوانیو د ارسطو لیکل شوی کتاب د طبیعیاتو د علم په اړه ښه او مهم کتاب ګڼلی دی، دا کتابونه عربي ژبې ته هم ژباړل شوي دي او مسلمان فیلسوفانو هم په دې فن کې زیات مسائل څېړلي او شرحې یې پرې لیکلي دي.

ابن سینا د ارسطو د کتاب لنډیز لیکلی او ځینو زیاتو مسائلو تردید یې هم کړی دی، سربیره پر ابن سینا په اندلس کې ابن رشد هم ددې کتاب خلاصه لیکلې ده؛ خو، په دې کتابونو کې د ابن سینا کتاب (الاشارات) ته په نړۍ کې زیات اهمیت حاصل دی او په ټوله نړۍ کې ورته د قدر په سترګه کتل کیږي، د ابن سینا د ذکر شوي کتاب تر ټولو ښه شرحه امام فخر الدین رازي لیکلې ده او وروسته نصیرالدین طوسي هم یوه شرحه ولیکله.

د طب علم

په دې علم کې د انسان پر صحت او ناروغتیا باندې یې بحث کیږي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

يو طبيب د صحت اړوند د درملو په ساتنه او غذا باندې تأکيد کوي.

يو ماهر طبيب ددې خبرې معلومات کولای شي، چې ناروغتيا د بدن په کومه عضو کې ده، هغه د ناروغتيا علتونه هم معلوموي، د هغې وروسته د درملو د خوړولو هم وايې.

د طب په علم کې د اعضاؤ ګټې هم داخلې دي، ددې مطلب دا دی، چې د انسان د بدن داخلي اعضاء انسان ته کومې ګټې رسوي.

پخوانې پوهان جالينوس د طب د پوهانو امام بولي او د حکيم جالينوس څو کتابونه عربي ته ژباړل شوي دي، د طب په علم کې د حکيم جالينوس کتابونه معياري ګڼل شوي دي، همدا وجه ده، چې حکيمان د هغه کتابونه خپلې مخې ته ږدي او عمل پرې کوي.

په اندلس کې ابن زهر او ابن رشد وتلي حکيمان وه، موږ ته معلومه شوې، چې په کليو کې هم د طب علم موندل کيږي، داسې علم د نورو پر تجربو باندې ولاړ دی، په کليوالي طب کې طبي قوانين په نظر کې نه نيول کيږي.

د نباتاتو علم هم د طب پورې تړلی دی، ابن عوام څو يوناني کتابونه عربي ته ژباړلي دي، د نباتاتو علم ډير ګټور دی، په ټولو طبي درمل جوړولو کې د بوټو څخه کار اخيستل کيږي.

ابن خلدون او د جغرافيي علم

ډاکټر ار جی مارتهر کوم چې د پنسلوانيا پوهنتون د جغرافيي د ديپارتمنت مشر دی، وايې، چې ابن خلدون چې کومه جغرافيه بيان کړې ده، د هغې اساسي اصول دي او موږ د ابن خلدون د وخت پورې د هغه غوندې جغرافيه پوه نه وينو.

ځمکه ګرده ده

د کائناتو په اړه د پوهانو د کتابونو نه داسې معلوميږي، چې ځمکه ګرده ده او د اوبو د عنصر نه رامنځته شوې ده، کله چې خدای تعالی په ځمکه باندې

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

حیوانات پیداکول؛ نو، انسان ته یې په ټولو باندې د مشرۍ حق ورکړ، کله، چې یې ځمکه ودانوله؛ نو، د ځمکې د ځینو برخو نه یې اوبه لیرې کړې، د ځمکې لاندې مرکزي نقطه یې مرکز دی او د ځمکې ټول اطراف ددې ثقل د مرکز د کشش د قوې په واسطه په دې پورې تړلي دي.

د ځمکې نیمه برخه خلاصه ده

د ځمکې هغه برخه، چې اوبه ترې لیرې کړای شوي دي نیمه برخه ده او اوبو ځمکه د هرې خوا نه احاطه کړې ده، هغه سیمې ته بحر میت وایې، یوه عجمي برخه او بله یې اقیانوسي برخه ده، چې دې سیمې ته بحر اخضر اسود هم وایې.

د ځمکې څومره برخه ودانه شوې ده

د ځمکې نیمه برخه اباده ده او نوره یې نه ده اباده شوې، وران ځایونه د جوړ شویو ځایونو څخه زیات دي، د ځمکې جنوبي برخه نسبت شمالي برخې ته زیاته ورانه ده، اباده برخه د شمال طرفه زیاته ده، جنوب خوا ته غرونه او بحرونه ډیر دي.

ځینې خلک وایې، چې د ځمکې زیاته برخه اوبه نیولې ده.

په دې ډول د ځمکې یو پر څلورمه برخه اباده شوې ده.

د روم د بحیرې موقعیت

د جغرافیې پوهان وایي، چې د بحر میت نه لویدیځ خوا ته د روم بحیره پرته ده، دا سیمه د طنجه او طرین د ۱۲ میلو د فاصلې نه پیل کیږي، بیا مخکې ځي او پراخیږي، د شام ساحل هم دلته پروت دی، د اسکندریې پورې د برقې ساحل پروت دی، په شمال کې یې د قسطنطیني ساحل پروت دی، ددې وروسته بنادقه، روم او بیا د انګلستان ساحلونه پراته دي، د هغو وروسته د اندلس بحر راځي، کوم چې د طرین پورې اوږد پروت دی، په دې کې څو جزیرې دي، لکه کریټ، قبرص، سیسلي او نور.

د قسطنطنیې خلیج

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د بحر میت په شمال کې د دوو بحرونو نه دوه جلیجونه پراته دي، یو د قسطنطني په سیمه کې، دا د دریو سمندرونو نه تیریږي او بیا د څلورو میلو څخه ۶۰ میلو ته مخ په وړاندې ځي، دې ځای ته د قسطنطني خلیج وایې، بیا د ختیځ طرف ته ځي او د هرقلې د سیمې ته تیریږي او خزریه (قزوین) ښار ته رسیږي او همدلته یې پای دی، ددې ځای اوږدوالی ۱۳ میله دی.

ددې خلیج په غاړه روم، ترکیه، برجان او روس پراته دي.

د بنادقې خلیج

د روم د بحیرې دویم خلیج نه دویم سمندر د روم د سیمې شمال ته پروت دی، بیا د غرونو نه راوځي او د لویدیځ طرف ته د بنادقې ښار خوا ځي، بیا ۱۱۰۰ میله سفر کوي د انکلایه د ښارونو نه وځي او پای ته رسیږي، په دې ځایونو کې د بنادقو او رومي قومونو خلک اوسیږي، ځکه دې خلیج ته د بنادقې خلیج وایې.

د چین، هند او حبشې بحر

د شمال طرف ته ۱۳ میله لیرې، یو ستر بحر پروت دی، د جنوب طرف ته لومړي اقلیم ته رسیږي، بیا همدا اقلیم لویدیځ طرف ته تاویږي، ددې اقلیم پنځه برخې دي، په پنځمه برخه کې یې د حبشو او زنګیانو د باب المندب ښارونه دي، چې سمندر همدلته پای ته رسیږي.

دې ځای ته د چین، هند او حبشې بحر وایې، په دې ځای کې زنګیانو او د بربرې د ښار مرکز امرءالقیس هم پروت دی، په شمال کې یې چین، هند، سند او بیا احقاف او زبیده پراته دي، چې دا وروستي یې یمني سمندرونه دي، ددې وروسته د حبشیانو هیواد پروت دی.

د قلزم بحیره

د حبشې د بحر نه دوه نور بحرونه هم راوځي، یو یې د باب المندب سره نږدې دی، دا د شمال نه لویدیځ طرف ته پرمخ ځي، ۱۴۰۰ میله مخکې ځي او بیا د پنځم اقلیم سره پای ته رسیږي، چې دې ځای ته د قلزم بحر او د سویز بحر وایي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

په ختيځ سمندر باندې يمن، حجاز او جده پراته دي، په اخر کې يې مدين، امله او فاران دي، دويم طرف ته يې د حبشو ښارونه دي.

د فارس خليج

د حبشو د بحر نه دويم راوتي سمندر ته د اخضر خليج وايي، دا د سند او احقاف د منځ نه راوځي او د شمال خوا روان وي.

د جنوب خواته يې، سند، مکران او د کرماني فارس سواحل پراته دي، لويديځ طرف ته يې، بحرين، يمامه، عمان او شحر اباد دي، په ابتداء کې يې يمني احقاف دي.

د عربو جزيره

د عربو جزيره د قلزم او د فارس د بحيرې په منځ کې پرته ده، په جنوب کې يې د هند بحر په لويديځ کې يې د قلزم بحيره او ختيځ طرف ته يې د فارس بحيره پرته ده.

د عربو جزيره د شام او بصرې نه تر عراق پورې پرته ده، کوفه، قادسيه، او بغداد په همدې برخه کې پراته دي، سربيره پر دې د حجاز، يمامې، او د يمن جنوبي خوا ته پراته دي.

د عربو زياته ساحه صحرايي ده او ددې ځای د سيمو اوسيدونکي د خپل پخواني روايات ساتلي دي.

د جرجان او طبرستان بحرونه

ددې نړۍ شمالي برخې ته د ويلم سيمه پرته ده، ددې د ټولو سمندرونو نه يو جلا سمندر دی، يو ته د جرجان يا طبرستان بحر وايي، ددې اوږدوالی ۱۰۰۰ ميله او عرض ۶۰۰ ميله دی، په لويديځ کې يې اذربايجان، ويلم او په ختيځ کې يې د ترک او خوارزم سيمې پرتې دي، په جنوب کې يې طبرستان او په شمال کې يې د خزرولان سيمه پرته ده، دا ټول هغه مشهور سمندرونه دي، ذکر يې د جغرافي علماؤ کړی دی.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

د نیل دریا

دغه دریا د شمال نه جنوب خواته بهیږي، د نوبې نه وروسته د مصر د ښارونو نه تیریږي او دلته په زیاتو څانګو باندې تقسمیږي، دا د روم د بحیرې سره نږدې د سکندریې په سیمه کې بحر ته توییږي، په ختیځ کې یې صعید او لویدیځ کې یې الواحات پراته دي، دویمه دریا د لویدیځ طرف ته مخ کوي، دې دریا ته د سوډان دریا وایي، ټول سوډاني اقوام ددې دریا په غاړو باندې اباد دي.

د فرات دریا

دا د پنځم اقلیم شپږمه برخه ده، دا د ارمنیا د غرونو نه سرچینه اخلي او جنوب خواته د روم د سیمو نه تیریږي، او د صفین، رقحې، کوفې، بصرې پورې رسیږي او بیا د حبشو په بحر کې توییږي، ددې دریا شاوخوا سیمې ډیرې شنې دي.

د دجلې دریا

دا دریا هم د ارمنیا د غرونو نه سرچینه اخلي، په جنوبي برخو کې د موصل، اذربایجان او بغداد نه تیریږي، دلته په څو څانګو باندې ویشل کیږي.

د جیحون دریا

د دریم اقلیم اتمه برخه ده، ددې سرچینه په بلخ کې ده، دا د جنوب نه د شمال طرف ته بهیږي او خراسان ته رسیږي، ددې وروسته ته خوارزم ته رسیږي او بیاد جرجان په بحر کې توییږي.

د جیحون په دریا کې د خراسان او خوارزم سیمه پرته ده، په ختیځ کې یې د بخارا، سمرقند او د ترمذ سیمې پرتې دي.

دا ټوله جغرافیه بطلیموس په خپل کتاب (زخار) کې ذکر کړې ده، هغه په خپله جوړه کړې نقشه کې د نړۍ د غرونه، سیندونه او میدانونه هم ښودلې دي.

د نړۍ ابادي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

لومړی او دویم اقلیم

وتلی څېړونکی فرانزروزن تهل په ۱۹۶۷ ز کال کې یو کتاب (An Introduction To History) ولیکه او د تاریخ پېژندنه یې په کې کړې ده، لیکلي یې دي، چې په ټولنپوهنه، اباديَ او د اوسیدو د ځایونو په اړه د ابن خلدون نه پوه شخص ماته بل په نظر کې نه ښکاري، هغه چې د ټولنپوهنې او اباديَ په اړه څه لیکلي دي، هغه وروستی خبرې دي.

ابن خلدون ابادي او جغرافیه په ډېر علمي انداز کې وړاندې کړې ده او خپل معلومات یې په سانسي انداز کې ترتیب کړي دي، هغه خپل معلومې جغرافیي په حواله موږ ته وا یي، چې نړیَ ګرده ده او په دې کې اووه براعظمونه (لویې وچې) دي او هغه دغه لویې وچې په اوو اقلیمونو باندې ویشلي دي او د هرې لویې وچې ابادي یې ذکر کړې ده.

ابن خلدون د دویم او دریم اقلیم په اړه وایي، چې په دې سیمو کې ځنګلونه، ورانیَ او ریګستانونه ډېر زیات وي، ځکه په دې سیمو کې بادي ډېره کمه وي، ددې دواړو اقلیمونو جنوبي برخې نه دي ابادې شوې؛ ځکه، هلته د ګرمیَ شدت زیات دی، د همدې په وجه وچکالي او د اوبو کموالی وي او غربت او افلاس ډېر موجود وي.

دریم اقلیم

په دې سیمو کې د نړیَ د نورو سیمو په نسبت شپې او ورځې اوږدې وي، ورځ په کې ۱۴ یا ۱۵ ساعته وي، ددې سیمو جنوبي برخې هم څه نا څه ابادې وي، دلته خوشالي هم دومره زیاته نه وي؛ خو، په جنوبي برخو کې د اوبو اندازه زیاته وي، په دې اقلیم کې مصر او قاهره شامل دي.

څلورم اقلیم

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

دا اقليم د دريم اقليم سره په شمال کې ملاويږي، د خضر جزيره د مجاز قصر يې په جنوب کې پراته دي، په دې اقليم کې زياتې جزيرې او د سيسلي سيمه پرته ده، په دې اقليم کې د لويديځ زياتې سيمې او هيوادونه شامل دي.

پنځم اقليم

ددې اقليم په جنوب کې اندلس پروت دی او د سمندر نه تيريږي او په ختيځه سيمه کې يې څو جزاير پراته دي، په دې اقليم کې د ترکانو سيمه هم راځی.

شپږم اقليم

په دې اقليم کې د انګلستات جزيره او د لويديځ زيات هيوادونه او ښارونه شامل دي، د شمال خواته د روسيي ابادي پرته ده، بلکه په جنوب لويديځ کې د قسطنطنيي ښار پروت دی.

اووم اقليم

په دې اقليم کې د روسيي ځينې سيمې واقع دي، دا برخه د جنوبي قطب پورې رسيدلې ده او په دې ځای کې ابادي د نشت په برابر موجوده ده؛ ځکه، ددې اقليم زياته برخه واورو پوښلې وي.

په انساني رنګ باندې د اقليم اغيزې

موږ په جغرافيه کې ذکر کړل، چې په شمال کې زياته يخني وي، بلکه په جنوبي سيمو کې زياته ګرمي ده؛ خو، منځنی برخې معتدلې دي، په دې سيمو کې اوسيدونکي خلک زيات معتدل مزاجه وي، په علومو او فنونو کې همدغه خلک پرمختګ کوي، دا خلک د نرم مزاج لرونکي دي، ښکلي عمارتونه جوړوي، بهترين لباسونه اغوندي، ددې سيمو د خلکو اخلاق ډير لوړ وي، په دې سيمو کې حيوانات او ميوې هم د اعتدال لرونکي وي.

د ګرمو سيمو اوسيدونکي نيمه وحشي وي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

هغه اقليمونه چې د معتدل والي څخه ليرې دي، خلک يې هم په ټولو حالتونو کې د اعتدال نه ليرې وي، د هغوی کورنه د خټو او بانډسونو نه جوړ شوي وي، د هغوی خوراک جوار او واښو ته ورته شيان دي.

د اعتدال نه د ليرې والي په وجه ددې خلکو مزاج او اخلاق د حيواناتو سره تقريبا ورته وي؛ ځکه، نو نيمه وحشي وي، په دې خلکو کې د صنعت او فن هيڅ رواج موجود نه وي.

حوالې:

١- ډاکټر طه حسين کا فرانسيي مقاله، ١٩١٧ ز د ابن خلدون سوانح، د فرانسې چاپ

٢- د اکبر احمد مقاله (تهذيب اور تهذيب کا سمجهنا) مقدمه ابن خلدون – ٢٥ مخ، جرنل مطبعه فرانس

٣- ډکشنري اف مسلم نيمز – صلاح الدين احمد، هارټس مطبعه، لندن.

۴- ايم ای عنان – د ابن خلدون سوانح ، د مصر چاپ ١٩٢٥

۵- C.F Seybol D د لندن چاپ

۶- د ابن خلدون د مقدمې تشريح، اوويس مطبعه ١٩٩٥، نيو يارک پوهنتون

٧- عبدالمحاسن ابن تغری بيروی – سوانح ابن خلدون

٨- دي فادر اف اکنامکس اينډ عرب سولايزيشن – اوويس نيو يارک پوهنتون چاپ ١٩٨٨

٩- چودهوين صدي کا ماهر معاشيات ابن خلدون - جين ډيوډ- جرنل مطبعه

١١- کتاب العبر – ابن خلدون

١٢- د پروفيسور ډاکټر طه حسين د پي ايچ ډي مقاله- مترجم مولانا عبدالسلام ندوي، عظم گرهـ مطبعه ١٩۴٠

www.sikaraam.com
د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

۱۳- ابن خلدون او اسلامي ساينس – محمد عبدالله ۲۰۰۷ چاپ

۱۴- سروی ان دی ډوپلمنټ اف هسټري، ساينس اينډ اکنامکس – محمد خواجه – اغا خان پوهنتون

۱۵- هسټرو ګرافي اينډ اسلامک سکالر – ۲۰۰۸ اغا خان پوهنتون

۱۶- مسلم سکالرز او ابن خلدون – اغاخان پوهنتون ۲۰۰۸

۱۷- Debate God attrebutes with Mutazilah and ibni Kheldon, the Gnostus Encyclopedia

۱۸- انټروډکشن اف هسټري او مقدمد ابن خلدون – محمد خواجه اغاخان پوهنتون

۱۹- The Islamic Concept of knowledge Quarterly Journal of Islamic Thought and Culture, By Dr. W.S Akhtar

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com